Download from:aghalibrary.com

# د خپلي ځوانی

## ساتنه وکړئ!





لیکوال:
شیخ خمیس بن سعید محمد
ژباړونکی:
محمد ظاهر عمار



روغانیوال
خپرندویه ټولنه

بسم الله الرحمن الرحيم


## كتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د كتاب نوم | : | د خپلې ځوانۍ ساتنه وكړئ! |
| ليكوال | : | شيخ خميس بن سعيد محمد |
| ژباړن | : | محمد ظاهر عمار |
| خپرندوى | : | انصاف خپرندويه ټولنه - جلال آباد |
| كمپوز | : | پخپله ژباړن |
| چاپ كال | : | ۱۳۹۵ |
| چاپ شمېر | : | ۱۱۰۰ ټوكه |



د چاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي



د ترلاسه كېدو ځايونه

**روغانيوال كتاب پلورنځى**

اسحاقزى ماركېټ، لانديني پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان

اړيكشمېرې: ۰۷۹۴۰۰۴۰۲۹ - ۰۷۷۶۷۶۴۴۷۰

scanner:Abdulshukoor Ahmadi

## لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| د دویم چاپ سریزه | ۳ |
| د لیکوال خبرې | ۸ |
| بې حیایي ولې ډېره شوې؟! | ۹ |
| د تباهۍ اصلي لامل | ۱۰ |
| د دې کتاب د لیکلو مقصد: | ۱۱ |
| لومړی باب | ۱۳ |
| د مصیبتونو جرړه | ۱۳ |
| پیلیزه: | ۱۴ |
| بې دینه او باطل فکري مذاهب | ۱۵ |
| لومړی: سیکولرزم (Secularism) | ۱۶ |
| دوهم: کمیونېزم (Cummunism) | ۱۶ |
| د کمیونېزم نظریات: | ۱۷ |
| درېیم: ماسونیه (Freemason) | ۱۷ |
| د ماسونیانو اهداف: | ۱۸ |
| څلورم: کپیټالېزم یا سرمایه داري (Capitalism) | ۱۸ |
| پنځم: ډیموکراسي (Democracy) | ۱۹ |
| شپږم: غربي کول (Westernization) | ۱۹ |
| اووم: تجدید خوښونه (Modernization) | ۲۰ |
| اتم: صهیونېزم (Zionism) | ۲۰ |
| د صهیونېزم د مشرانو ځینې مشهورې خبرې: | ۲۰ |
| دویم فصل | ۲۲ |
| باطل مذاهب او له دین نه د مسلمانانو لرېوالی | ۲۲ |
| په اسلامي ټولنو کې جرمونه او جنسي را پارونې | ۲۳ |

# لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| لومړنی سبب: | ۲۳ |
| دوهم سبب: | ۲۳ |
| احساسات را پارول: | ۲۳ |
| په رچه او لمده کې فساد خپور شوی: | ۲۳ |
| د تلویزیون په اړه د امام ابن باز رحمه الله فتوا: | ۲۴ |
| یهودیانو ته د یهودي مشرانو نصیحت: | ۲۵ |
| ښځه په مطبوعاتو کې: | ۲۵ |
| د شعر، ادب او ناولونو حال: | ۲۶ |
| دویم باب | ۲۷ |
| هڅونه او وېرونه | ۲۷ |
| اول فصل | ۲۹ |
| د الله تعالی له وېرې د پاک لمنۍ غوره کولو فضیلت | ۲۹ |
| د پاک لمنۍ د فضیلت په اړه د قران کریم ایتونه: | ۲۹ |
| د پاک لمنۍ ګټې | ۳۰ |
| له کبیره ګناه نه ځان ساتل: | ۳۱ |
| د ښښتې وعده | ۳۲ |
| د جنت زېری | ۳۳ |
| د پاک لمنۍ غوره کولو په اړه مبارک حدیثونه: | ۳۳ |
| د عملونو د برکت له امله د دعاء قبلېدل: | ۳۴ |
| د جنت سودا: | ۳۵ |
| د یوسف علیه السلام د پاک لمنۍ کیسه | ۳۶ |
| د پاک لمنۍ غوره کولو حکم: | ۳۹ |
| دوهم فصل | ۴۰ |
| د پاک لمنۍ نه غوره کولو بدي او رټنه | ۴۰ |

لړلیک

موضوع | مخ
--- | ---


د پاک لمنی نه غوره کولو په اړه په قران کریم کې راغلي ګواښونه: ...... ۴۰
د پاک لمنی په نه غوره کولو نبوي ګواښونه: ...... ۴۲
د څو شپږو خوند: ...... ۴۳
درېیم باب ...... ۴۴
په هېڅ قیمت هم باید خپل عزت برباد نه کړو ...... ۴۴
پېلیزه: ...... ۴۴
لومړی فصل ...... ۴۶
له زنا نه ځان ساتنه ...... ۴۶
د زنا حرمت: ...... ۴۶
د زنا د حرمت په اړه راغلي حدیثونه: ...... ۴۶
د زنا سزا: ...... ۴۷
دوهم فصل ...... ۴۹
له لواطت نه ځان ساتل ...... ۴۹
په قران کریم او احادیثو کې د لواطت بدي ...... ۵۰
د لواطت دیني او دنیوي زیانونه: ...... ۵۱
۲ـ د اعصابو کمزوري کېدل: ...... ۵۲
۳ـ پر دماغو د لواطت بد اثر: ...... ۵۲
۴ـ د لوطي سړي تنده کله هم نه ماتېږي: ...... ۵۲
۵ـ اخلاق له منځه تلل: ...... ۵۲
د لواطت کوونکي سزا: ...... ۵۳
درېیم فصل ...... ۵۴
له ښاروېو سره له بد فعلۍ نه ځان ساتل ...... ۵۴
له ښاروېو سره د بد فعلۍ سزا: ...... ۵۴
څلورم فصل ...... ۵۶

## لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| له حیض او نفاس لرونکې ښځې سره کوروالی کول | ۵۶ |
| د ناپاکۍ پر مهال ښځې ته نږدې کېدل: | ۵۶ |
| له حائضې ښځې سره د یوځای کېدلو ډولونه: | ۵۷ |
| پنځم فصل | ۵۹ |
| له ښځې سره د شا له لورې کوروالی کول | ۵۹ |
| د دې ګناه د حرمت دلیل: | ۵۹ |
| شپږم فصل | ۶۱ |
| په لاس سره خپل شهوت پوره کول (استمناء) | ۶۱ |
| په لاس د شهوت پوره کولو زیانونه: | ۶۲ |
| ډېر استغفار ویل، ګناهونه لمنځه وړي: | ۶۳ |
| اووم فصل | ۶۴ |
| همجنس پرستي | ۶۴ |
| څلورم باب | ۶۵ |
| له حرامو لارو څخه د شهوت پوره کولو زیانونه | ۶۵ |
| لومړی فصل | ۶۶ |
| له حرامو لارو نه د شهوت پوره کولو اخروي زیانونه | ۶۶ |
| د مرګ سختي: | ۶۶ |
| د مرګ سفر: | ۶۷ |
| په جنازه وړلو کې باید ولې تادي وشي؟ | ۶۸ |
| قبر مړي ته زور ورکوي | ۶۸ |
| د قبر عذاب | ۶۹ |
| ګنهکاران به له الله تعالی سره خبرې نشي کولای: | ۷۰ |
| له حوض کوثر نه محرومېدل: | ۷۱ |
| په اور کې سوځېدل: | ۷۲ |

لړلیک

موضوع | مخ


د پل صراط سختي او اغزي: ............ ۷۲
د گنهکارانو په حق کې شفاعت کول: ............ ۷۴
دویم فصل ............ ۷۶
له حرامو لارو نه د خواهش پوره کولو زیانونه ............ ۷۶
د زړونو مهر: ............ ۷۶
د زړه توروالی او تیارې: ............ ۷۷
د گناهونو اغېزې: ............ ۷۸
عشق: ............ ۷۸
مجازي عشق او د هغې اسباب: ............ ۷۹
درېیم فصل ............ ۸۰
د بې حیایۍ روحاني زیانونه ............ ۸۰
د گنهکار انسان مثال: ............ ۸۰
د رزق تنگي: ............ ۸۱
څلورم فصل ............ ۸۲
د بې حیایۍ دیني زیانونه ............ ۸۲
د گناهونو ژوند خوښول: ............ ۸۲
تر ټولو بد خلک: ............ ۸۳
د زنا له وجې د ایمان نور ختمېږي: ............ ۸۴
غیرت له منځه تلل: ............ ۸۴
حیاء ختمېدل: ............ ۸۶
بد انجام: ............ ۸۷
پنځم فصل ............ ۸۹
د بې حیایۍ اخلاقي زیانونه ............ ۸۹
۱- په معاملاتو کې بد اخلاقي او کنځلې کول: ............ ۸۹

## لړليک

موضوع | مخ


۲- بې زړه توب ............ ۹۰
شپږم فصل ............ ۹۳
د بې حيايۍ دنيوي او تولنيز زيانونه ............ ۹۳
عذاب ............ ۹۵
په وچه او لمده کې فساد خپرېدل ............ ۹۶
هلاکوونکې وباء، مرګ او تکليفونه ............ ۹۷
د کورني نظام ختمېدل ............ ۹۸
د جرمونو ډېروالی ............ ۹۸
هيښوونکي خبرونه ............ ۹۹
اووم فصل ............ ۱۰۱
د بې حيايۍ رواني زيانونه ............ ۱۰۱
ګناه د خرابيو جرړه ده ............ ۱۰۲
مورولي خپه يو؟ ............ ۱۰۲
رواني ناروغ ............ ۱۰۳
اتم فصل ............ ۱۰۴
پر کورنيو د بې حيايۍ اغېزې ............ ۱۰۴
څه چې کرې، هغه به رېبې ............ ۱۰۴
له عبرت نه ډکه کيسه ............ ۱۰۵
اولاد ضايع کول ............ ۱۰۵
امن له منځه تلل او د چارواکو فاسد کېدل ............ ۱۰۷
د کورني سوکالۍ له منځه تلل ............ ۱۰۷
نهم فصل ............ ۱۰۹
پر بدن باندې د بې حيايۍ اغېزې ............ ۱۰۹
د جريان، اتشک او سوزاک ناروغۍ ............ ۱۱۰

## لړلیک

| موضوع | مخ |
|---|---|
| د اېډز بم: | ۱۱۱ |
| د اېډز په اړه یو راپور: | ۱۱۱ |
| پنځم باب | ۱۱۳ |
| درملنه | ۱۱۳ |
| پیلیزه | ۱۱۴ |
| اول فصل | ۱۱۶ |
| ریښتینې توبه | ۱۱۶ |
| د توبې شرطونه: | ۱۱۶ |
| له الله تعالی نه د هیلې لرلو ایتونه: | ۱۱۷ |
| شرک نه بښل کېږي: | ۱۱۸ |
| نهیلي کفر دی: | ۱۱۸ |
| د رسول الله صلی الله علیه وسلم استغفار: | ۱۱۹ |
| الله تعالی د بنده په توبې خوشحالېږي: | ۱۲۰ |
| ګناهونه په نېکیو بدلول: | ۱۲۱ |
| لیکل شوې بښنه: | ۱۲۲ |
| استغفار لازم دی: | ۱۲۳ |
| دویم فصل | ۱۲۴ |
| دعاء | ۱۲۴ |
| د دعاء فضیلت: | ۱۲۴ |
| دعاء تر ټولو غوره عبادت دی: | ۱۲۵ |
| د شپې وروستی برخه غنیمت وبوله: | ۱۲۶ |
| د دعاء اداب: | ۱۲۷ |
| د الله تعالی هغه اسم اعظم، چې له امله یې دعاء قبلېږي: | ۱۲۹ |
| وېره او هیله: | ۱۳۰ |

## لړلیک

موضوع | مخ


درېیم فصل ........ ۱۳۱
واده کول ........ ۱۳۱
د واده کولو فضیلت ........ ۱۳۲
واده د روحي ډاډ سبب دی ........ ۱۳۲
په واده کولو سره دین پوره کېږي ........ ۱۳۳
ځوک، چې پاک لمني غوره کړي، الله تعالی ورسره مرسته کوي ........ ۱۳۴
میندو او پلرونو ته یو نصیحت ........ ۱۳۵
کم مهر غوره دی ........ ۱۳۶
ځوانانو ته نصیحت ........ ۱۳۶
څلورم فصل ........ ۱۳۸
روژه نیول ........ ۱۳۸
د روژې فضیلت ........ ۱۳۸
شهوت ماتول ........ ۱۳۹
د روژې مکمله ګټه په څه ډول ترلاسه کېدای شي؟ ........ ۱۳۹
پنځم فصل ........ ۱۴۱
نظر ښکته کول ........ ۱۴۱
د نظر ښکته کولو حکم ........ ۱۴۱
نظر ښکته کول د مخ د نورانیت سبب دی ........ ۱۴۲
د نظر د حفاظت ګټې ........ ۱۴۳
شپږم فصل ........ ۱۴۵
سندرې اورېدل ........ ۱۴۵
سندرې اورېدل حرام دي ........ ۱۴۵
بېځایه خبرې اخیستل ........ ۱۴۶
په نبوي احادیثو کې د سندرو حرمت ........ ۱۴۷

## لړلیک

موضوع | مخ


د سندرو نومونه: ........ ۱۴۸
د حلالو او حرامو ترمنځ توپیر: ........ ۱۴۹
روا شعرونه: ........ ۱۴۹
اووم فصل ........ ۱۵۱
غلط فکرونه او خیالونه ........ ۱۵۱
ګناه هغه ده، چې په زړه کې نا ارامي پیدا کړي: ........ ۱۵۱
د شیطان یرغلونه: ........ ۱۵۲
غلط خیالونه ختمول: ........ ۱۵۴
شیطان په څه ډول د مسلمان پر زړه یرغل کوي؟ ........ ۱۵۴
شیطاني وسوسې په څه ډول له منځه وړل کېدای شي؟ ........ ۱۵۵
اتم فصل ........ ۱۵۶
له نېکانو سره ملګرتیا ........ ۱۵۶
له نېکانو سره د ناستې په اړه هڅونه: ........ ۱۵۶
ملګرتیا باید له کومو خلکو سره وشي؟ ........ ۱۵۷
نهم فصل ........ ۱۵۸
له نفس سره مقابله ........ ۱۵۸
مراقبه (څارنه): ........ ۱۵۸
په څلورو وختونو کې غفلت کول نه دي پکار: ........ ۱۵۹
د نفس محاسبه: ........ ۱۶۰
لسم فصل ........ ۱۶۴
د بې حیايي او ګناهونو علاج ........ ۱۶۴
۱- پرده: ........ ۱۶۴
۲- زینت (ښکلا) نه ښکاره کول: ........ ۱۶۴
۳- ښځه نه لمس کول او په لاس سره ستړي مشي ورسره نه کول: ........ ۱۶۴

## لړلیک

| موضوع | مخ |
|---|---|


۴ـ له پردې بنځې سره نه یوازې کېدل: ........ ۱۶۵
۵ـ بنځې ته له محرم نه پرته سفر نه کول ........ ۱۶۵
۶ـ بنځو ته د عطرو په لګولو سره له کوره نه وتل: ........ ۱۶۶
۷ـ بنځه باید ځپل غړي پورته نکړي ........ ۱۶۶
۸ـ د بنځو او سړو اختلاط (ګډوالی) ختمول: ........ ۱۶۷
کورونو ته له ننوتلو مخکې اجازه غوښتل: ........ ۱۶۸
یوولسم فصل ........ ۱۶۹
د دوزخ اور ........ ۱۶۹
د دوزخ د سختیو یادونه: ........ ۱۶۹
د دوزخ ژوروالی او ګرموالی: ........ ۱۷۰
د دوزخیانو خوراک او څښاک: ........ ۱۷۱
د زقوم ازغنه ونه: ........ ۱۷۱
دولسم فصل ........ ۱۷۳
د جنت نعمتونه ........ ۱۷۳
دنیا د اخرت پر وړاندې د یوې ذرې په اندازه هم ارزښت نه لري: ........ ۱۷۴
د جنتیانو خوراک څښاک: ........ ۱۷۵
کافور لرونکي شراب ........ ۱۷۵
د جنتیانو حال: ........ ۱۷۶
د تر ټولو ادنی جنتي مقام: ........ ۱۷۷
غټې سترګې لرونکې حورې: ........ ۱۷۷
د دنیا ښکلې بنځې هېڅ هم نه دي: ........ ۱۷۸

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سریزه

الحمدلله الذي أرسل رسوله بالهدی و دین الحق لیظهره علی الدین کله ولو کره المشرکون.

اما بعد:

څرنګه چې ځوانان د یوې ټولنې او ملت د ملا د تیر حیثیت لري؛ نو له همدې امله ده، چې د دوی فساد د ملت فساد او اصلاح یې د ملت اصلاح ده. اسلام هم د ځوانانو پاک لمنۍ او اخلاقو ته پوره توجه کړې ترڅو بشري ټولنې ته داسې یو نسل وړاندې کړي، چې مهذب او په اخلاقو سینګار ځوانان وي او د هغې د ویاړ او پرمختګ لامل شي.

خو د دې برعکس غربي نړۍ د ټول انسانیت او په ځانګړې توګه د ځوانانو د بې لارېو او بې بندوباریو لپاره ډېر وسایل په کار اچولي دي، د فکري مکتبونو له ګمراه کوونکو نظرونو څخه نیولې بیا تر سینما، تلویزیون، رادیو، تیاتر او نورو پورې ټول د همدوی په بې لارۍ پسې را اخیستې او د الله تعالی له دې ښېرازه نړۍ څخه یې جهنم جوړ کړی.

حقیقت دا دی، چې اوسمهال انسانیت له دې ډول وسایلو څخه نور پوزې ته راغلې او نور په دغه او هغه (ایزم) نه غولېږي او غواړي، چې د عدل او انصاف نظام ته پناه یوسي او له شک پرته، چې دا نظام یوازې اسلام کېدای شي او بس؛ خو د خواشینۍ ځای دی، چې تر اوسه لا مسلمانان په دې کار کې پاتې راغلي، چې اسلام د یوه بشپړ ژوند بنوونکي نظام په توګه لالهاندې نړۍ ته وړاندې کړي، ځکه چې دغه نظام تر اوسه په کتابونو پورې محدود دی او د مسلمانانو په عملي ژوند کې یې ریښې نه دي غځولې.

خو وایي، چې دنیا په امید خوړه شي؛ نو ان شاء الله، چې د مسلمانانو

لپاره دغه پېړۍ بېرته خپل پخواني برم او عظمت ته د ورګرځېدو پېړۍ ده او طبعا په دې که به د ځوانانو ونډه ډېره پراخه وي او دا هغه مهال، چې زموږ د هېواد ځوانان خپلې تعلیمي او فکري سویې لوړولو ته متوجه شي او د خپل شخصیت سالمه او اسلامي روزنه وکړي؛ نو ان شاء الله د دوی په لاس به په دې هېواد کې مثبت تغیر راشي.

زه هیله من یم، چې د محمد ظاهر عمار دغه ژباړه زموږ د ګران هېواد افغانستان ځوانانو ته ډېره ګټوره ثابته شي او همدارنګه د پښتو ژبې د لاغني کولو لپاره هم یو مثبت قدم وي، الله تعالی دې داسې قلمونه نور هم ډېر کړي.

د ګران ورور محمد ظاهر عمار دغه ځوان او تاند قلم دې الله تعالی لا پسې تاند لري، د هغه د نورو بریاوو په هیله.

استاذ عبدالرحیم صراف

جمعیت اصلاح دفتر، عبدالحق مېنه

جلال اباد

۱۳۹۱/۶/۷ لمریز

۱۴۳۳/۱۰/۲۲هجري

## د دویم چاپ سریزه

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله و علی اله وصحبه وسلم تسلیما کثیرا الی یوم الدین.

د خبرو تر پیل دمخه د هغه ستر ذات ستاینه پر ځان لازمه بولم، چې ماته یې د دې کتاب د ژباړلو او ترتیبولو توان راکړ او پیل هم د همغه ذات پر دې وینا کوم، چې فرمايي:

((نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾ وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَٰهًا ۖ لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾)) (الکهف: ۱۳.۱۲)

ژباړه: موږ د هغوی اصلي کیسه تاته اوروو، هغوی څو تنه ځلمیان وو چې پر خپل پروردګار يې ایمان راوړی و او موږ هغوی ته په هدایت کې پرمختګ ور په برخه کړی و، موږ د هغوی زړونه په هغه وخت کې محکم کړل، چې کله هغوی پاڅېدل او اعلان یې وکړ چې: زموږ رب خو یوازې همغه ذات دی چې د اسمانونو او ځمکې رب دی، موږ به له هغه پرته نور کوم معبودان ونه بلو، که موږ دغسې وکړو؛ نو بیخي بابېزه خبره به مو کړې وي.

حقیقت دا دی، چې ځواني د انساني ژوند هغه تر ټولو مهم پړاو دی، چې اسلام ورته ځانګړې پاملرنه کړې او د هغې ساتنه یې یو لوی مسؤولیت بللی، د قرانکریم په ډېرو ځایونو کې د ځوانانو ارزښت او د همدې په لاس د ټولنې بدلون ته اشاره شوې، لکه د سورت کهف په دې ایت کې:

((نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾))

ژباړه: موږ تاته په رېښتیا سره د دوی کیسه در اوروو او هغه دا، چې دا

ړله خلک هغه ځوانان وو، چې پر خپل رب یې ایمان راوړی و او موږ ورته هدایت کړی و.

په یوه بل ځای کې د ځوانۍ پر مهال د ابراهیم علیه السلام زړورتیا او په یوازې ځان له خپل قوم سره د هغه مبارزې ته اشاره کوي، فرمايي:

((قَالُوا مَن فَعَلَ هَٰذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ ۝ قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ ۝)) (الانبیاء: ۵۹، ۶۰)

ژباړه: (کافرانو، چې خپل بتان مات شوي او تیت او پرک ولیدل؛ نو ویې ویل) زموږ له خدایانو سره چا دا کار کړی دی، دا هرومرو ډېر ظالم دی. (ځینو پکې، وویل: موږ له یوه زلمي ځخه د دوی یادونه اورېدلې وه او هغه ابراهیم نومېږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د ځوانۍ د ارزښت بیانولو په ترڅ کې فرمايي:

(( لا تزول قدما العبد یوم القیامة حتی یسأل عن أربعة: عن عمره فیما أفناه، وعن شبابه فیما أبلاه، وعن ماله من أین اکتسبه وفیما أنفقه، وعن علمه ماذا عمل فیه.))

ژباړه: د قیامت پر ورځ به انسان تر هغې له ځمکې قدم پورته نکړای شي ترڅو، چې یې د دې څلورو پوښتنو ځواب نه وي ورکړی:

۱. دا چې خپل عمر یې په څه شي کې تېر کړی و؟

۲. دا چې خپله ځواني یې په څه شي کې برباد کړې وه؟

۳. دا چې مال یې له کومه ځایه لاس ته راوړی او په کوم ځای کې یې لګولی و؟

۴. دا چې پر خپل زده کړي علم یې څومره عمل کړی و؟))

له دې پرته نور داسې ډېر ایتونه او حدیثونه هم شته، چې د ځوانۍ پر ارزښت او ساتنه ټینګار کوي، ځکه همدا ځوانان دي، چې هم د ټولنې

اصلاح کوي او هم يې د فساد پر لوري بيايي، همدوی دي، چې ټولنې ورانوي او يا يې ابادوي، همدوی دي، چې د تاريخ په اوږدو کې يې د تمدنونو واګې په لاس کې اخيستې او بالاخره همدوی دي، چې په خپل ځانګړي شوق او ولولې سره يوناشونی کار په شوني کار بدلوي.

له همدې امله ده، چې د اسلام د تاريخ په اوږدو کې د اسلام دښمنان په دې هڅه کې وو او لا هم دي، چې مسلمان ځوانان او پېغلې له سمې لارې نه کږې ته واړوي او نړۍ ته د اسلام د پيغام د رسولو پرځای ترې د خپلو شومو اهدافو لپاره کار واخلي، د اسلام دښمنانو له مختلفو لارو هڅه کړې، چې خپل دغه مرام ته ورسېږي او په دې لار کې له هر ډول وسيلې نه کار اخلي؛ خو د مسلمانو ځوانانو او پېغلو د هغې فطري غرېزې را پارول ورته تر ټولو ډېر د پاملرنې وړ دي، چې انساني فطرت ترې انکار نشي کولای او هغه له مقابل جنس سره مينه او د هغه پر لور ميلان دی، چې الله تعالی د انسان په فطرت کې نغښتې او هغه يې پر ځمکه د انساني تمدن د بقاء وسيله ګرځولې.

اسلام د عيسوي منحرف رهبانيت په څېر د دې غرېزې ټکول او يو مخ ورڅخه انکار کول رد کړي او هغه فلسفه هم په کلکه ردوي، چې د دغې غرېزې پر مطلقې ازادۍ ټينګار کوي (لکه اوسنۍ غربي ډيموکراسي، چې يې وايي)، او دا دواړه مفکورې له انساني سالم فطرت سره په ټکر کې بولي، اسلام د دې غرېزې په اړه يوه درېيمه لاره غوره کړې او هغه دا چې دغه غرېزه بايد نه ډېره قيده او نه ډېره ازاده پرېښودل شي او هغه داسې، چې حلاله نکاح يې د دې غرېزې د اشباع او پر ځمکه د انساني نسل د بقاء لپاره د حل په توګه وړاندې کړې او دا همغه لاره ده، چې انساني سليم فطرت ورسره له پېړيو اشنا دی.

اوسنی غربي تمدن، چې د جنسي غريزې پر مطلقې ازادۍ ټينګار کوي او دغه ازادي د انسان مطلق حق بولي، غواړي، چې دغه ناولې

مفکوره په اسلامي امت کې هم ريښې وغځوي او د دغه کار لپاره د دوی ډېره توجه د اسلامي امت ځوانانو او پېغلو ته اوښتې ده ترڅو په بې مهاره جنسي غوښتنو او شهوتونه يې روږدي کړي، څکه دوی پر دې پوهېږي، چې د امتونو سرلوړي او ذلت په همدوی پورې تړل شوی دی. غرب د دې کار لپاره له مختلفو وسايلو کار اخلي لکه، راډيو، تلوېزيون، انټرنېټ کيبل، اخبارونو، مجلو، مهالنيو او نورو څخه.

خو د دښمن له لورې د دې ټولو شيطاني وسايلو له پراخه استعمال او عام کولو سره، سره بيا هم په دې امت کې د خير ځوانان او پېغلې شته او تر قيامته به پکې وي او نړۍ ته به د اسلام ژوند ښونکی پيغام ور رسوي او ښايي چې تل خپل ځوان نسل ته هيله من واوسو او د ثبات دعاء ورته وکړو.

دغه کتاب د ځوانۍ د ساتنې او حياء په اړه ليکل شوی او هغه لارې چارې هم پکې ښودل شوي، چې په ترسره کولو سره يې سړی په اسانۍ سره د حياء په جامه کې پټېږي او د بې حيايۍ له امله د رامنځته کېدونکو ناروغيو څخه په امن کې پاتې کېږي، په کتاب کې ځينې شرعي مسائل هم څېړل شوي چې نېغ په نېغه له حياء او د ځوانۍ له ساتنې سره اړه لري او له همدې امله ښايي، چې هر ځوان او پېغله دا کتاب مطالعه کړي او ګټه ترې واخلي.

له درانه استاذ عبدالرحيم صراف څخه نړۍ مننه کوم، چې له خپلو ډېرو مصروفيتونو سره سره يې زما دا کتاب وکوت او سريزه يې پرې وليکله، له الله تعالی نه ورته د بريا او اسلام ته د لا ډېر خدمت کولو غوښتنه کوم.

په همدې توګه د انصاف خپرندويې ټولنې له مسؤول ښاغلي غلام سخي روغانيوال نه هم مننه کوم، چې د کتاب ژباړې ته يې وهڅولم او دا دی تر لومړي ځل چاپ کېدو او خلاصېدو وروسته يې کتاب د

دوهم ځل لپاره په ښکلې بڼه چاپ کړ.

په پای کې د تل په څېر دا یادونه اړینه بولم، چې هېڅ انسان له سهوې او خطاء خلاص نه دی؛ نو که درنو لوستونکو ته د کتاب لوستلو پرمهال کومه غلطي په نظر ورشي، ترې هیله کوم، چې د اسلامي وروری له مخې ما ترې خبر کړي.

محمد ظاهر عمار

# د لیکوال خبرې

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا اله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله وبعد:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿١٠٢﴾
(ال عمران: ۱۰۲)

ژباړه: اى مؤمنانو! له الله تعالى نه داسې ووېرېږئ لکه څرنګه، چې له هغه نه دوېرېدو حق دى او تاسې ته دې مرګ رانشي، مګر په داسې حال کې، چې مسلمانان اوسئ.

يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴿١﴾ (نساء: ۱)

ژباړه: اى خلکو له خپل هغه رب نه ووېرېږئ، چې تاسې يې له يوه تن څخه پيدا کړئ او له هماغه تن څخه يې د هغه جوړه مېنځ ته راوړه او له دې دواړو نه يې په نړۍ کې ډېر نارينه او ښځې خواره کړل، له هغه خداى نه ووېرېږئ، چې د هغه په وسيله تاسې يو له بل نه خپل حقوق غواړئ اود خپلولۍ او پيوندونوله غوڅولو نه ډډه وکړئ، باور ولرئ، چې الله پر تاسې څارونکى دى.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾ (احزاب: ۷۱-۷۲)

ژباړه: اى مؤمنانو! له الله نه ووېرېږئ او سمه خبره کوئ، الله به ستاسې عملونه درسم کړي او ستاسې له ګناهونه څخه به درتېر شي او هر څوک، چې د الله تعالى او د هغه درسول اطاعت وکړي، هغه لوى

بریالیتوب ترلاسه کړ.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ارشاد دی، چې فرمايي:

((تر ټولو غوره کلام د الله تعالی کلام دی، تر ټولو غوره لارښوونه د محمد صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده، تر ټولو بد شی (په دین کې) نوي کارونه پیدا کول دي، هر نوی کار بدعت دی، هر بدعت گمراهي ده او هره گمراهي به په دوزخ کې وي.)) (مسلم)

**بې حیایي ولې ډېره شوې؟!**

نن سبا یوازې له دې امله په دنیا کې بې حیایي ډېره شوې، چې ښې ادم پاک لمنې پرېښې، زنا په عام ډول پر خلکو حکومت کوي او له زنا پرته د بل هېڅ شي دومره پیاوړی حکومت نشته تر دې، چې ځینې لا دا هم پکې وايي، چې نن سبا تر ټولو اسانه گناه زنا ده او له ښځو سره په ازاده توگه او یوازېتوب کې لیدل را لیدل او ټوکې کول؛ ټول جایز دي، نعوذ بالله.

هره ورځ وینو، چې ځوانان خپلې بڼيرې لنډوي او په ډېرې سپین سترگی سره د نجونو په لار کې ودرېږي او هغوی ځوروي. ((وقد خلعوا سربال الحياء)) یعنې دې خلکو له ځانه د شرم او حیاء جامه لرې غورځولې.

په همدې توگه ښځې هم وینو، چې کله له کوره راوځي؛ نو له پوره ډول او سینگار سره راوځي، تر ټولو خوږ عطر او ښکلې گاڼه استعمالوي او داسې ارایش یې کړی وي، چې د ناخبره سړي پام هم ور اوړي. حقیقت دا دی، چې دا ټول خرافات او نادودې له اروپايي هېوادونو نه زموږ اسلامي ټولنو ته را دننه شوي او ځای یې پکې نیولی، د کومو خلکو زړونه، چې له ایمان او حیاء څخه تش وو، دې خرافاتو ته یې په ورین تندي ښه راغلاست ووایه او هغه یې د خپل ژوند یوه برخه وگرځوله.

په اوسني زمانه کې چې وهونکې شهوت خلک داسې وړانده کړي، چې نه له الله تعالى نه وېرېږي او نه د دين څه پروا کوي، ځکه حقيقت دا دی، چې ځوک يو ځل د بې حيايۍ په ډنډ کې تر ستوني ډوب شي؛ نو د دين په شمول هيڅ شی هم نهويني او دا ځکه، چې سترګې يې ړندې دي.

کله چې خلکو دغه ډول خرافات قبول کړل؛ نو د هغوی ويده شهوت هم ورسره را ويښ شو او دې خلکو ته په کتو نور خلک هم د نفس او خواهش په فتنو کې مبتلا شول. له همدې امله کوم خلک، چې په زنا او دې ته ورته ګناهونو اخته دي او خپروي يې؛ نو دا دوه ګونې ګناه ده، يوه د هغوی خپله ګناه او بله د هغو خلکو، چې په دې ګناه کې اخته کېږي.

کاشکې، چې له خلکو نه د شهوت ړنده نشه لرې او هغوی له دې سرکښۍ نه منعه شي، ځکه شهوت د ټولو بديو جرړه ده.

**د تباهۍ اصلي لامل:**

که موږ او تاسې فکر وکړو؛ نو راته معلومه به شي، چې زموږ د ځوان نسل د تباهۍ اصلي لامل په شهوتونو کې ډوبېدل دي او افسوس دا دی، چې زموږ هغه نسل د تباهۍ پر لوري روان دی، چې ټولې دنيا ته د اسلام د رسولو ذمه واري په غاړه لري؛ مګر د دې پرځای، چې هغوی د کفر پر ځمکه د اسلام جنډه ودروي، کفري نړۍ زموږ پر ځمکو د کفر او ګناهونو جنډې درولې دي؛

که تاسې ټولنې ته وګورئ؛ نو د مسلمانانو د حالت په کتو به ژړا درشي، که بازار ته ولاړ شئ، د فاسقو نارينه وو او ښځو لښکرې به ووينئ او له ډېرې ژړا به مو ستونی وچ شي، معلومه ده، چې داسې ماحول ته په ورتلو سره يو پرهېزګار انسان ته هرو مرو د ګناه وسوسه په زړه کې ور پرېوځي او ګناه کول ورته اسانه کار ښکاري، نه بيا د

حياء پروا کوي او نه د اخرت له رسوايۍ وېرېږي.
زموږ په ټولنه کې داسې خلک ډېر زيات دي، چې په ښکاره بربنډ فلمونه ګوري او ځينې نور يې بيا د خلکو له سترګو پټ ګوري؛ خو هغه بېچاره پر دې پوه نه دی، چې لوی رب يېويني.
په ټولنه کې داسې مجلې او رسالې عامې شوي، چې د حياء او اخلاقو ټولې پولې يې ماتې کړي او د ژړا خبره خو دا ده، چې دا هر څه زموږ د سترګو ترمخه او په اسلامي ټولنه کې ترسره کېږي.
همدا شهوت دی، چې زموږ د ځوانانو له عقل سره لوبې کوي، داسې لکه يو ماشوم، چې له فوټبال سره لوبې کوي تر دې، چې په ځينې اسلامي هېوادونو کې د زنا د قانوني کولو هڅې روانې دي او ګډا او سندرو ته خو لا دمخه جواز ورکړل شوی دی او د جنسي بې مهاره اړيکو داسې نمونې تر سترګو کېږي، چې له امله يې داسې لاعلاجه مرضونه را پيدا شوي، چې طب يې هم له درملنې عاجز دی.

**د دې کتاب د ليکلو مقصد:**

همدې ګناهونو او ناخوالو ته په کتو سره مې لږ تر لږه د هغو د دروازې بندولو په نيت دا کتاب وليکه، په کتاب کې مې يوازې هغه حديثونه ذکر کړي، چې محدثينو يې صحت قبول کړی او د هغو حوالو ته مې هم پاملرنه کړې، ځکه په قران کريم او نبوي احاديثو کې د دې امت د دنيا او اخرت خير او کاميابي ده او له دې دواړو نه مخ اړول؛ په دنيا او اخرت کې د بدمرغۍ او ناکامۍ سبب ګرځي.
دا کتاب زما له لورې مسلمانانو ته يوه ډالۍ ده؛ نو له لوستونکو هيله کوم، چې تر لوستلو وروسته يې ما په خپلو دعاګانو کې ياد کړي او زه هم له الله تعالی نه سوال کوم، چې زما دا هڅه يوازې د خپلې رضاء لپاره وګرځوي او راشخه يې قبوله کړي. په دې کتاب کې، چې کومه خبره حق ته نږدې وي، هغه د الله تعالی له لورې او که کومه خبره غلطه

وي؛ نو هغه زما او د شيطان له لورې ده، الله تعالى دې زما ګناهونه وبښي.

وصلى الله تعالى على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه وسلم تسليما كثيرا إلى يوم الدين والحمدلله رب العلمين.

خميس بن سعيد محمد

## لومړی باب

### د مصیبتونو جرړه

**پیلیزه:**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت نه مخکې د خلکو ژوند له تیارو، جهالت، ظلم او سرکښۍ نه ډک و، خلک په خرافاتو کې ډوب وو او الله تعالی یې یوازې د نوم تر حده پېژانده، دا د هغو عربو حال و، چې په هغوی کې د مخکینیو انبیاوو د برکت له امله څه ناڅه دین پاتې و؛ خو هغوی سره له دې هم په فسق او فجور کې اخته وو، په داسې حال کې، چې عجم د ځمکې پر سر تر ټولو بد خلک وو؛ خو موږ غواړو دلته یوازې د اسلام د ځمکې په اړه خبرې وکړو، هلته، چې وحې نازله شوې وه.

شرک او بت پرستي د عربو دین او عقیده ګرځېدلې وه، هغوی داسې فکر کاوه، چې الله تعالی تر ټولو لوی معبود او د ځمکې او اسمان پیدا کوونکی دی؛ خو له دې سره سره یې نور شیان هم په خدایۍ نیولي وو، ځینو به د پیریانو، ځینو د پرېښتو، ځینو د ستورو او ځینو نورو به نور شیان معبودان ګڼل او د هغوی عبادت به یې کاوه، شراب څښل او زنا کول په هغوی کې عام رواج ګرځېدلی و تر دې، چې زنا یې هیڅ بده نه ګڼله او د سړي، چې به کومه ښځه خوښه شوه، هغه به یې له نکاح پرته خپله ملګرې کړه او په همدې توګه د ښځې، چې به کوم سړی خوښ شو، له نکاح پرته به یې له هغه سره شپې او ورځې تېرولې، دا ځکه، چې دې خلکو د خپلو نفسونو پیروي پیل کړې وه.

د ځمکې مخ له ظلم او فساد نه ډک شوی و؛ خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت نه وروسته ځمکه له عدل، ایمان او نور نه ډکه شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم، چې د الله تعالی عبادت ته د خلکو په رابللو کې کومې ستونزې ګاللي دي، موږ یې تصور هم نشو

کولې؛ خو وروسته همدا سرکښه خلک ډلې ډلې اسلام ته داخل شول او له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته همدا خلک ټولې نړۍ ته د اسلام د ژوند ښېونکي پیغام رسوونکي وګرځېدل، تهجد کوونکي او د عبادت میدان شول او اسلام سرلوړی او عزتمن شو؛ خو څومره، چې وخت تېرېده او مسلمانان د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارې نه بلې ته واوښتل؛ نو په مسلمانانو کې فتنې را پورته شوې، خلکو ورو ورو دین پرېښود او دا هغه څه وو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له پېښېدو وېره درلوده.

وروسته تر دې، چې په دې امت کې فتنې را ولاړې شوې او خلک له دین نه لرې شول؛ نو دښمنانو ته ښه موقع په لاس ورغله او هغوی له هرې لارې نه د مسلمانانو د ګمراه کولو هڅې پیل کړې؛ خو د کومو خلکو په زړونو کې، چې ایمان رېښې کړې وې، هغوی د دې فتنو او ګمراهیو د مقابلې لپاره را پورته شول او په دې لار کې یې هر ډول ستونزې وزغملې تر دې، چې ځینې پکې شهیدان هم شول.

له همدې امله موږ ته هم پکار ده، چې د دښمن مقابلې ته را پورته شو او هغه داسې، چې هر مسلمان ریښتینی مسلمان شي او د دې دین لپاره له خپلو سرونو نه تېر شي، لکه څرنګه، چې لومړني مسلمانان له خپلو سرونو نه تېر شوي وو، ځکه نو موږ دا کتاب د هغه چا لپاره لیکلی دی، چې له دې فتنو نه وتل غواړي؛ خو د وتلو لاره ورته معلومه نه ده.

## بې دینه او باطل فکري مذاهب

کله چې مسلمانان د الله تعالی له دین نه لرې شول؛ نو په مصیبتونو او فتنو کې اخته شول او د دې فتنو او مصیبتونو تر ټولو لوی لامل بې دینه او باطل مذاهب دي، ځکه کله چې مسلمانان له الله تعالی او دین نه لرې شول، په کمین کې ناستو دښمنانو ته د دوی د ګمراه کولو ښه موقع په لاس ورغله.

د هغوی تر ټولو لوړی هدف د مسلمانانو ځوانان او پېغلې ګمراه کول دي، ځکه همدا ځوانان دي، چې په هر ډګر کې تر هر چا مخکې وي، که څه هم، چې په مسلمانانو کې ځینې داسې خلک هم شته، چې ایمان یې په زړونو کې ټینګ شوی؛ خو دښمنانو د دې ورې ډلې د هڅو هیڅ پروا ونه کړه او د اسلامي امت د ځوانانو او پېغلو په ګمراه کولو یې لاس پورې کړ.

که دښمنانو په ښکاره توګه له مسلمانانو سره د جنګ اعلان کړی وای؛ نو پرته له شکه، چې د مسلمانانو له نارینه وو او ښځو سربېره به ماشومان هم د هغوی پر خلاف را پورته شوي وای؛ خو غم دا دی، چې دښمن د پټو او نه احساسېدونکو چلونو له لارې خپل کارونه مخ ته وړي او له بله پلوه په مسلمانانو کې یووالی هم نشته او له همدې امله دښمن ته د هغوی بربادول ډېر اسانه کار دی.

حقیقت دا دی، چې دا ټول باطل مذهبونه او نظریې پر دې لګیا دي، چې په څه طریقې سره مسلمانان له دین نه لرې کړي؟؛ په ښکاره توګه د دې مذاهبو نومونه او نښې یو له بل نه بېلې ښکاري؛ خو په حقیقت کې د ټولو هدف یو دی او هغه دا، چې مسلمان له دین نه لرې شي، اخلاق یې برباد شي او له الهي نور نه بې برخې پاتې شي.

له همدې امله موږ دلته یوازې یو څو مشهور باطل مذاهب او مفکورې د نمونې په توګه یادوو.

## لومړی: سیکولرزم (Secularism)

سیکولرزم یو پر دین نه ولاړ فکري مذهب دی او شعار یې دا دی، چې دین باید په هیڅ ډول په انساني ژوند کې کار ونه لري. لوی اسلامي مفکر محمد قطب حفظه الله فرمایي: سیکولرزم دیندار سړی بې دینه کوي او دا، چې ښه اخلاق په دین کې لوړ مقام لري؛ نو له همدې امله سیکولرستان کوښښ کوي، چې انسان له دین نه لرې او په دې توګه له ښو اخلاقو نه هم بې برخې پاتې شي، سیکولرستان دا غواړي، چې په انسان کې ښه اخلاق او حیاء له سره پاتې نشي او په دې توګه ښځې او سړي حیوانیت ته ور ټېل وهل شي او د حیواناتو په څېر ژوند وکړي، داسې، چې نه یې څوک د حیوانیت مخنیوی وکړی شي، نه کومو اخلاقي اصولو ته پابند وي او نه د دین پروا څه ولري او د دې وروستۍ پایله دا شي، چې دا خلک بیا د الله تعالی له وجود نه هم انکار کوي؛

سیکولرستان ماده پرست خلک دي او ماده د انساني ژوند اساس ګڼي او همدا یې عقیده ده، دا مذهب او فکري مکتب اوسمهال په اروپا، امریکا، مصر، هندوستان، الجزایر، تیونس، ترکیه، عراق، شام، افریقا او اندونیشیا کې په عام ډول خپور دی.

## دوهم: کمیونیزم (Cummunism)

کمیونیزم یو فکري مذهب دی، چې خلک الحاد یعنې له الله تعالی نه انکار ته را بولي، د دې مذهب اساس هم پر ماده پرستۍ ولاړ دی او ملحدین یوازې هغه څه ته حق وایي، چې د دوی د مذهب تائید کوي.

علامه محمد حسین رحمه الله فرمایي:

((ان دعوتهم اى الشيوعية تنزل بالنوع البشري الى الحيوانية.))

ژباړه: د کمیونیستانو دعوت او هدف دا دی، چې له انسان نه حیوان جوړ شي، ځکه دا مذهب د انسان پرځای د هغه له مادي سره خبرې کوي او دا ځکه، چې د دوی په اند د انسان ماده حیواني ماده ده. (الاسلام والحضارة الغربية)

ډاکټر علي وايي: د کمیونېزم هدف په هر ځای کې د سړي او ښځې بې قید او شرطه اختلاط دی تر دې، چې د حیوانیت درجې ته ښکته شي، لکه څرنګه، چې په اروپایي هېوادونو کې د ازادۍ په نوم همدا کار ترسره شو.

**د کمیونېزم نظریات:**

د کمیونېزم تر ټولو لومړی عقیده دا ده، چې د الله تعالی له ذات او هر غیبي شي نه، چې په سترګو نه لیدل کېږي؛ باید انکار وشي، دوی ماده د انسان اساس ګڼي او له هر ډول دین نه سوچه انکار کوي، کمیونیستان له اخلاقو او د خپلوۍ له اړیکو نه منکر دي او د دې پرځای ازادې جنس پرستۍ ته قایل دي او غواړي، چې د جوماتونو او کلیساوو پرځای د بې دینۍ او فحاشۍ د خپرولو اډې جوړې کړي.

**دریم: ماسونیه** (Freemason)

ماسونیه یو پټ یهودي تروریستي تنظیم دی، چې خلک الحاد او فساد ته را بولي، دا تنظیم د فاحشو جاسوسو ښځو د پراخ استعمال له امله ډېر خطرناک تنظیم دی.

ډاکټر عبدالرحمن عمیره وايي: د ماسونیه تنظیم له نظره ښځه یوه ماندینه، مور، خور یا د کور ښځه نه ده، بلکې هغوی ښځه د انساني ژوند د تباه کولو یوه وسیله بولي، هغوی ښځې ته د یوې داسې پیاوړې وسلې په سترګه ګوري، چې سړی پرې ښکار کېدای شي او د

هغوی له عقل سره پرې لوبې کوي، له همدې امله ماسونیه تنظیم داسې مراکز برابر کړي دي، چې فاحشې ښځې پکې روزي او سړي هم پکې په ازاد ډول خپل خواهشات پوره کولای شي.

**د ماسونیانو اهداف:**

۱- ښځې او سړي ته د انتهايي بېهوده ژوند تېرولو بلنه ورکول.

۲- ښځې او سړي ته دا موقع برابرول، چې په ازاده توګه خپل شهوتونه پوره کړي او نکاح ته يې هېڅ اړتيا پاتې نشي.

۳- اخلاق له منځه وړل او پاک لمنۍ او حياء ته په سپکه سترګه کتل.

لږه دا، چې دا تنظيم تقريبا په ټوله نړۍ کې خپور دی او د برلاسو مطبوعاتو، ورځپاڼو او مجلو په واسطه خپل اهداف پوره کوي.

(الوسوعة الميسرة)

**خلورم: کپيټاليزم يا سرمايه داري** (Capitalism)

دا يو اقتصادي- سياسي نظام دی، چې د هر فرد لپاره د شتمنۍ پر شخصي ملکيت قايل دی او د فرد د ازادۍ شعار يې پورته کړی او له همدې امله يې دنياوالو ته ډېر زيان اړولی دی.

علامه سيد قطب رحمه الله فرمايي: سرمايه دارانه نظام د انسان اخلاق او ضمير دواړه تباه کوي او په دې سره په ټولنه کې فساد خپرېږي، دا نظام داسې افراد او خلک غواړي، چې ډېره شتمني ولري او لا پسې زياته شي او ټول وخت په خوندونو کې تېر کړي او له بله پلوه هغه غواړي ک: خلک لاپسې خوار او غريب شي، چې د خپلو خولو په زور ځان ته ودۍ پيدا کوي.

شيخ متشار علي وايي: نوموړی نظام معنوي او روحي قوانين کمزوري کوي او مادي قوانينو ته لاپياوړتيا وربښي او يوازينی هدف يې دا دی، چې د انسان د ژوند مقصد بايد له هرې روا او ناروا لارې شتمني پيدا کول وي او بس.

### پنځم: ډيموکراسي (Democracy)

د دې مفکورې او مذهب شعار دا دی، چې د حکومت واک بايد د عوامو په لاس کې وي او د دې مفکورې بنياد د ټولو وګړيو ترمنځ پر برابرۍ او فردي ازادۍ ولاړ دی.

ډاکټر سعيد عبدالعظيم وايي: د دې نظام پلويان له حده زيات د انسان فردي ازادۍ ته قايل دي، هغه داسې، چې که يو سړی او ښځه په خپله خوښه زنا وکړي؛ نو د دوی له انده هغوی ته بايد سزا ورنکړل شي، د هغوی له نظره دين يوه شخصي مسئله ده، ځکه نو هغوی مسلمان او کافر ته په يوه سترګه ګوري او د هغوی دواړو ترمنځ هيڅ توپير نه کوي.

له همدې امله کوم سړی، چې ږيره پرېږدي او کومه ښځه، چې حجاب اغوندي؛ دوی ورته د بنسټپالو او وروسته پاتې خلکو په سترګه ګوري.

په ډيموکراسۍ کې داسې څه نشته، چې د دين او حياء پابندي پکې وي؛ بلکې په دې نظام کې انسان ته پوره واک ورکول کېږي، چې په هر ډول، چې يې غوښتي وي، ژوند تېرولای شي او دا همغه نظام دی، چې د ښځو د ازادۍ او حقوقو درواغجن شعار يې هم پورته کړی.

### شپږم: غربي کول (Westernization)

ډاکټر سليمان وايي: غربي کول دې ته وايي، چې سړی اسلامي خاوره پرېږدي او د غربي هېوادونو پر لور مخه کړي، قوانين او دود دستور يې خپل کړي او د هغه ځای له بې مهاره شهواني او جنسي خوندونو نه برخمن شي او همدا لامل دی، چې غربيان په پوره کوښښ سره غواړي، چې د مسلمانانو ترمنځ د غرب خوښونې او غربي کېدنې مفکوره خپره کړي.

**اووم: تجدید خوښونه** (Modernization)

شیخ عائض القرني وايي: تجدید خوښونه یو فکري او غربي مذهب دی، چې په غرب کې را ټوکېدلی او ترهغې وروسته اسلامي هېوادونو ته انتقال شوی دی.

عربو تجدید خوښوونکو ډېره هڅه وکړه، چې د اسلام له تاریخ څخه د دغې مفکورې لپاره دلیل پیدا کړي او دا ښکاره خبره ده، چې فاسقان د دې مفکورې د ثابتولو هڅه کوي، دوی وايي کوم خلک، چې د دوی خبره ومني، هغه ښه او معاصر خلک دي، که څه هم، چې زنا کوي، شراب څښي او یا کومه بله ګناه کوي او بله دا، چې دوی غواړي دیني او اسلامي ثقافت ته په ځان منسوبولو سره خپل اهداف پوره کړي، نن سبا دا مذهب تقریبا په ټولو اسلامي هېوادونو کې خپور دی.

**اتم: صهیونېزم** (Zionism)

د صهیونېزم د نوم نسبت په بیت المقدس کې یوه غر ته کېږي، چې (صهیون) نومېږي او دا یو داسې تحریک دی، چې مقصد یې په فلسطین کې د یوه خپلواک یهودي دولت جوړول دي ترڅو په دې توګه پر مسجد اقصی او خیالي (سلیماني هیکل) قبضه وکړي.

نن سبا، چې په نړۍ کې د اسلام پر خلاف څومره دسیسې کېږي، هغه ټولې په یوه نه یوه طریقه له دې تنظیم سره اړیکې لري.

د صهیونیت تر ټولو لوی هدف په ټوله نړۍ کې فساد او فحشاء خپرول او د اسلام جرړې له منځه وړل دي او د دې کار لپاره له فاحشو ښځو نه د وسلې په توګه کار اخلي.

**د صهیونېزم د مشرانو ځینې مشهورې خبرې:**

۱- یهودیان د ټولې نړۍ سرداران او حقداران دي.

۲- ښه اخلاق لرونکی کس (یهودی) باید له سیاست سره هیڅ اړیکې ونلري.

۲- موږ باید یوازې خپل هدف ته د رسېدو لپاره د خیر ښېګڼې کارونه وکړو، نه په بل نیت.

له دې پرته دوی په پوره کوښښ سره غواړي، چې یهودیت په ټوله نړۍ کې خپور کړي او د دې کار لپاره یې د خپلو مفکرینو لپاره ځانګړي مرکزونه هم جوړ کړي دي.

دويم فصل

## باطل مذاهب او له دين نه د مسلمانانو لرېوالی

دا موضوع هم د تېرې شوې موضوع يوه برخه ده او هغه دا، چې کله چې مسلمانان له الهي دين نه لرې شول؛ نو د دې باطلو مفکورو او مذاهبو د دسيسو ښکار شول.

موږ به دلته د هغو اسبابو په اړه خبرې وکړو، چې په استعمال سره يې ځان پخپله تباه کوو، مسلمانانو ته پکار وه، چې دا ټولې فتنې يې له منځه وړې وای؛ خو مصيبت دا دی، چې دا فتنې ورو ورو د توړې شپې په څېر را خپرې شوې او اوس مسلمانان په دې نه پوهېږي، چې په څه ډول له دې فتنو نه ځان خلاص کړي، ځکه دښمنانو په اسلامي هېوادونو کې داسې اسباب برابر کړي دي، چې له دې فتنو نه ځان بچ کول ډېر ګران کار دی. که ته په کور کې يې او که له کوره بهر، له هر لوري به د سندرو غږونه اورې، زموږ يوه جامه او يو شی هم له تصوير نه تش نه دی، تر دې، چې نن سبا زموږ په اسلامي کتابونو کې هم تصويرونه تر سترګو کېږي. اوس نو له دې فتنو نه يوازې هغه څوک بچ کېدای شي، چې پر الله تعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم پوخ ايمان ولري او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له سنتو سره سم ژوند تېر کړي.

ای مسلمانانو! حقيقت دا دی، چې ستونزه ډېره خطرناکه شوې او موږ او تاسې يې يوازې د دين په مرسته مقابله کولی شو، ځکه زموږ او ستاسې کاميابي او نجات په اسلام او د رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو رضي الله عنهم په تګلاره خپلولو کې دی.

## په اسلامي ټولنو کې جرمونه او جنسي را پارونې

شیخ انور الجندي رحمه الله فرمايي: نن سبا، چې په نړۍ کې دا دومره ډېره جنس پرستي خپره شوې، د هغې لاملونه دوه دي:

**لومړنی سبب:**

د یهودو له لوري جوړ شوي نړیوال قوانین، چې هغوی یې ټول ملتونه په منلو مجبور کړي او له دې امله د مسلمانانو ځوانان د تباهۍ ښکار شوي.

**دوهم سبب:**

د شخصي ازادۍ اصول او قوانین خپرول، چې په عملي کولو سره یې سړي په ګناه کې اخته کېږي او د همدې په وجه د مسلمانانو ځوان نسل په عملي توګه ګناهونو ته ور ټېل وهل شوی دی.

د دې قوانینو په عملي کولو سره انسان د حیوانیت درجې ته ښکته کېږي او هغه داسې، چې د دې قوانینو له مخې سړی له سړي او ښځه له ښځې سره واده کولی شي او د شرعي واده اصول د دې قوانینو له مخې یکاره ګڼل کېږي او تر پښو لاندې کېږي او په دې توګه زموږ ځوان نسل او ټولنه د فساد کندې ته پرېوځي.

**احساسات را پارول:**

دا باطلې مفکورې او مذاهب په مختلفو طریقو سره انساني احساسات او شهوتونه را پاروي، لکه په سندرو، ګډا، لوڅو عکسونو او فلمونو او نورو سره، مخکې به د انسان احساسات د خیر د کارونو لپاره استعمالېدل؛ خو اوس د انساني ژوند د بربادولو لپاره را پارول کېږي، له همدې امله باید ووایو، چې سندرې، ګډا او لوڅ عکسونه او فلمونه یو خطرناک او هلاک کوونکی مرض دی.

**په وچه او لمده کې فساد خپور شوی:**

استاذ محمد حسین رحمه الله فرمايي: د مسلمانانو د ګمراه کولو هڅې

تقريبا په ټولو اسلامي هېوادونو کې رواني دي او د جسماني ناروغيو له خپرېدو سره سره زموږ د عقل او هوش د له منځه وړلو بې درېغه کوښښونه هم په لاره اچول شوي دي.
زموږ د خوراک او څښاک تقريبا ټول شيان د دښمن له هېوادونو نه راوړل کېږي، په ورځپاڼو او مجلو کې د ګډېدونکو ښځو، په نوم هنرمندانو او مشهورو ښځو لوڅ عکسونه عام شوي، کله د ښکلا د سيالۍ د ګډون کوونکو نجونو او کله د حسن او جمال د ملکې لوڅ عکسونه خپرېږي او د دې ټولو کارونو هدف دا دی، چې زموږ ځوان نسل شهوت پرست وروزل شي او له همدې امله ده، چې نن سبا ټولې ورځپاڼې او مجلې له لوڅو عکسونو او خبرونو نه ډک دي.
(الاتجاهات الوطنية في الادب المعاصر)

**د تلويزيون په اړه د امام ابن باز رحمه الله فتوا:**
علامه ابن باز رحمه الله فرمايي: تلويزيون له سينما نه هم ډېر خطرناک شی دی، موږ ته چې د تلويزيون په اړه کوم معلومات را رسېدلي، له هغې نه دا نتيجه راوځي، چې تلويزيون د مسلمانانو د اخلاقو او د ټولنې د بربادۍ لوی سبب دی، ځکه په هغې کې له اخلاقو نه تشې خبرې خپرېږي او لوڅ عکسونه پکې ښودل کېږي، کفري الفاظ پکې استعمالېږي او اسلام او مسلمانانو ته پکې سپکې سپورې ويل کېږي؛ نو په کوم شي کې، چې دومره ډېرې خرابۍ موجودې وي، د هغې کتل به څنګه جائز وي؟!
ځينې خلک دا ګومان کوي، چې که تلويزيون په ښه توګه استعمال شي؛ نو سړی يې له نقصانونو بچ کېدلی شي؛ خو دا خبره بېخي غلطه ده، ځکه تلويزيون ته کتونکی په غفلت کې واقع وي او نن سبا، چې خلک په تلويزيون کې څه ويني، همغه شی کټ مټ عملي کوي او بله دا، چې نن سبا ايمانونه هم کمزوري شوي دي؛ نو خلک به څنګه له

دې نقصانونو ته يې پاتې شي؟!

**يهوديانو ته د يهودي مشرانو نصيحت:**

څه موده وړاندې په يوې يهودي ورځپاڼه کې دا خپور شوی و، چې درېيو تنو يهودي مشرانو له يهوديانو نه غوښتني و، چې کوښښ دې وکړي، چې خپل تلوېزيونونه په ارزانه بيه پر عربو خرڅ کړي، ځکه د هغې له امله انسان په ډېرو بديو اخته کېږي.

په يوې بلې اسرائيلي ورځپاڼې (معاريف) کې په ۱۹۸۸ ميلادي کال دا خبر خپور شوی و، چې که يهودو له تلوېزيون نه خلاصی وموند؛ نو جنت ته به ولاړ شي!!!

**ښځه په مطبوعاتو کې:**

مطبوعات په لاندې مختلفو طريقو او شعارونو سره له ښځې نه کار اخلي:

۱- د ښځو د حقوقو او ازادۍ دروغجنه ډنډوره غږوي.

۲- ښځه د سينما، ستېج او راډيو ښايست بولي.

۳- د ښځو او سړو ازادانه اختلاط (ګډوالی) او يو له بل سره مشابهت ته بلنه ورکوي.

۴- د حمل مخه نيوونکو دواګانو پراخ خپراوی کوي او په دې توګه ښځې ګناهونو ته را بولي.

۵- تر ټولو خطرناکه خبره دا ده، چې ښځې ته په مطبوعاتو کې د هنرمندۍ، سندرغاړۍ او اداکارۍ په نوم شهرت ورکول کېږي او په دې توګه نورې ښځې په لباس، خوراک څښاک او کړو وړو کې د هغوی پيښې کوي.

۶- ښځه او خاوند يو د بل له حقوقو نه غافلوي.

۷- هغه علماء تر نيوکې لاندې نيسي، چې د ښځو لپاره د هغوی کورونه غوره ځايونه ګڼي.

٨. مطبوعات خپل ځان د ښځو خير غوښتونکي بولي او د ښځو د ازادۍ لپاره پوره هڅه کوي، په داسې حال کې، چې دا خلک د ښځو دښمنان دي او هغوی د جهنم پر لور دعوت کوي. (دعوة الحجاب)

**د شعر، ادب او ناولونو حال:**

ډاکټر محمد حسين رحمه الله فرمايي: نن سبا د شعر او ادب حالت دومره بدل شوی، چې خلک اشعارو ته رومانس (يوه غربي اصطلاح ده) وايي او د هغې له لارې د خپل زړه مرضونه، شهوتونه او خواهشات بيانوي او په نني عصر کې دا خبره هم عامه شوې او بده نه ګڼل کېږي، چې شاعر د ادب ټولې پولې ماتې کړي او په شعر کې د خپل شهوت لوړه بيان کړي.

له بله پلوه نن سبا د کيسه او ناول ليکونکو لومړنی هدف دا دی، چې په څه ډول د اسلامي شعايرو سپکاوی وشي، ځکه همدا اسلامي شعاير دي، چې سړی له فحشا او بد اخلاقۍ نه منعه کوي.

د نن سبا دکيسو او ناولونو لويه برخه پر دې خبره راڅرخي، چې هلک او نجلۍ په څه ډول ځان ته ملګری پيدا کولای شي، په اصطلاح هنرمندان څه ډول خبرې کوي، کوم ډول لباس اغوندي او له څه شي سره مينه لري او د همدې کيسو او ناولونو له لاسه زموږ ځوان نسل دې ځای ته رارسېدلی، چې که اسلامي شعايرو ته سپکاوی کېږي؛ نو دوی د هغې پر خلاف د غږ او چټولو پرځای وايي، چې موږ هم بايد د نورو پرمختللو خلکو په څېر ازاد ژوند ولرو او هر څوک بايد په ازاد ډول خپل نظر څرګند کړي!

**دویم باب**

## هڅونه او وېرونه

په دې باب کې دوه فصلونه دي، په لومړي فصل کې يې د هغو خلکو فضيلت بيان شوی، چې د الله تعالی له وېرې پاک لمنې غوره کوي او له ګناه نه ځان ساتي. په دوهم فصل کې د هغو خلکو بدي او رټنه بيان شوې، چې پاک لمنې پرېږدي او ځان په ګناهونو کې اخته کوي.

د انسان نېکمرغي په دې کې ده، چې د دين پر لاره روان شي او د الله تعالی قانون او شريعت ته غاړه کېږدي او په شريعت کې دوه خبرې دي: يو امر (د يوه شي حکم کول) او بل نهې (له يوه شي نه منعه کول).

ځکه الله جل جلاله فرمايي:

((وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝.))

ژباړه: څه چې پيغمبر تاسې ته درکوي، هغه واخلئ او له څه شي نه، چې هغه تاسې منعه کوي، له هغه نه منعه شئ او له الله نه ووېرېږئ، الله سخت سزا ورکوونکی دی.

که د هغه مسلمان په مخ کې، چې په شريعت عمل کوي؛ د جنت يادونه وشي؛ نو ټولې دنيوي چارې پرېږدي او د الله تعالی لور ته متوجه کېږي ترڅو هغه هم د جنت په قافله کې شامل شي. په همدې توګه که دمؤمن په مخ کې د دوزخ د اور او عذابونو يادونه وشي، وربښته يې زېږېږي، له سترګو نه يې اوښکې بهېږي او په عبادت کې يې زياتوالی راځي او د چا د هڅونې او له دوزخ نه د وېرولو نتيجه بايد همدا وي، چې هغه بنده له الله تعالی نه هيله ولري او له دې سره سره ترې ووېرېږي.

طبيعي خبره ده، چې د جنت او درزخ په يادونې سره زړه اغېزمن کېږي

او پرسیده لاره برابرېږي او دا هغه زړه دی، چې له ایمان نه ډک وي؛ نو سمدستي د الله تعالی لور ته متوجه کېږي.

موږ ته هغه خبره معلومه ده، چې له امله یې یو انسان له کوښښ سره سره پر نېغه لاره نه برابرېږي او هغه خبره دا ده، چې د انسان زړه د دنیا له مینې نه ډک وي او کله چې جنت ته د تللو په هیله اخرت ته تیاری شروع کړي؛ نو د دنیا ډېر شیان یې مخې ته خنډ کېږي. حقیقت دا دی، چې د دنیا مینه د یو څو څاڅکو اوښکو په تویولو سره نه ختمېږي؛ بلکې د ختمولو لپاره یې پکار ده، چې سړی په پوره توګه د الله تعالی لور ته متوجه شي.

اول فصل

## د الله تعالی له وېرې د پاک لمنی، غوره کولو فضیلت

که یو مؤمن بنده خپل نظر له حرامو شیانو، پردیو ښځو او هر هغه څه نه منعه کړي، چې کتل یې حرام دي؛ نو په خپل زړه کې به د ایمان یو عجیبه غوندې خوږوالی محسوس کړي، الله تعالی به یې پاک لمنی کړي او څوک، چې پاک لمني غوره کړي، الله تعالی ترې لوی او واړه مصیبتونه لرې کوي، له بربادۍ نه یې ژغوري، له فسق او فجور نه پناه ورکوي او د ګناه له ځای نه یې لرې ساتي او همدا هغه خلک دي، چې په دنیا او اخرت کې به سرلوړي وي.

**د پاک لمنی، د فضیلت په اړه د قران کریم ایتونه:**

الله تعالی فرمایي:

۱- ((قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَ يَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ؕ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝ وَ قُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَ يَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَ لَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَ لْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ۪ وَ لَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْۤ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْۤ اَخَوٰتِهِنَّ اَوْ نِسَآئِهِنَّ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِيْنَ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ۪ وَ لَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ ؕ وَ تُوْبُوْۤا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝.))

(سورة النور: ۳۰-۳۱)

ژباړه: ای پیغمبره! مؤمنانو نارینه وو ته ووایه، چې خپل نظر تر کنټرول لاندې وساتي او د خپلو شرم ځایونو ساتنه وکړي، دا د هغوی لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده، هغوی، چې څه کوي، الله پرې خبرېږي. او ای

پیغمبره! مؤمنو ښځوته ووایه، چې خپلې سترګې تر کنټرول لاندې وساتي او د خپلو شرم ځایونو ساتنه وکړي او خپله ځان جوړونه او سينګار دې نه ښکاره کوي پرته له هغه، چې په خپله څرګند شي او پر خپلو سینو دې دخپلو پړونو پلوونه واچوي. هغوی دې خپله ځان جوړونه سينګارنه ښکاره کوي، مګر د دې خلکو په وړاندې: مېړونه، پلرونه، دمېره پلرونه، خپل زامن، دمېړونو زامن (بنزيان)، وروڼه، ورېرونه، خوریونه، د خپلې طبعې ښځې، خپل مملوک، خپل هغه لاس لاندې نارینه، چې ښځو ته حاجت ونه لري او هغه ماشومان، چې لا تراوسه پورې د ښځو له پټو خبرو سره اشنا شوي نه وي او هغوی دې پرځمکه باندې په زوره پښو وهلو سره په داسې شان تګ نه کوي، چې د هغو د پټ کړي سينګار خلکو ته معلومات وشي. ای مؤمنانو! تاسې ټول په ګډه سره الله ته توبه وباسئ، ښایي، چې برى در په برخه شي.

**د پاک لمنی ګټې**

شیخ سعدي رحمه الله فرمايي: کوم سړی، چې د خپل شرم ځای او نظر حفاظت کوي، له فحشاوو نه به محفوظ پاتې شي او د دې په وجه به يې الله تعالی عملونه ښه کړي، ځکه یوه قاعده ده، چې وايي:

((من ترک شئیا لله عوضه الله خیرا منه.))

ژباړه: چا چې د الله تعالی د رضاء لپاره یو شی پرېښود، الله تعالی به تر هغې غوره بدله ورکړي او څوک چې د خپل شرم ځای او نظر حفاظت ونه کړي او پاک لمني غوره نکړي؛ نو په ګناهونو او مصیبتونو کې به مبتلا شي.

الله تعالی په یوه بل ځای کې فرمايي:

۲-((وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ۝ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ۝ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ۝ وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَ

عَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۝ وَ الَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ قَآئِمُوْنَ ۝ وَ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ فِيْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ۝.)) (المعارج: ۲۹-۳۵)

ژباړه: هغه کسان، چې د خپلو شرم ځایونو ساتنه کوي، پرته له خپلو مېرمنو یا له خپلو مملوکه ښځو نه، چې له هغو نه په نه ساتنه کې څه پړه ورباندې نشته، البته څوک، چې په دې سربېره نور څه وغواړي، ممغوی له حده تیري کوونکي دي. هغه کسان، چې د خپلو امانتونو حفاظت او د خپلې ژمنې لحاظ ساتي، هغه کسان، چې پخپلو شاهدیو کې په ریښتینولۍ باندې ټینګ درېږي او هغه کسان، چې د خپل لمانځه ساتنه کوي، دغه کسان به په عزت سره د جنت په باغونو کې اوسېږي.

## له کبیره ګناه نه ځان ساتل:

الله تعالی فرمایي:

((اِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَ نُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ۝.)) (النساء: ۳۱)

ژباړه: که تاسې له هغو سترو ګناهونو څخه ډډه وکړئ، چې تاسې ورڅخه منعه شوئ؛ نو ستاسې وړې وړې ګناوې به موږ له حسابه وغورځوو او تاسې به د عزت ځای ته ننباسو.

بل ځای فرمایي:

((قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۝ وَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۝ وَ الَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ۝ وَ الَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۝ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝ وَ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝.)) (المؤمنون: ۱-۱۱)

ژباړه: په باوري ډول هغو مؤمنانو برى موندلى دى، چې په خپل لمانځه کې عاجزي غوره کوي، له عبثو څخه مخ اړوونکي وي، د زکات په کړنچارې عمل کوي، د خپلو شرم ځایونو ساتنه کوي، پرته له خپلو مېرمنو او هغو بنځو څخه، چې د هغو وينزې وي، چې پر هغو باندې (د شرم ځایونو په نه ساتنه کې) هغوی د پړکېدو وړ نه دي، البته که څوک له هغې پرته نور څه وغواړي، همغوی زياتي کوونکي دي. د خپلو امانتونو او د خپلو ژمنو او تړونونو لحاظ ساتي او د خپلو لمونځونو ساتنه کوي. همدغه کسان هغه وارثان دي، چې په میراث کې به فردوس ومومي او په هغې کې به د تل لپاره هستوګن وي.

**د بښنې وعده:**

الله تعالى فرمايي:

((وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۞.)) (الاحزاب: ۳۵)

ژباړه: د خپلو شرم ځایونو ساتونکي نارينه او ساتونکې ښځې دالله تعالى ډېر ډېر يادوونکي نارينه او د الله تعالى يادوونکې ښځې، دا (ټول واړه ډوله) خلک هغه کسان دي، چې الله تعالى د هغو لپاره ښښنه او لوی اجر برابر کړی دی.

بل ځای فرمايي:

((وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ۞ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى ۞.)) (النزعات: ۴۱-۴۲)

ژباړه: او چا چې د خپل رب په مخ کې له درېدو نه وېره کړې وه او نفس يې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلى و؛ نو جنت د هغه هستوګنځاى دى.

**د جنت زیری:**

الله تعالی فرمایي:

((وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾.)) (الرحمن: ۴۶)

ژباړه: او د هر هغه چا لپاره، چې د خپل رب حضور ته له ودرېدو وېره لري، دوه باغونه دي.

بل ځای فرمایي:

((وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِ وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ ﴿١٢﴾.)) (التحریم: ۱۲)

ژباړه: او د عمران د لور مریم مثال راوړئ، چې هغې د خپل شرم ځای ساتنه کړې وه، بیا موږ په هغې کې له خپل لوري نه روح پو کړ او هغې د خپل رب د لاربنوونو او د هغه د کتابونو تصدیق وکړ او هغه له اطاعت کوونکو خلکو څخه وه.

**د پاک لمنۍ غوره کولو په اړه مبارک حدیثونه:**

له سهل بن سعد رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((من یضمن لي ما بین لحییه وما بین رجلیه أضمن له الجنة.)) (بخاري)

ژباړه: څوک، چې راته د خپلو دوو ژامو او خپلو دوو پښو ترمنځ شیانو ژبې او شرم ځای، د ساتنې ضمانت راکړي، زه ورته د جنت ضمانت ورکوم.

حافظ ابن حجر رحمه الله تر دې حدیث لاندې د ابن بطال رحمه الله قول رانقل کړی، چې د ژبې او شرم ځای مصیبت تر ټولو لوی مصیبت دی او څوک، چې له دې مصیبت نه بچ شو؛ نو ګواکې له ټولو مصیبتونو نه بچ شوی دی.

له ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه

وسلم وفرمایل:

«اووه کسان داسې، چې الله تعالی به ورته په هغه ورځ د خپل عرش تر سیورې لاندې ځای ورکړي، چې د هغه د عرش له سیورې پرته بل سیوری نه وي... (په هغوی کې یو هغه کس هم دی، چې یوه ښایسته او نسب لرونکې ښځه یې د ګناه لپاره ځان ته ور وبولي او دی ورته ووایي، چې زه له الله تعالی څخه وېرېږم.)»

**د عملونو د برکت له امله د دعاء قبلېدل:**

ابن عمر رضي الله عنهما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي، چې ویې فرمایل:

«د بني اسرائیلو درې کسان په یوه سفر ووتل، په لاره کې پرې باران وشو؛ نو یوې سمڅې ته ننوتل، په همدې وخت کې ناڅاپه له غره نه یوه غټه ډبره را ونښوېده او د سمڅې خوله یې بنده کړه؛ نو یوه او بل ته یې سره وویل: راځئ، چې له دې مشکل څخه د خلاصون لپاره هر یو خپل تر ټولو ښه عمل الله تعالی ته وسیله کړو، په دې توګه لومړنیو دوو تنو خپل نېک عملونه الله تعالی ته وسیله کړل او له دې سره هغه ډبره لږه وخوځېده او د سمڅې خوله نیمه خلاصه شوه، درېیم تن یې داسې دعاء وکړه: ای الله، تاته معلومه ده، چې زما د تره یوه لور وه، چې ماته ډېره ګرانه وه او غوښتل مې، چې زنا ورسره وکړم؛ خو هغې راڅخه د دې کار لپاره سل (۱۰۰) دیناره وغوښتل، ما یې غوښتنه ومنله او د دینارو بندوبست مې ورته وکړ او کله چې یې د دواړو پښو ترمنځ کېناستم؛ نو هغې راته وویل: له الله تعالی نه ووېرېږه او ما مه رسوا کوه. د دې خبرې په اورېدو سره ترې پاڅېدم او هغه ګناه مې ونه کړه؛ نو ای الله، که دا کار مې ستا د رضاء لپاره کړی وي، دا مصیبت راڅخه لرې کړه. په دې سره هغه ډبره د سمڅې له خولې نه لرې شوه او هغوی ترې ووتل.» (بخاري)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: دا درېيم سړی تر ټولو غوره و، ځکه په زړه کې يې د الله تعالی وېره وه او د چا په زړه کې چې د الله تعالی وېره وي، الله تعالی ورته د جنت زېری ورکړی، فرمايي:

((وَ اَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَ نَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰىۙ۝ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِیَ الْمَاْوٰىؕ۝.))

(النزعات: ۴۱-۴۲)

ژباړه: او چا چې د خپل رب په مخ کې له درېدو نه وېره کړې وه او نفس يې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلی و؛ نو جنت د هغه هستوګنځای دی.

له ابو هرېره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((کومه ښځه چې پنځه وخته لمونځ کوي، د رمضان د مياشتې روژه نيسي، د خپل شرم ځای ساتنه او د خپل خاوند اطاعت کوي؛ نو له کومې دروازې نه چې وغواړي، جنت ته داخلېدای شي.))

(مسند امام احمد)

**د جنت سودا:**

له عباده بن صامت رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((ماته د شپږو شيانو ضمانت راکړئ، زه درته د جنت ضمانت درکوم:

۱- کله چې خبرې کوئ، رينښتيا به وايئ.

۲- کله چې مو له چا سره وعده وکړه، پوره کوئ به يې.

۳- چا چې درسره امانت کېښود، خيانت به پکې نه کوئ.

۴- د خپلو شرم ځايونو ساتنه به کوئ.

۵- خپل نظر به (له حرامو نه) ښکته ساتئ.

۶- خپل لاسونه به له ظلم کولو څخه ساتئ. (مسند امام احمد)

## د يوسف عليه السلام د پاک لمنۍ کيسه:

الله تعالى فرمايي:

((وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ قَالَ مَعَاذَ
اللَّهِ ۖ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ ۖ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَا
أَن رَّأَىٰ بُرْهَانَ رَبِّهِ ۚ كَذَٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوءَ وَالْفَحْشَاءَ ۚ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِينَ ﴿٢٤﴾ وَ
اسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهُ مِن دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَى الْبَابِ ۚ قَالَتْ مَا جَزَاءُ مَنْ أَرَادَ
بِأَهْلِكَ سُوءًا إِلَّا أَن يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَن نَّفْسِي ۚ وَشَهِدَ
شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَا إِن كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِن قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٢٦﴾ وَإِن كَانَ
قَمِيصُهُ قُدَّ مِن دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَأَىٰ قَمِيصَهُ قُدَّ مِن دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُ مِن
كَيْدِكُنَّ ۖ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾ يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ۚ وَاسْتَغْفِرِي لِذَنبِكِ ۖ إِنَّكِ
كُنتِ مِنَ الْخَاطِئِينَ ﴿٢٩﴾ وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ تُرَاوِدُ فَتَاهَا عَن نَّفْسِهِ ۖ قَدْ
شَغَفَهَا حُبًّا ۖ إِنَّا لَنَرَاهَا فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾ فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ وَأَعْتَدَتْ
لَهُنَّ مُتَّكَأً وَآتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّينًا وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۖ فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ وَ
قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴿٣١﴾ قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ
الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ ۖ وَلَقَدْ رَاوَدتُّهُ عَن نَّفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَا آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ وَ
لَيَكُونًا مِّنَ الصَّاغِرِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ ۖ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي
كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٣٣﴾.))

(يوسف: ۲۳-۳۳)

ژباړه: يوسف، چې د کومې ښځې په کور کې و، هغې خپل ځان ته د هغه توجه جلبوله او يوه ورځ يې دروازې وتړلې او ويې ويل، چې ژر راشه' يوسف وويل 'پناه په خداى' زما رب خو ماته ښه منزلت راکړى او زه دا کار وکړم؟)، داسې ظالمان هېڅکله برى نشي ميندلى. هغه ښځه د هغه خوا ته ورمخکې شوه او يوسف عليه السلام به هم د هغې

لوري ته ورمخکې شوی وای که د خپل رب برهان یې نه وای لیدلای.
داسې وشول ترڅو، چې موږ له هغه نه بدي او بې حیایي ایسته کړو،
په حقیقت کې هغه زموږ له غوره کړای شویو بنده ګانو څخه و. په یای
کې یوسف او هغې وړاندې وروسته د دروازې خوا ته منډه کړه او هغې
د شا له خوا د یوسف کمیس (په راښکودلو) سره څیرې کړ. په وره
کښې دواړو د هغې میړه موجود وموند، د هغه په لیدو سره ښځې
وویل: 'د هغه چا څه سزا ده، چې ستا کورنۍ ته خراب نیت ولري؟ له
دې پرته بله یې څه سزا کیدای شي، چې بندي کړی شي یا دردناک
عذاب ورکړل شي؟' یوسف وویل: 'دې زما د جلبولو هڅه کوله' د هغې
ښځې له خپل ټبر نه یو چا (دنبې او بیلګې) شاهدي وړاندې کړه، چې
'که د یوسف کمیس له مخې نه شلیدلی وي؛ نو ښځه رېښتینې ده او
دی دروغجن، او که د هغه کمیس د شا له لورې شلیدلی وي؛ نو ښځه
دروغجنه ده او دی رېښتونی. کله چې میړه ولیدل، چې د یوسف
کمیس د شا له لورې شلیدلی دی؛ نو ویې ویل: 'دا ستاسې ښځو
مکرونه دي، په رېښتیا، چې ستاسې چلونه ډېر زیات دي، یوسفه! له
دې خبرې نه تیر شه، او ای ښځې! ته د خپلې ګناه بښنه وغواړه، همدا
ته په اصل کښې ګنهکاره وې.' د ښار ښځو په خپلو مینځو کې اوازه
ګډه کړه، چې 'د عزیز مېرمن په خپله خپل زلمي غلام پسې شوې،
مینې ناکراره کړې، زموږ په نزد خو هغه په ښکاره ډول غلط کار کوي'
هغې؛ چې د هغو دغه له مکره ډکې خبرې واوریدې؛ نو په هغو پسې
یې استازي واستوه او د هغو لپاره یې د تکیه کولو مجلس جوړ کړ او
په مېلمستیا کې یې د هرې یوې په وړاندې یوه یوه چاړه کېښودله. بیا
په همغه وخت کې، چې کله هغوی میوې پرېکولې، هغې یوسف ته
اشاره وکړه، چې د هغوی مخې ته راووځه، کله چې د هغو ښځو نظر پر
هغه ولګېد؛ نو هغوی هکې پکې پاتې شوې او (د میوې پرځای یې)
خپل لاسونه غوڅ کړل او غیر اختیاري یې وویل: 'هیڅکله نه، دا

سړی خو بشر نه دی، دی خو کومه لویه پرښته ده.' د عزیز میرمنې وویل: وګورئ؛ دا دی هغه ځوک، چې د هغه په باب تاسې ما پورې د پړې خبرې کولې، بیشکه، چې ما د ده د جلبولو هڅه کړې وه؛ خو دی وژغورل شو، که دی زما وینا ونه مني؛ نو بندي او ډیر ذلیل او خوار به کړای شي. یوسف وویل: 'ای زما ربه؛ د دې په نسبت بندي کیدل ماته ښه دي، چې زه هغه کار وکړم، چې دا خلک یې له ما نه غواړي او که ته د هغو دسیسې له مانه دفعه نه کړې؛ نو زه به د هغو په دام کې ونښلم او په ناپوهانو کې به شامل شم.

ابن القیم رحمه الله فرمايي: الله تعالی د یوسف علیه السلام کیسه بیان کړه او د هغه پاک لمنی ته یې اشاره وکړه، ځکه دا ډېره ګرانه پاک لمني وه او هغه داسې، چې یوسف علیه السلام ته د ګناه ټول لاندیني اسباب برابر شوي وو:

۱- یوسف علیه السلام ځوان و او په ځوان سړي کې شهوت زیات وي.

۲- یوسف علیه السلام په دې وخت کې مریی و او مریی د بل تر لاس لاندې وي.

۳- له خپلې کورنۍ نه لرې او مسافر و او سړی د خپلو دوستانو او کورنۍ ترخنګ د ګناه جرئت نه کوي ترڅو سپک او خوار نشي.

۴- یوسف علیه السلام د زلیخا غلام و او د غلام او بادار ترمنځ هسې هم حیاء ته کومه ځانګړې توجه نه کېږي.

۵- زلیخا هم ښکلې او هم د منصب خاونده وه

۶- زلیخا پخپله له یوسف علیه السلام نه د ګناه غوښتنه کوله.

۷- یوسف علیه السلام د زلیخا په ځانګړې کوټه کې و او دا داسې ځای و، چې بل هیڅوک هلته نشو ورتللی.

۸- دروازې هم ټولې بندې وې.

۹- پخپله زلیخا یوسف علیه السلام ته د ګناه بلنه ورکړه او د دې کار

په نه کولو یې ودار کړ؛ خو له دې ټولو سره سره یوسف علیه السلام ګناه ونه کړه.
نو خدای ښه پوهیږي، چې که د یوسف علیه السلام پرځای بل څوک وای؛ نه څه به کېدل؟؟؟
وروسته پخپله زلیخا هم د یوسف علیه السلام د پاک لمنۍ ګواهي ورکړه او میره خو یې لا پخوا ګواهي ورکړې وه او د دې دواړو ترڅنګ یوه کوچنې ماشوم هم ګواهي ورکړې وه او په پای کې الله تعالی پخپله د یوسف علیه السلام د پاکوالي اعلان وکړ. (روضة المحبین)

**د پاک لمنۍ غوره کولو حکم:**

الله تعالی فرمایي:

((وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ.)) (نور: ۳۳)

ژباړه: او څوک، چې د نکاح اسباب ونه مومي، هغوی باید پاک لمني غوره کړي تر دې پورې، چې الله په خپلې پېرزوینې سره هغوی شتمن کړي.

علامه سعدي رحمه الله فرمايي: دا حکم د هغه چا لپاره دی، چې د نکاح کولو توان ونلري؛ نو الله تعالی ورته حکم وکړ، چې ځان باید له حرامو نه وساتي او داسې اسباب دې غوره کړي، چې له ګناه نه پرې بچ شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم هم همدې خبرې ته اشاره کوي او فرمايي:

((ای د ځوانانو ډلې؛ په تاسې کې، چې څوک د واده کولو توان لري؛ نو واده دې وکړي او څوک، چې یې توان نلري، هغه ته پکار ده، چې روژه ونیسي، ځکه روژه شهوت ماتوي.))

په پورته ایت کې الله تعالی له ګناه نه ځان ساتونکي کس سره د دې خبرې وعده هم کړې، چې هغه به یې په خپل فضل سره شتمن کړي او نکاح کول به ورته اسانه کړي. (تیسیر الکریم المنان)

دوهم فصل

## د پاک لمنۍ نه غوره کولو بدي او رټنه

پاک لمني نه غوره کول ډېره لویه بدي ده، ځکه په دې سره مو زنا او د لوط علیه السلام د قوم ګناه وره کښلې، دا چې د لوط علیه السلام د قوم ګناه ډېره ناوړې وه، له همدې امله هغوی ته تر ټولو سخته سزا هم ورکړای شوه؛ نو ایا له زنا او لواطت څخه د بچ کېدو لپاره همدا خبره بس نه ده، چې له هغې نه ډېرې خطرناکې ناروغۍ پیدا کېږي او شپه او ورځ په قران کریم او نبوي احادیثو کې د هغې رټنه اورو او لولو؟

هغوی، چې په دې خطرناکو ګناهونو کې اخته دي، ایا دا ورته معلومه نه ده، چې سبا ته به د الله تعالی پر وړاندې ودرېږي او دا چې الله تعالی څه ډول عذاب ورته تیار کړی دی؟ ایا پردې نه پوهېږي، چې سبا ته به د دوزخ په اور کې سوځي او د دوزخ خاشاک به ترې جوړېږي؟ ایا دا ورته معلومه نه ده، چې حتما مرګ راځي؟

یو شاعر خپل نفس ته په خطاب کې وایي:

ای نفسه! ایا هغه وخت نه دی راغلی، چې ځان پوه کړې او ګناهونه پرېږدې؟ زه دې وینم، چې بد کارونه ډېر په شوق ترسره کوې؛ خو نېکو کارونو ته دې بیا ملا ماته وي او که کله یې ترسره کوې هم؛ نو په شنه زور یې ترسره کوې!

تر ټولو لوی جاهل هغه دی، چې د خپلې هرې نفسي غوښتنې پیروي کوي. راتلونکې ورځ له عبرت نه ډکه ورځ ده او که انسان غواړي، چې عبرت واخلي؛ نو مرګ تر ټولو لوی عبرت دی!

**د پاک لمنۍ نه غوره کولو په اړه په قران کریم کې راغلي ګوابښونه**

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایي: کوم خلک، چې د خپلو شرم ځایونو ساتنه نه کوي او په ګناهونو کې ډوب وي، الله تعالی ورته جاهل، ناپوه او په نشه کې ډوب انسان ویلي دي، لکه د لوط علیه

السلام د قوم په اړه فرمايي:

((بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۵۵﴾.)) (النمل: ۵۵)

ژباړه: حقیقت دا دی، چې تاسې سخت د جهالت کار کوئ.

په بل ځای کې فرمايي:

((لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِيْ سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۷۲﴾.)) (الحجر: ۷۲)

ژباړه: ستا په روح قسم ای پیغمبره! په هغه وخت کې پر هغوی یوه نشه غوندې راغلې وه، چې په هغې کې هغوی له سده وتي وو.

فرمايي:

((اَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ﴿۷۸﴾.)) (هود: ۷۸)

ژباړه: ايا په تاسې کې څوک هوښیار سړی نشته؟

بيا فرمايي:

((وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ ﴿۶۶﴾.)) (يس: ۶۶)

ژباړه: که موږ وغواړو؛ نو د دوی سترګې به پوښلې هوارې کړو، بیا دې دوی د لارې خوا ته په ځغاستلو وګوري، څنګه به دوی لاره ووینې؟

بل ځای فرمايي:

((فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۸۴﴾.)) (اعراف: ۸۴)

ژباړه: او پر هغه قوم مو یو باران وورو، نو وګوره، چې د هغو مجرمانو څه عاقبت شو؟!

او په یوه بل ځای کې فرمايي:

((قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ﴿۹﴾ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ﴿۱۰﴾.)) (الشمس: ۹-۱۰)

ژباړه: په رېښتيا سره بری ومونده هغه چا، چې هغه د نفس تزکیه وکړه او ناکام شو هغه څوک، چې هغه یې لاندې پټ کړ.

شيخ سعدي رحمه الله فرمايي: په پورته ایت کې د نفس د لاندې

پټولو معنا دا ده، چې سړی خپل ځان په ګناهونو او بدیو کې اخته او پټ کړي.

**د پاک لمنۍ په نه غوره کولو نبوي ګواښونه:**

له ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((درې کسان داسې دي، چې الله تعالی ورسره د قیامت پر ورځ خبرې نه کوي، نه یې پاکوي او نه ورته د رحمت په نظر ګوري... (یو پکې بوډا زناکار هم دی.))

له جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((زه پر خپل امت باندې له دې خبرې نه ډېر وېرېږم، چې په هغوی کې د لوط علیه السلام د قوم ګناه خپره نشي.))

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

((زه پر تاسې د ګېډې او شرم ځای له بې مهاره شهوتونو څخه وېرېږم، چې پرې اخته به شئ.))

له انس رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((هلاک کوونکي شیان دا دي: هغه بخل، چې اطاعت یې وشي، هغه خواهش، چې پیروي یې وشي او دا، چې سړی په ځان خوښونه کې اخته شي.))

له دې پرته نور حدیثونه هم شته، چې چې پکې پاک لمني نه غوره کوونکو ته ګواښونه شوي او د زنا او لواطت او د هغو د سزا یادونه هم پکې شوې.

**د خو شېبو خوند:**

امام ابن الجوزي رحمه الله فرمايي:

((ما چې ژور فکر وکړ؛ نو راته معلومه شوه، چې دوزخ ته د ورتلو لوی سبب ګناه ده او کله، چې مې په ګناه کې ژور فکر وکړ، راته معلومه شوه، چې د يو څو شېبو خوند لپاره ترسره کېږي او کله چې مې په خوند کې ژور فکر وکړ؛ نو يوازې يوه دوکه، ذلت او چټلي راته ښکاره شوه؛ خو اوس پوښتنه دا ده، چې يو هوښيار انسان ولې دې ته تيارېږي، چې د دې ناچيزه خوندونو له امله دوزخ ته ورتلل غوره کوي؟!

په خوندونو کې يو خوند د زنا خوند هم دی، چې سړی يې د حلالې نکاح له لارې هم ترلاسه کولای شي؛ خو که يو څوک بيا هم زنا کوي؛ نو هم به د الله تعالی پر وړاندې او هم به د هغه د مخلوق پر وړاندې رسوا وي او له دې سربېره که له هغې زنا نه بچی هم پيدا شي؛ نو څومره د شرم وړ خبره ده؛ خو جاهل انسان يوازې د څو شېبو خوند پسې ګرځي او له هغې وروسته، چې څه کېږي، د هغې هيڅ پروا نه کوي!

ډېره د حيرانتيا وړ خبره ده، چې يو انسان د څو شېبو خوند لپاره همېشنی ذلت قبلوي، که موږ د عقل په تله دغه خوند او د هغه په پايله کې د هغه حتمي ذلت سره وتلو؛ نو زموږ عقل او وجدان به د دې ډول خوند د پرېښودو پرېکړه وکړي.))

دریم باب

## په هېڅ قیمت هم باید خپل عزت برباد نه کړو

په دې باب کې اووه فصلونه دي، چې په هغو کې د زنا، لواطت، له ځارویو سره د بد فعلی، له ښځې سره د شا له لورې د یوځای کېدلو، له حیض او نفاس لرونکې ښځې سره د کوروالي او نورو ګناهونو یادونه او د هغو د سزاګانو بیان شوی.

**پیلیزه:**

علامه یوسف القرضاوي حفظه الله وايي: الله تعالی د دې لپاره انسان پیدا کړی، چې په ځمکه کې یې خپل خلیفه وټاکي او همدلته یې مېشت کړي او دا هدف یوازې هغه وخت ترلاسه کېدای شي، چې انسان په ځمکه کې باقي پاتې شي او د الله تعالی حقوق اداء کړي.

پر ځمکه باندې د انساني ژوند د بقاء او خپرېدو لپاره یوازې یوه لاره ده، چې هغه د ښځې او سړي په حلاله طریقه یوځای کېدل دي او د ازادې ښځې او سړي د یوځای کېدو یوازې درې صورتونه دي او بس:

۱- یو دا چې انسان په خپل سر پرېښودل شي او بیا چې یې چېرته او څرنګه غوښتي وي، خپل خواهش پوره کوي، لکه په ځینو دینونو کې، چې د دې کار اجازه ورکړل شوې ده؛ خو داسې انسان له سره انسان نه دی؛ بلکې حیوان دی او په دې ډول له فرد سره سره کورنۍ هم تباه کېږي.

۲- دوهم صورت دا دی، چې انسان بېخي تر فشار لاندې ونیول شي او جنسي خواهش یې په مکلمه توګه وځپل شي، لکه چې په رهبانیت او ځینو نورو دینونو کې همدا طریقه رواج ده؛ خو دا طریقه هم صحیح نه ده، ځکه په دې سره د انسان هغه خواهش، چې په فطرت کې یې پروت دی، تکول کېږي او په دې توګه انساني ژوند هم له منځه ځي.

۳- دریم صورت د اعتدال لاره ده، چې نه بېخي ازاده او نه بېخي منعه

کورنکې ده او هغه دا چې واده کول پکې د حل لاره ښودل شوې ترڅو په دې توګه انسان په حلاله توګه خپل خواهش هم پوره کړي او انساني نسل هم پر ځمکه باقي پاتې وي. په همدې سره کورنۍ اړیکې هم ساتل کیږي او د قبیلو ترمنځ مینه او دوستي هم پایښت مومي.

**لومړی فصل**

## له زنا نه ځان ساتنه

زنا ډېر ناوړه او خطرناک کار دی، ځکه زناکار، چې کله زنا وکړي او هغه ښځه پرېږدي؛ نو په زړه کې یې له هغې سره کرکه پیدا کېږي او بله دا چې د زناکار سړي نه اخلاق ښه وي، نه یې په ژوند کې سکون وي او نه د خلکو پر وړاندې کوم درنښت لري.

**د زنا حرمت:**

امام راغب اصفهاني رحمه الله فرمايي: له واده کولو پرته له کومې ښځې سره بدکارۍ کولو ته زنا ویل کېږي. (مفردات القرآن)

الله تعالی فرمايي:

((وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰٓ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا ۝.)) (الاسراء: ٣٢)

ژباړه: زنا ته مه نږدې کېږئ، هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لیاره ده.

بل ځای فرمايي:

((وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ۝.)) (الفرقان: ٦٨)

ژباړه: هغه کسان، چې [١] الله تعالی نه پرته کوم بل معبود نه بلي او هغه نفس په ناحقه نه وژني، چې خدای تعالی حرام کړی وي او نه د زنا مرتکب کېږي (نو) هر څوک، چې دغه کار وکړي، هغه به د خپلې ګناه بدله ومومي.

**د زنا د حرمت په اړه راغلي حدیثونه:**

له سلمه بن قیس رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راته د لاندې څلورو خبرو نصیحت وفرمایه:

١- له الله تعالی سره شرک مه کوه.

٢- د کوم سړي قتل، چې الله تعالی حرام کړی، هغه مه وژنه؛ مګر

پواخې په روا توکه.
۲- بدکاري (زنا) مه کوه.
۳- غلا مه کوه. (مسند امام احمد)
له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((الله تعالی د قیامت پر ورځ له درېیو کسانو سره خبرې نه کوي، نه ورته د رحمت په نظر کوري او نه یې پاکوي... (په هغوی کې یو بوډا زناکار هم شامل دی.)) (مسلم، کتاب الایمان)
عبدالله بن عمر رضي الله عنهما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه، چې تر ټولو لویه ګناه کومه ده؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((تر ټولو لویه ګناه دا ده، چې خپل زوی له دې امله ووژنې، چې تر لویېدو وروسته به په ګډه درسره ډوډۍ خوري.)) عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بیا ترې وپوښتل: تر هغې وروسته کومه ګناه لویه ده؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((دا چې د خپل ګاونډي له ښځې سره زنا وکړې.))
(بخاري، باب اثم الزنا)

**د زنا سزا:**

د زنا د سزا په اړه مو وروسته پوره باب ایښی دی؛ خو بیا هم دلته یې یو څو سزاګانې بیانوو.
الله تعالی فرمايي:
((اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَّلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲﴾))
(النور: ۲)

ژباړه: زناکاره ښځه او زناکار سړی، له دواړو نه هر یو سل دُرې ووهئ او پردوی باندې د زړه سوی احساس دې د الله تعالی د دین په باب په تاسې کې نه پارېږي، که تاسې پر الله تعالی او د اخرت پر ورځ ایمان لرئ او هغو ته د سزا ورکولو په وخت کې دې د مؤمنانو یوه ډله موجوده وي.

سیدقطب رحمه الله فرمایي: دا څومره غټه خبره ده، چې الله تعالی پر زناکارانو باندې د رحم نه کولو حکم کړی دی او ترڅنګ یې دا خبره هم کړې، چې زناکارانو ته د سزا ورکولو پر مهال دې د خلکو یوه لویه ډله موجوده وي ترڅو هغوی د زنا کولو جرئت ونه کړي او په زړونو کې یې وېره پیدا شي او اسلام ځکه زناکارانو ته دومره سخته سزا مقرره کړې، چې په خلکو کې د حیوانیت خوی پیدا نشي.

علماوو لیکلي دي، چې د زنا سزاګانې مختلفې دي او د اخرت سزا هغه چاته ورکول کېږي، چې په دنیا کې یې د خپل جرم سزا نه وي لیدلې؛ نو د داسې سړي سزا په اخرت کې ډېره سخته ده.

څومره سخته او له سپکاوي ډکه خبره ده، چې د زناکار جامې ترې وویستل شي او بیا په دُرو ووهل شي او له هرې درې سره داسې احساس کړي، چې ګوندې ساه یې وځي او له دې سربېره خلک هم پرې خاندي!

د سلو (۱۰۰) دُرو سزا هغو ښځو او سړو ته ورکول کېږي، چې واده یې لا نه وي کړی او که له دې سره سره بیا هم له خپلې سرکښۍ نه لاس وانخلي؛ نو د احنافو په نزد باید د یوه کال لپاره له هېواده وشړل شي؛ خو نور علماء بیا وايي، چې هر ناواده کړی زناکار باید سل دُرې ووهل شي او له دې سره دې د یوه کال لپاره له هېواده هم وشړل شي. دا هم باید له یاده ونه باسو، چې علماوو په اتفاق سره دا خبره کړې، چې د واده کړي زناکار سړي او زناکارې ښځې سزا رجم یعنې په تیږو ویشتل دي تر دې، چې مړه شي.

دوهم فصل

## له لواطت نه ځان ساتل

الله تعالی دې موږ او تاسې د شيطان له شره وساتي، شيطان يوازې پر دې اکتفاء نه کوي، چې سړی په زنا اخته کړي او نور نو غلی کېني، بلکې له دې سره پرې نورې ګناوې هم ترسره کوي، شيطان له خپل ښکار (زناکار انسان) سره د فوټبال په څېر لوبېږي او په لواطت کې يې هم اخته کوي.

ربښتيا دا ده، چې لواطت کوونکی انسان په دنيا کې انساني شکل لري؛ خو په اخرت کې به يې څېره بدله وي، الله تعالی فرمايي:

((فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ۚ.))

(الاعراف: ۱۷۶)

ژباړه: نو د هغه حالت د سپي پشان شو؛ چې که ته پرې حمله وکړې، هم ژبه را ځوړندوي او که پرې يې بږدې؛ نو هم ژبه را ځوړندوي.

او داسې کس به اور ته وغورځول شي، الله تعالی فرمايي:

((اصْلَوْهَا فَاصْبِرُوا أَوْ لَا تَصْبِرُوا سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾.))

(الطور: ۱۶)

ژباړه: ځئ اوس په دوزخ کې دننه وسوزئ، که تاسې صبر وکړئ او که يې ونه کړئ، ستاسو لپاره يوشانته ده، تاسې ته همغسې جزا درکول کېږي لکه، چې تاسې عمل کاوه.

افسوس دی، چې مسلمانان نن سبا د بې حيايۍ داسې حد ته را رسېدلي، چې د خپکان وړ ده، په داسې حال کې، چې موږ هغه تر ټولو غوره امت يو، چې د خلکو د لارښوونې لپاره دنيا ته را لېږل شوي يو؛ خونن د مسلمانانو د حالت په ليدو سړي ته ژړا ورځي.

که مسلمانو ځوانانو ته دا خبره معلومه شي، چې زموږ مشري او رهبري

زموږ، پخپلو لاسونو ضایع شوې ده؛ نو کېدای شي، چې د الله تعالی لور ته متوجه شي.

ولید بن عبدالملک وایي: که چېرته الله تعالی په قران کریم کې د لوط علیه السلام کیسه نه وای بیان کړې؛ نو موږ دا ګومان هم نشوای کولای، چې سړی دې له بل سړي سره لواطت وکړي.

**په قران کریم او احادیثو کې د لواطت بدي:**

الله تعالی فرمايي:

((وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعَالَمِينَ ۝.)) (الاعراف: ٨٠)

ژباړه: او لوط موږ د پېغمبر په حیث ولېږه؛ نو په یاده لره، چې کله هغه خپل قوم ته وویل: "ایا تاسې داسې بې حیا شوي یاست، چې هغه شرمناک کار کوئ، چې له تاسې نه مخکې په نړۍ کې هیچا نه دی کړی؟"

خو دا خلک په سرکښۍ کې پاتې او د الله تعالی د عذاب ښکار شول، لکه الله تعالی، چې فرمايي:

((فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ۝.)) (هود: ٨٢)

ژباړه: بیا کله چې زموږ د فیصلې وخت را ورسېد؛ نو موږ هغه سیمه په بل مخ نسکوره کړه او پر هغې مو د پخې خټې د تیږو باران وورواوه.

الله تعالی جبرائیل علیه السلام ته حکم وکړ، چې کلی یې له بېخه را وباسه، هغه هم همداسې وکړل، هغوی یې په خپل یوه وزر سره اوچت او تر اسمانه یې پورته کړل تر دې، چې د اسمان پرښتو یې د ښاریو غړونه واورېدل او بیا یې له هماغه ځایه ځمکې ته را وغورځول.

((وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ۝.)) (هود: ٨٢)

ژباړه: او پر هغې مو د پخې خټې د تيږو باران ووراوه.
دا تيږې د دنيا د تيږو په څېر نه وې، بلکې پر هره تيږه به د ګنهکار سړي خپل نوم ليکل شوی و؛ نو که اوس دا امت هم همدا ګناه وکړي، لرې نه ده، چې همدا عذاب پرې راشي.
له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
((زه پر خپل امت له دې خبرې نه ډېر وېرېږم، چې دوی هم د لوط عليه السلام د قوم عمل ونه کړي.)) (ترمذي)
له ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
((پر هغه چا دې لعنت وي، چې خپل مور او پلار ته کنځل کوي، پر هغه چا دې هم لعنت وي، چې د الله تعالی له نامه نه پرته د بل چا په نامه ذبحه کوي، پر هغه چا دې هم لعنت وي، چې د ځمکې حدود بدلوي او پر هغه چا دې هم د الله تعالی لعنت وي، چې د لوط عليه السلام د قوم عمل (لواطت) کوي.)) (مسند امام احمد)

**د لواطت ديني او دنيوي زيانونه:**

سيدقطب رحمه الله فرمايي: د لواطت کوم زيانونه، چې په لاندې ډول ښودل شوي، د ډاکټر محمد وصفي له (الاسلام والطب) نومي کتاب څخه اخيستل شوي دي:

**۱- له ښځې نه بې رغبته کېدل يعنې مينه ورسره نه لرل:**

د لواطت له امله سړی له ښځې نه بې پروا کېږي، چې له امله يې د واده هغه مقصد، چې د انساني نسل بقاء ده، له منځه ځي او داسې کس خپلې ښځې ته ډاډ او سکون هم نشي ورکولای، چې په دې سره ښځه قيدۍ کېږي او خپل ژوند ورته يو ډول عذاب ښکاري.

**۲ـ د اعصابو کمزوري کېدل:**

د لواطت له امله د انسان پر نفس داسې اثر پرېوځي، چې هغه ګومان کوي ګوندې هغه د دې لپاره نه دی پیدا شوی، چې د نارینه وو په څېر ژوند وکړي؛ نو هماغه وي، چې د ښځو تقلید پیل کوي او له هغوی سره ځان ورته کوي او وخت په وخت داسې فېشنونه خپلوي، چې یوازې په ښځو پورې اړه لري.

یوازې همدا نه، بلکې د لواطت له امله د انسان اعصاب هم کمزوري کېږي او په لاعلاجه ناروغیو اخته کېږي، چې له امله یې د ټول ژوند خوند له منځه ځي او د انسانیت او نارینتوب خویونه پکې ختمېږي او هروخت په فاحشو کارونو کې بوخت وي.

**۳ـ پر دماغو د لواطت بد اثر:**

د لواطت له امله د انسان عقل هم خپل توازن له لاسه ورکوي او ذهن ته یې ډول ډول بد فکرونه راځي، چې له امله یې د انسان عقل له کدوډې سره مخ کېږي.

**۴ـ د لوطي سړي تنده کله هم نه ماتېږي:**

دا چې لواطت خورا ناوړه او حرام عمل دی، له همدې امله د لوطي سړي د لواطت تنده کله هم نه ماتېږي.

**۵ـ اخلاق له منځه تلل:**

دا چې لواطت یو بد او خطرناک عمل دی، له همدې امله څوک، چې په دې ګناه اخته شي، اخلاق یې بېخي له منځه ځي، داسې خلک د ښو او بدو توپیر نشي کولای، د ارادې ځواک یې کمزوری کېږي او د زړه هغه ضمیر یې هم وژل کېږي، چې له بدیو نه یې ویروي.

**۶ـ پر روغتیا بد اغېز کول:**

لوطي سړی په مختلفو ناروغیو اخته وي، بدن یې کمزوری او د

ناریتوب ځواک یې هم له لمنځه ځي، چې له امله یې د واده کولو وړ نه پاتې کیږي او له دې سره سره د لواطت له امله نورې ځوروونکې ناروغۍ هم پیدا کیږي او له دې سره علامه ابن حجر رحمه الله دا هم فرمايي، چې د لواطت ګناه له زنا نه هم سخته ده؛

**د لواطت کوونکي سزا:**

له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«کله چې مو دوه داسې کسان ولیدل، چې د لوط علیه السلام د قوم عمل یې کاوه؛ نو فاعل او مفعول دواړه ووژنئ.» (ابو داود)

علامه شوکاني رحمه الله فرمايي: د لواطت سزا باید همداسې سخته وي، چې نور خلک ترې عبرت واخلي او د دې ګناه د کولو جرئت ونه کړي او فاعل او مفعول دواړه باید ووژل شي، که څه هم، چې واده یې کړی وي او یا بې واده وي.

دریم فصل

## له ځارویو سره له بد فعلۍ نه ځان ساتل

د خپګان خبره دا ده، چې ان څاروي هم له انساني شهوت نه په امن کې نه دي پاتې او خدای خبر، چې شیطان به انسان د حیوانیت بلې کومې درجې ته ورسوي؟!

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو له شر نه د بچ کېدو لپاره اصول ټاکلي او له سړو سره د لواطت نه کولو لپاره یې هم څه اصول ښودلي، لکه دا چې سړي یې د ښځو او ښځې یې د سړو له مشابهت نه منعه کړي او سړو ته یې دا سپارښتنه هم کړې، چې د ځان لپاره باید نېک دوستان پیدا کړي.

نو کوم سړی، چې د دې اصولو او سپارښتنو پابندي وکړي، ان شاء الله، چې له ګناهونو نه به بچ شي؛ خو غم دا دی، چې له ځارویو سره بد فعلي کوونکو کسانو سره څه وکړو او په څه ډول یې له دې ګناه نه بچ کړلای شو؟

داسې کسان باید پر دې پوه شي، چې یوه ورځ به د الله تعالی پر وړاندې ودرېږي او الله تعالی به ترې د یوې یوې خبرې حساب اخلي.

**له ځارویو سره د بد فعلۍ سزا:**

له ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((چا چې له څاروي سره بد فعلي وکړه؛ نو ویې وژنئ او ورسره هغه څاروی هم له منځه یوسئ.))

علماء هم د داسې سړي د سزا په اړه لاندې مختلف نظرونه لري:

۱- که واده کړی وي، باید رجم شي او کنه نو سل دُرې دې ووهل شي.
۲- په هر حال کې باید ووژل شي، واده کړی وي او که نه.
۳- که څاروی یې خپل وي، سزا ورته نشته او که پردی وي، باید په

ډرو ووهل شي.

۴. داسې کس بايد تهديد او وډېرول شي او که شاروی يې خپل وي، بايد ذبحه او غوښه يې ونه خوړل شي او که پردی وي؛ نو بايد ذبحه نشي.

۵. د وخت حاکم، چې کومه سزا ورته وټاکله، همغه پرې تطبيقېږي.

ابن حزم رحمه الله فرمايي: د دې ګناه سزا يوازې ګواښل دي، ځکه دې کس يوازې يو بد کار کړی. له همدې امله د امت علماء پر دې خبره يوه خوله دي، چې له شاروي سره بد فعلي کول ناوړه کار دی؛ خو که چا دا کار وکړ؛ نو بايد يوازې تهديد شي.

## څلورم فصل

## له حیض او نفاس لرونکې ښځې سره کوروالی کول

اسلامي شریعت لوی، تلپاتې او هر ډول ګمراهۍ نه پاک دین دی، ستاینکي یې په ستاینه نه مړېږي، داسې اصول او قواعد یې ټاکلي، چې د عقل څښتنان ورته ګوته په غاښ دي، ان دښمنان یې هم پر ریښتینولۍ د زړه له تله اعتراف کوي او انسان، چې څومره هڅه وکړي، د دې دین په څېر پوره او کره قانون نشي جوړولای، ځکه دا دین هغه ذات نازل کړی، چې پر هرڅه پوه او حکیم دی؛ نو له همدې امله ښايي، چې انسان د دې پر وړاندې یوازې سمعنا واطعنا ووايي او په پوره ډول یې ومني.

د الله تعالی حکمت دا وايي، چې له ښځې سره د حیض او نفاس په حالت کې کوروالی کول ناوړه او بدکار دی او بله دا هم ده، چې سړی کله خپله ښځه د حیض په حالت کې ویني، نو کرکه ترې کوي؛ نو له همدې امله ښځې ته پکار ده، چې د حیض پرمهال خپل خاوند ځان ته را پرېنږدي ترڅو د الله تعالی پر وړاندې مجرمه ونه بلل شي.

**د ناپاکۍ پر مهال ښځې ته نږدې کېدل:**

الله تعالی فرمايي:

((وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ۭ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ فَاعْتَزِلُوا النِّسَاۗءَ فِي الْمَحِيْضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوْھُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ فَاِذَا تَطَهَّرْنَ فَاْتُوْھُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّـوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿٢٢٢﴾.)) (البقرة: ٢٢٢)

ژباړه: او دوی له تا نه پوښتنه کوي، چې د حیض څه حکم دی؟ ووایه هغه یو د پلیتۍ حالت دی، په هغې کې له ښځو نه بېل اوسئ او هغو ته مه نژدې کېږئ ترڅو هغوی پاکې او سوتره شوې نه وي، بیا چې کله هغوی پاکې شي؛ نو له هغو سره هغه شان یوځای شئ، چې الله درته امر

کړې دي، د الله تعالی هغه خلک خوښېږي، چې له بدی، نه لاس واخلي او سپېڅلتیاغوره کړي.

علامه سعدي رحمه الله فرمايي: له دې ایت نه معلومه شوه، چې د حیض پر مهال باید سړی له ښځې سره له نامه نه ښولې تر زنګونونو پورې له جامې پرته یوځای نشي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم، چې به کله د خپلو بیبیانو خوا ته ورغی او هغوی به د حیض په حالت کې وې؛ نو هغوی ته به یې حکم کاوه، چې لنګ وتړي.

ام المؤمنین عایشه رضي الله عنهما فرمايي: کله چې به له موږ، نه کومه یوه د حیض په حالت کې وه او رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورسره د یوځای کېدو اراده لرله؛ نو حکم به یې ورته کاوه، چې پر خپل شرم ځای دې یوه ټوټه وتړي او بیا به ورسره ځای کېده.

(بخاري، کتاب الحیض)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: په دې حدیث کې له یوځای کېدو نه مراد جماع نه ده، بلکې یوائې د بدن او پوستکي یوځای کول دي.

**له حائضې ښځې سره د یوځای کېدلو ډولونه:**

علامه نووي رحمه الله فرمايي: له حائضې ښځې سره د یوځای کېدلو (بدن لګولو) درې ډولونه دي؛ خو دا خبره ښکاره ده، چې جماع یا کوروالی کول ورسره حرام دي:

۱- علماوو پر دې خبره اتفاق کړی، چې سړی د حیض په دوران کې د خپلې ښځې له نامه نه تر زنګونونو پورې برخې نه باید ځان وساتي.

۲- د ښځې له شرم ځای نه پرته، چې سړی د بدن له کوم ځای نه وغواړي، خپل خواهش پوره کولای شي، که څه هم، چې ورنونه او یا له نامه تر شرم ځای پورې د کېدې برخه وي؛ خو په دې کې د علماوو درې اقوال دي:

لومړی: ځینې وایي دا کار حرام دی.

دویم: ځینې وایي دا کار مکروه تنزیهي دی او همدا قول راجح هم دی.

دریم: ځینې نور وایي، چې که سړی پر خپل ځان واده وي، چې جماع به نه کوي؛ نو بیا دا کار ورته جایز دی او کنه نو حرام دی.
(شرح النووي، صحیح مسلم)

علامه ابن عثیمین رحمه الله فرمایي: زموږ په نزد همدا دریم قول راجح دی او که د ښځې او سړي د شرم ځایونو ترمنځ کومه ټوټه وي یا نه وي، پروا نه کوي؛ خو چې وي، غوره ده، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو بیبیانو ته د ټوټې ترلو حکم کړی و ترڅو وینه او یا بل څه ترې را ونه وځي.

پوښتنه: په یوه حدیث کې راغلي دي، چې یو چا له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، چې د حیض په حالت کې ښځه تر کومې اندازې پورې سړي ته حلاله ده؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((مَا فَوقَ الْإِزَارِ))

ژباړه: له شرم ځای نه پرته نور ټول بدن.

نو په داسې حال کې، چې علماوو دویم صورت غوره بللی، د دې حدیث ځواب به څه وي؟!

ځواب: اول دا، چې دا حدیث پر تنزیهي کراهت دلالت کوي.

او دوهم دا، چې دا حدیث د هغه چا په اړه صدق کوي، چې پر خپل ځان واده نه وي او دا ویره ورسره وي، چې که د ښځې تر ورنونو پورې ورسېږي؛ نو کېدای شي، چې کوروالی هم ترې وشي. او همدارنګه د نفاس لرونکې ښځې حکم هم همدا دی.

پنځم فصل

## له ښځې سره د شا له لورې کوروالی کول

که څوک دا ګومان کوي، چې زما ښځه ماته حلاله ده او له هرې لارې او هر ډول، چې وغواړم، ورسره یوځای کېدای شم، که څه هم، چې د شا له لورې ولې نه وي؛ نو دا سړی په جهالت کې پروت دی، ځکه له ښځې سره د شا له لورې یوځای کېدل حرام دي، ځکه، چې هغه د ګندګۍ لاره ده او له شریعت پرته عقل هم دا غوښتنه کوي، چې سړی باید د شا له لورې له ښځې سره یوځای نشي.

بله دا، چې دا خو ښکاره لواطت دی او سلیم انساني فطرت ترې کرکه کوي او پر داسې سړي لعنت هم ویل شوی دی.

سړی باید پر دې خبره هم پوه شي، چې که له خپلې ښځې سره د شا له لورې یوځای شي؛ نو د هغې په سترګو کې به پرېوځي او کوم خلک، چې په دې ناوړه کار کې اخته دي؛ نو وجه یې یوازې د هغوی جهالت او له دین نه ناخبري ده. له همدې امله مسلمان ته ښایي، چې حلال او حرام وپېژني.

**د دې ګناه د حرمت دلیل:**

الله تعالی فرمایي:

((نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ۖ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ.)) (البقرة: ۲۲۳)

ژباړه: ستاسې ښځې ستاسې کښتونه دي، ستاسې خپله خوښه ده څنګه مو چې زړه غواړي، هغه شان په خپل کښت کې تصرف وکړئ.

علامه سعدي رحمه الله فرمایي: د مخې له لورې جماع کوې او که د شا له لورې، کولای شې؛ خو دومره ده، چې د جماع ځای باید د ښځې مخه (شرم ځای) وي، نه شا، ځکه د کښت ځای مخه ده او ماشوم هم له هماغه ځایه پیدا کېږي. (تیسیر الکریم الرحمن)

رسول الله صلى الله عليه وسلم هم د دې کار پر کوونکي لعنت ويلی، له عقبه ابن عامر رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

((کوم خلک، چې د شا له لورې له خپلو ښځو سره يوځای کېږي، پر هغوی دې لعنت وي.)) (الکامل د ابن عدي)

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

((څوک، چې د شا له لورې له خپلې ښځې سره يوځای شي، الله تعالی به ورته د قيامت پر ورځ ښخي ونه ګوري.)) (مشکاة، کتاب النکاح)

له خزيمه بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

((الله تعالی د حق له بيانولو حياء نه کوي؛ نو له خپلو ښځو سره د شا له لورې مه يوځای کېږئ.))

او په يوه بل حديث کې راځي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

((الله تعالی له ښځو سره د شا له لورې يوځای کېدل منعه کړي دي.))

## شپږم فصل

### په لاس سره خپل شهوت پوره کول (استمناء)

دا ناوړه عادت هم په ټولنه کې د ښځو د بې پردګۍ او بې حيا کېدو له امله را پيدا کېږي، ځکه الله تعالی ښځو ته د حيا کولو څه حدود ټاکلي او د پردې کولو پابندي يې پرې لګولې ده؛ خو ظلم يې پرې نه دی کړی، لکه، چې فرمايي:

((اِنَّ اللّٰهَ لَا یَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ .)) (النساء: ٤٠)

ژباړه: الله تعالی پر هېچا د يوې ذرې په اندازه هم ظلم نه کوي.

خو د افسوس وړ خبره دا ده، چې ښځې نن سبا خپل ارزښت له لاسه ورکړی، د ماشومانو د يوې نانځکې په څېر ګرځېدلې، چې هر څوک ورسره لوبې کوي او داسې اور ترې جوړ شوی، چې وچ او لامده هر څه له ځانه سره سوځوي. له همدې امله د سړي په بدن کې، چې د شهوت کوم اور دی؛ په اسانۍ سره د ښځې له لورې د شهوت را پارونې له اور سره يوځای کېږي. نن سبا په هر ځای کې بې حيايي او بربنډتوب زيات شوی تر دې، چې اوس پخپله مسلمانې ښځې د اسلام او مسلمانانو پر خلاف استعمالېږي او د دوی نادودې اوس هغه حالت ته رسېدلې، چې وايي:

((تجعل الحليم حيران، والشباب بلا شراب سكران.))

ژباړه: له صبرناک سړي نه لاره ورکوي او ځوانان له شرابو پرته نشه کوي؛

کله چې ښځه د اخبارونو ښکلا وي، خلک ځان ته او ځان نورو ته مايله کړي، په ورځپاڼو او مجلو کې يې لوڅ او شهوت پاروونکي عکسونه خپاره شي؛ نو سړی د خپل را پارولي شهوت تنده په خپل لاس سره ماتوي او په دې توګه خپله ځواني بربادوي، په داسې حال

کې، چې په خپل لاس سره شهوت پوره کول حرام کار دی، ځکه الله تعالی په قران کریم کې ښکاره اعلان کړی، چې سړی یوازې له دوو ځایونو څخه خپل شهوت پوره کولای شي:
١- له خپلې ښځې څخه.
٢- له خپلې وینځې څخه.
نو اوس، چې کوم سړی له دې دوو ځایونو نه پرته له بل هر ځای نه خپل خواهش پوره کړي؛ نو ظالم دی او حرام کار یې ترسره کړی دی.
الله تعالی فرمایي:
((وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗ.)) (النور: ٣٣)
ژباړه: او څوک، چې د نکاح (اسباب) ونه مومي، هغوی باید پاک لمني غوره کړي تر دې پورې، چې الله په خپلې پېرزوینې سره هغوی شتمن کړي.
له دې ایت نه هم معلومېږي، چې په لاس سره شهوت پوره کول حرام دي، ځکه الله تعالی د پاک لمنۍ حکم کړی او د الله تعالی د حکم منل واجب دي او دوهمه خبره پکې دا ده کوم سړی، چې نکاح نشي کولای؛ نو الله تعالی هغه ته هم د پاک لمنۍ امر کړی او بله کومه لاره یې نه ده ور ښودلې؛ نو که په لاس سره شهوت پوره کول جایز وای، الله تعالی به یې حکم کړی و.
**په لاس د شهوت پوره کولو زیانونه:**
١- د سړي مردانه قوت کمزوری کېږي.
٢- د سړي اعصاب او ذهن کمزوري کېږي.
٣- سړي ته د ژر انزال کولو ناروغي پیدا کېږي، چې د هغې له امله سړی د خپلې ښځې خواهش نشي پوره کولای.
٤- د ملا درد پیدا کوي.
٥- دماغ کمزوري کوي.

٦ـ حافظه کمزورې کوي.
٧ـ سړي ته ژرغصه ورځي.
٨ـ سړی د خپلې ښځې خواهش په پوره توګه نشي پوره کولای؛ چې له امله يې د دواړو ترمنځ کينه او کرکه پيدا کېږي.

**ډېر استغفار ويل، ګناهونه لمنځه وړي:**

څوک، چې په دې ناوړه عادت اخته وي، شيخ ابوالفضل ورته د ډېر استغفار ويلو نصيحت کړی دی، ځکه استغفار:

((يمحوا الذنوب و يذهب الهموم))

ژباړه: ګناهونه له منځه وړي او غمونه ختموي.
په حديث شريف کې راځي:
((څوک، چې د واده کولو توان لري، واده دې وکړي او څوک يې، چې توان نه لري؛ نو روژه دې ونيسي، ځکه روژه شهوت ماتوي.))
نو کوم سړی، چې دې ناوړه عمل اخته وي، ورته پکار ده، چې ورو ورو د خپلې ناروغۍ درملنه شروع کړي او روژو ته مخه کړي. بله دا، چې داسې کس بايد خپل خيالات پاک کړي، د قران کريم تلاوت دې وکړي، د الله تعالی ذکر دې پر ژبه جاري ساتي او ښه ښه کتابونه دې مطالعه کړي ترڅو له بديو نه لرې شي.
الله تعالی ته سوال کوو، چې موږ او تاسې له دې ناوړه عمل نه وساتي.

اووم فصل

## همجنس پرستي

د دې عنوان په لیکلو راته حیاء راځي او داسې کومه مناسبه کلمه مې ذهن ته نه راځي، چې د دې عنوان پرځای یې وکاروم؛ خو له دې ټولو سره سره یې لیکل ضروري دي، په داسې حال کې، چې دې ځای ته په را رسېدو مې سینه په درد شوه، خولې رانه وبهېدې او اوښکې مې روانې شوې، ځکه پخوا به یو انسان د داسې حیاء سوځوونکو کارونو تصور هم نشو کولای او اوس، چې حیاء او تقوی له منځه تللې، ښځو او سړو په ډله ییزه توګه دې ناوړه عمل ته مخه کړې.

له ابوسعید الخدري رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«هیڅ نارینه باید د بل نارینه عورت ته ونه ګوري او ښځه هم باید د بلې ښځې پټ ځای ته ونه ګوري او دوه نارینه باید په یوه څادر کې ځان پټ نه کړي او دوه ښځې دې هم دا کار نه کوي.»

(مسلم، کتاب الحیض)

له دې پرته نور حدیثونه هم شته، چې د دې ناوړه عمل حرمت ترې ثابتېږي او څوک، چې په دې عمل اخته وي، باید پوه شي، چې حرام کار ته یې لاس اچولی دی.

## څلورم باب
## له حرامو لارو څخه د شهوت پوره کولو زیانونه

په دې باب کې لاندې نهه فصلونه دي:
لومړی فصل: اخروي زيانونه يې.
دوهم فصل: پر زړه يې اغېزې.
درېيم فصل: روحاني زيانونه يې.
څلورم فصل: ديني زيانونه يې.
پنځم فصل: اخلاقي زيانونه يې.
شپږم فصل: دنيوي او ټولنيز زيانونه يې.
اووم فصل: پر نفس يې اغېزې.
اتم فصل: پر کورنۍ يې اغېزې.
نهم فصل: پر بدن يې اغېزې.
نن سبا، چې کوم خلک په ګناهونو او شهوتونو کې اخته شوي، هغوی په حقيقت کې خپل دنيا او اخرت بربادوي. موږ ترې هيله کوو، چې راشي او د دې ګناهونو دنيوي او اخروي زيانونه دې مطالعه کړي. له همدې امله په دې باب کې د ګناهونو د زيانونو يادونه کوم ترڅو خلک پرې وپوهېږي او ګناه پرېښودل ورته اسانه شي، ان شاء الله.

**لومړی فصل**

**له حرامو لارو نه د شهوت پوره کولو اخروي زيانونه**

حقيقت دا دی، چې د دنيا تر ټولو لوی مصيبت هم د اخرت د عذاب پر وړاندې کوچنی دی. کوم سړی، چې په ګناهونو اخته او له حق نه غافل وي، ورته پکار ده، چې په اخرت کې د خپلې رسوايۍ په اړه فکر وکړي، داسې نشي، چې له مسلمانۍ سره سره دوزخ ته ولاړ شي، داسې سړی بايد هغه منظر سترګو ته ودروي چې زړه به يې له وېرې ډک وي، سترګې به يې د اسمان پر لور نيولي وي او د تندې له امله به يې ژبه دباندې راوتې او په خپلو خولو کې به ډوب وي.

دا سړی بايد د اخرت د ژوند په اړه فکر وکړي، چې هلته به يې څه حال وي؟

((ما الذي ضيعک؟))

ژباړه: څه شي برباد کړې؟!

((ضيعک هواک حتى اتخذت دينک لهوا ولعبا.))

ژباړه: خواهشاتو برباد کړې تر دې، چې خپل دين دې ټوکې ټکالې وباله، ايمان دې کمزوری شو، نېک اعمال کم او بدۍ دې زياتې شوې او د خپلو شهوتونو په جال کې ونښتې او برباد شوې.

**د مرګ سختي:**

کله چې انسان په ګناهونو کې ژوند تېروي؛ نو د هغه مرګ هم سخت وي او دا، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپله هم د مرګ سختي ليدلې؛ نو خدای خبر، چې د ګنهکار انسان مرګ به څومره سخت وي؟

الله تعالی فرمايي:

((وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمُ ۖ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ

تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٩٣﴾.)) (الانعام: ٩٣)
ژباړه: کاشکې ته ظالمان په هغه حالت کې ولیدلای شې، چې هغوی د ځنکدن په سختیو کښې غوټې وهونکي وي او پرښتې په لاس غځولو ورته ویونکې وي، چې 'راوړئ وباسئ خپله سا، نن به تاسې ته د هغو خبرو په مجازات کې رسوا کوونکی عذاب درکړل شي، چې تاسې په الله پورې د ناحقه تور په تپلو کولې او د هغه د ایتونو په مقابل کښې مو له سرغړونې او لويي کولو ځخه کار اخيست'.
يو شاعر وايي:
زه د انسان په کبر کولو تعجت کوم، سره له دې، چې سبا قبر ته روان دی، هغه انسان، چې پیل یې له یوې ناپاکې نطفې ځخه شوی او پای يې مرگ دی؛ خو دا اوس هم په گناهونو کې اخته دی.
**د مرگ سفر:**
که سړی خپل ژوند د الله تعالی په اطاعت کې تېر کړي؛ د مرگ پر مهال به يې سفر د جنت پر لور وي او د الله تعالی ملاقات ته به روان وي؛ خو کوم سړی، چې په نفسي خواهشاتو کې اخته او له گناه نه ډک ژوند تېروي؛ نو د مرگ سفر به يې ډېر خطرناک وي، ځکه داسې انسان خپل ژوند برباد کړی او په حرامو اخته شوی و. کله چې داسې کس د قبر پر لور وړل کېږي؛ نو په افسوس سره به وايي، چې ما چېرته وړئ؟ خو هغه وخت به يې افسوس هیڅ گټه ورته نه کوي. الله تعالی موږ او تاسې له خپل عذاب نه وساتي.
له ابوسعید الخدري رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((کله چې جنازه تیاره شي او خلک يې پر خپلو اوږو پورته کړي؛ نو که مړی نېک انسان وي، وايي به، چې ما ژر تر ژره خپل قبر ته ورسوئ او که مړی گنهکار انسان وي، وايي به، چې زه دې هلاک شم، ما چېرته

او له انسان نه پرته به يې هر ساه لرونکی دا اواز اوري او که انسان وريځ؟ او له انسان نه پرته به يې هر ساه لرونکی دا اواز اوري او که انسان دا اواز اورېدلی؛ نو بېهوښه شوی به وای.)) (بخاري، کتاب الجنائز)

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((کله چې يو ګنهکار مړی پر کټ کېښودل شي؛ نو وايي، چې زما پر حال افسوس دی، ما چېرته وړئ؟))

## په جنازه وړلو کې بايد ولې تادي وشي؟

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((جنازه ژر تر ژره خښولو ته يوسئ، ځکه هغه مړی نېک وي؛ نو تاسې يې د نېکۍ پر لور وړئ او که بد وي، تاسې له خپلو اوږو څخه بد پېټی لرې کوئ.)) (بخاري، کتاب الجنائز)

دا د هغه چا حال دی، چې په هر ډول ګناهونو او بديو کې مشغول وي او خلک يې هم له شر څخه د بچ کېدو لپاره احترام کوي؛ خو په حقيقت کې ترې بېزاره وي. له همدې امله کوم سړی، چې خلک يې په خښولو کې تادي کوي ترڅو په پوره ډول يې له شره خلاص شي؛ نو د داسې سړي به په قبر کې څه حال وي؟ او د قيامت پر ورځ به په کوم حال را پورته کېږي؟

ابن حجر رحمه الله فرمايي: له دې حديث نه معلومه شوه، چې مسلمان بايد له فاسقو او فاجرو خلکو سره ناسته پاسته ونکړي.

## قبر مړي ته زور ورکوي:

له عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((دا سړی (سعد بن معاذ) هغه شوک دی، چې په شهادت سره يې د الله تعالی عرش ولړزېد، د اسمان دروازې يې پر مخ پرانيستل شوې او اويا

زړه پرېښتو ورته ښه راغلاست ووایه؛ خو قبر بیا هم هغه ته زور ورکړ او بیا پرې بېرته پراخه شو.)) (النسائي، باب ضمة القبر)
له انس رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((هیڅ مړی د قبر له زور ورکولو څخه خلاص نه دی او که څوک ترې خلاصېدای؛ نو سعد بن معاذ به ترې بچ شوی وای.)) (سنن النسائي)
علامه نسفي رحمه الله فرمايي: قبر له دې امله مړي ته زور ورکوي، چې له همدې خاورې نه پیدا شوی، ګواکې قبر د انسان مور ده او کله چې مړی به قبر کې کېښودل شي؛ نو قبر زور ورکوي؛ خو کوم انسان، چې نېک وي، قبر ډېر لږ غوندې زور ورکوي او کوم چې ګنهګار وي، هغه ته ډېر زور ورکوي.
د فاسق او فاجر انسان لپاره د قبر همدا زور ورکول هلاکت دی او هغه داسې، چې دواړه پښتۍ به یې یوه په بله کې سره ننوځي.
**د قبر عذاب**
امام قرطبي رحمه الله فرمايي: د قبر عذاب حق دی او له احادیثو نه ثابت دی.
ابو محمد عبدالحق رحمه الله فرمايي: د قبر عذاب یوازې کافرانو او منافقانو ته نه، بلکې ګنهګارو مسلمانانو ته هم ورکول کېږي.
سمرة بن جندب رضي الله عنه فرمايي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت دا و، چې کله به مو ورسره د سهار لمونځ اداء کړ؛ نو زموږ لور ته به یې مخ را واړاوه او فرمایل به یې:
((که په تاسې کې بېګاه چا خوب لیدلی وي؛ نو موږ ته دې واوروي.))
یو ځل یې، چې همدا پوښتنه وکړه؛ نو موږ ورته وویل: له موږ نه یوه هم خوب نه دی لیدلی؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((ما بېګاه خوب لیده، چې دوه سړي مې خواته راغلي، له لاسه مې

نیسي او له ځان سره مې بیت المقدس ته وړي، بیا موږ د یوه تنور په شېر سوري پر لور روانېږو، د تنور خوله تنګه او دننه پکې اور بل وي او خلک هم پکې وي، کله چې د اور لمبې پورته کېږي؛ نو خلک هم له ځان سره دومره پورته کوي، چې ګوندې دباندې يې غورځوي او کله چې يې لمبې ښکته شي؛ نو هغوی هم له ځان سره ښکته کوي، په دې تنور کې يو لوڅ سړی او ښځه هم وه؛ نو ما پوښتنه وکړه، چې دوی څوک دي؟ هغو دوو کسانو (پرښتو) راته وويل: دا زناکاران دي.))
(بخاري، کتاب الجنائز)
علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: د پيغمبرانو خوبونه هم وحې وي؛ نو له دې حديث نه معلومه شوه، چې زناکارانو ته په قبر کې هم عذاب ورکول کېږي.

**ګنهګاران به له الله تعالی سره خبرې نشي کولای:**

د قیامت پر ورځ به د زناکار سړي لپاره تر ټولو لوی عذاب دا وي، چې د الله تعالی له رؤيت (کتلو نه به محروم شي او بله دا چې الله تعالی به ورسره خبرې هم ونکړي، الله تعالی فرمايي:

((كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾)) (المطففين: ۱۵)
ژباړه: هېڅکله نه، اورمرو به په هغه ورځ دوي د خپل رب له ليدو څخه بې برخې وي.
شهيد سيد قطب رحمه الله فرمايي:

((لقد حجبت قلوبهم المعاصي و الاثام.))

ژباړه: د ګناهونو او بديو له امله د دې خلکو پر زړونو پرده غوړېدلې، ځکه نو دا خلک له خپل رب او حق نه غافل دي او د قيامت پر ورځ خپل رب نشي ليدلای.
حقيقت دا دی، چې د الله تعالی له رؤيت نه محرومېدل ډېر لوی عذاب

او لویه محرومي ده.
له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((درې کسان داسې دي، چې الله تعالی ورسره د قیامت پر ورځ خبرې نه کوي، نه یې پاکوي او نه ورته د رحمت په نظر ګوري:
۱- بوډا زناکار
۲- درواغجن بادشاه
۳- پرځمکه په کبر سره تلونکی.)) (مسلم، کتاب الایمان)

**له حوض کوثر نه محرومېدل:**

له انس رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((د قیامت پر ورځ به زما د امت څه خلک په داسې حال کې زما خوا ته راشي، چې زه به له حوض کوثر سره ولاړ یم؛ نو زه به هغوی وپېژنم؛ خو هغوی به له ما څخه لرې کړل شي، زه به ووایم: دا خو زما ملګري دي، پرېښتې به راته ووايي: ته نه یې خبر، چې دې خلکو له تا نه وروسته په دین کې څه نوي نوي کارونه (بدعتونه) را پیدا کړل؛ نو زه به ووایم: دوی دې برباد شي، دوی دې برباد شي.)) (بخاري)
علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: علماوو ویلي دي، چې څوک له دین نه مرتد شي او په دین کې بدعتونه را پیدا کړي؛ نو داسې کس به له حوض کوثر نه لرې کړل شي. همدارنګه کوم خلک، چې له حق نه مخ اړوي، ظلم کوي او په کبیره ګناهونو کې اخته وي؛ نو داسې کسان به هم له حوض کوثر نه لرې کړل شي.
د الله تعالی نافرمانه بنده به له قبر څخه د تندې په حالت کې را پورته کېږي او کله چې د اوبو څښلو لپاره د حوض کوثر خواته ورشي؛ نو له هغه ځایه به وشړل شي او داسې کس ته به د خپلو عملونو سزا ورکړل شي.

**په اور کې سوځېدل:**

له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«کله چې دوزخیان په دوزخ کې را ټول کړل شي او مسلمان هم پکې وي؛ نو کافران به ورته ووایي: ایا تاسې مسلمانان نه وئ، چې اوس له موږ سره په دوزخ کې یوځای شوئ؟ هغوی به ووایي: هو، موږ مسلمانان وو؛ خو د خپلو ګناهونو په وجه دې ځای ته راغلو؛ نو اعلان به وشي، چې د قبلې والا (مسلمانان) له دوزخ نه را وباسئ. کله چې کافران دا حالت ویني؛ نو وبه وایي: ای کاش، چې موږ هم د دوی په څېر مسلمانان وای، اوس به موږ هم له دوزخه را وتلي وای.»

له دې حدیث نه معلومه شوه، چې ګنهکار به له دوزخه را وځي؛ خو دا چې کله به را وځي، څو پوستکي به بدلوي او څومره وخت به په اور کې تېروي؟ دا نو الله تعالی ته معلومه ده.

ایا ګنهکار په دې نه پوهېږي، چې په دوزخ کې هر لوري ته د اور لمبې دي، د انسان هډوکي پکې ماتېږي، غوښه یې توږل کېږي، د سر ماغزه به یې خوټېږي، ښکتنی شونډه به یې پر سینه پرته وي او پاسنۍ هغه به یې تر پوزې رسېدلې وي.

خدای خبر، چې څومره موده وروسته به له دوزخه را وځي؛ خو دا هم په دې شرط، چې په زړه کې یې یوه ذره غونډې ایمان موجود وي او که داسې وي، چې له ګناه کولو سره سره یې ایمان هم لمنځه تللی وي؛ نو بیا خو به د تل لپاره په دوزخ کې پروت وي.

**د پل صراط سختي او اغزي:**

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«د قیامت پر ورځ به د دوزخ د پاسه یو پل ودرول شي او زه به پرې تر

تولو لومړی تېر شم، پر دې ورځ به پیغمبران هم دا دعاء کوي، چې (اللّٰهُمَّ سلم سلم) «ای الله، ماته سلامتیا راکړه.» او پر پل صراط به د سعدان د سوځوونکو اغزو په شان اغزي وي، ایا تاسې د سعدان هغه اغزي لیدلي دي؟» صحابه کرامو رضي الله عنهم وویل: هو موږ لیدلي دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «دا اغزي به په شکل کې د سعدان د اغزو په شان وي؛ خو دا چې څومره به لوی وي، دا نو الله تعالی ته معلومه ده او بیا به خلک د خپلو ګناهونو په وجه له دې پل نه پورته کړل شي «یعنې دوزخ ته به وغورځول شي او هلاک به شي.»» «بخاري»

دا غټ غټ اغزي به ګنهګاران او زناکاران سوځوي، ځکه دې کس په دنیا کې له خپل خواهش سره سم ژوند کړی و، لکه په حدیث کې، چې راځي:

((حجبت النار بالشهوات.)) «بخاري»

ژباړه: دوزخ د شهوتونو او خواهشاتو په پردې سره پټ شوی.

نو کوم کس، چې د شهوتونو دا پرده څېرې کړي، دوزخ ته به داخل شي.

ابن حجر رحمه الله فرمايي: د شهوت شاوخوا ته اور دی او څوک، چې خپل شهوت پوره کوي، دې اور ته به داخل شي.

هغه چا ته ډېر تعجب دی، چې پر دې خبره پوهېږي، چې حتی پیغمبران هم پر پل صراط د تېرېدو پرمهال د سلامتیا سوالونه کوي او پر دې هم پوهېږي، چې د خپلو ګناهونو له امله به پر پل صراط تېرېدل ورته ګران وي؛ خو بیا هم له ګناهونو نه لاس نه اخلي!

**د ګنهګارانو په حق کې شفاعت کول:**

الله تعالی فرمايي:

((وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا إِلَّا مِنْ بَعْدِ أَنْ يَأْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَرْضٰى ﴿٢٦﴾.)) (النجم: ۲۶)

ژباړه: په اسمانونو کې، چې څومره پرښتې موجودې دي، د هغو شفاعت هيڅ په کار نشي راتلای ترڅو پورې، چې الله ديو داسې چا په حق کې دهغه اجازه ورنکړي د چا لپاره، چې هغه څه عريضه اورېدل وغواړي او هغه ته يې خوښه شي.

د شفاعت له حديثونو نه ثابته ده، چې د قيامت پر ورځ خلک د الله تعالی پر وړاندې د شفاعت کولو لپاره لومړی د عيسی عليه السلام خوا ته ورشي؛ نو هغه به ورته ووايي: د محمد صلی الله عليه وسلم خوا ته ورشئ، ځکه د هغه مخکني او وروستني ټول ګناهونه بښل شوي دي؛ نو خلک به زما خوا ته راشي، بيا به زه له خپل رب نه د شفاعت اجازه وغواړم او کله چې خپل رب ووينم؛ نو په سجده به پرېوځم، بيا به الله تعالی وفرمايي:

(( ارفع رأسک، وسل تعط، وقل يسمع، واشفع تشفع.))

ژباړه: (ای محمده!) سر دې پورته کړه، څه چې غواړې، درکول کېږي، څه چې وايې، اورېدل کېږي او د چا په حق کې، چې شفاعت وکړې، قبول به شي.

بيا به زه خپل سر را پورته کړم او د الله تعالی هغسې ستاينه به شروع کړم، چې ماته يې را ښودلې، بيا به د خلکو په حق کې شفاعت کوم او زما لپاره به يو حد ټاکل شوی وي، بيا به خپل امتيان له دوزخ نه را وباسم او جنت ته به يې ننباسم، بيا به د دوهم، درېيم او څلورم ځل لپاره په سجده پرېوځم تر دې، چې په دوزخ کې به هېڅوک پاتې

نشي، پرته له هغه چا نه، چې قران را ایسار کړی وي. (بخاري)

قتاده رحمه الله فرمايي: له (هغه چې قران را ایسار کړي وي) نه هغه خلک مراد دي، چې الله تعالی د هغوی په اړه په قران کریم کې فرمايلي دي، چې دا خلک به همېشه په دوزخ کې پراته وي او په شفاعت سره هم جنت ته نشي داخلېدای. (فتح الباري)

ستا دې په خدای قسم وي! ربښتيا ووايه، چې ته د دوزخ عذاب زغملی او د تل لپاره پکې اوسېدلای شې؟ ایا په دې خبره حیاء نه درځي، چې کله له دوزخ نه را وویستل شې او درته وويل شي، چې دا سړی له دوزخ نه راوتلی دی؟!

**دویم فصل**

## له حرامو لارو نه د خواهش پوره کولو زیانونه

حقیقت دا دی، چې ایمان هم زیاتېږي او هم کمېږي او هغه داسې، چې انسان کله ګناه وکړي؛ نو پر زړه یې اغېز کوي او زیان ورته رسوي او ګناه په خپل قوت سره د زړه نېکۍ له منځه وړي او بدۍ پکې را ټوکوي.

داسې خلک ډېر زیات دي، چې زړونه یې د ګناه دایرې ته له داخلېدو سره سم بېرته را ویښ شوي او داسې خلک هم شته، چې زړونه یې تر اوږدې مودې ګناه کولو وروسته هم نه را ویښېږي او په دې توګه خپل ځان بربادوي.

څوک، چې د زنا او لواطت په زهرو سره خپل زړه خړوبوي، څه فکر کوې، چې زړه به یې روغ پاتې شي؟

نن سبا ټول پر دې پوهېږي، چې کله زړه له نېغې لارې نه بې لارې شي، بیا یې اصلاح کول ګرانېږي؛ خو دومره ده، چې که داسې انسان له ګناهونو نه لاس واخلي او رېښتینې توبه وباسي؛ نو هیله ده، چې زړه یې بېرته نېغې لارې ته برابر شي او کوم سړی، چې له ګناه کولو نه ببخي وزګارېږي نه؛ نو زړه به یې څنګه اصلاح شي؟ یو چا څه ښه ویلي: مړی په زخمي کولو نه دردېږي!

**د زړونو مهر:**

**الله تعالی فرمایي:**

((كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ۝)) (المطففين: ۱۴)

ژباړه: هېڅکله نه، بلکې حقیقت دا دی، چې د دې خلکو زړونه د دوی د بدو عملونو په وجه زنګ وهلي دي.

سید قطب رحمه الله د دې ایت په تفسیر کې لیکي: د ګناهونو له امله

پر زړونو باندې یوه ډبله پرده غوړېږي، چې له امله یې نوموړی زړه له الهي نور نه بې برخې کېږي او په کراره کراره بېخي مړ کېږي.
(في ظلال القرآن)
کله چې زړه مړ شي، بیا ترې د هېڅ خیر او ښېګڼې تمه نشي کېدای؛ نو ایا له دې نه بل لوی زیان شته، چې له یوه انسان نه د خیر تمه ونشي؟ داسې انسان ته هر ډول ګناه کول اسانه ښکاري، ځکه زړه په بدن کې د قومندان حیثیت لري؛ نو کله چې زړه مړ شي او له نېغې لارې نه کږې لارې ته واوړي، ټول بدن له ګډوډۍ سره مخ کېږي.
له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((کله چې بنده یوه ګناه وکړي، په زړه کې یې یو تور داغ پیدا کېږي او کله چې توبه وباسي، هغه توروالی له منځه ځي او که توبه ونه باسي او بیا ګناه وکړي؛ نو ورو ورو یې ټول زړه تورېږي او دا توروالی هغه مُهر دی، چې الله تعالی یې په قرآن کریم کې یادونه کړې، چې د هغوی د بدو اعمالو له امله د هغوی پر زړونو مُهر وهل کېږي.)) (ترمذي)
**د زړه توروالی او تیارې:**
حذیفه رضي الله عنه فرمایي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې واورېدل، چې فرمایل یې:
((فتنې د تورو شپو په څېر یو په بل پسې پر زړونو یرغل کوي؛ نو کوم زړه، چې په دې فتنو کې اخته شو، تور ټکی پکې پیدا کېږي او کوم زړه، چې ترې انکار وکړ، سپین ټکی پکې پیدا کېږي، تر دې، چې یو زړه به د سپینې تیږې په څېر سپین شي او تر کومه، چې ځمکه او اسمان موجود وي، هېڅ فتنه به ورته زیان ونشي رسولای، همدارنګه زړه د قیر په څېر تورېږي، لکه یوه دېګۍ، چې سرچپه شي، داسې زړه نه نېکي پېژني او نه د کومې بدۍ مخه نیسي، بلکې یوازې په خپلو

خواهشاتو پسې روان وي.)) (مسلم، کتاب الایمان)
علامه نووي رحمه الله د دې حدیث په تشریح کې فرمایي: انسان، چې کله ګناه کوي او پکې ډوب شي؛ نو په زړه کې یې تیاره پیدا کېږي او د اسلام نور ورسره ختمېږي.
((والقلب مثل الکوز فاذا انکب انصب.))
ژباړه: زړه د یوې پیالې په څېر دی، چې کله تر خولې ډک شي، هر څه ترې توییږي.
**دګناهونو اغېزې:**
امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: پر زړه باندې د ګناهونو اغېزې په لاندې ډول دي:
۱ـ د ګناه له امله د ګنهکار انسان په زړه کې له الله تعالی څخه وحشت پیدا کېږي، داسې، چې که د ټولې دنیا خوندونه ورته برابر شي، د زړه وحشت به یې ختم نشي او دا یوازې هغه خلک محسوسولای شي، چې زړه یې لږ غوندې ژوندی وي.
۲ـ د ګنهکار انسان په زړه کې تیاره پیدا کېږي او ګنهکار انسان یې داسې محسوسوي لکه سړی، چې په خپلو سترګو د تورې شپې تیارې ویني او خلک هم د ګنهکار انسان په څېره کې د ګناه تیارې او نښې لیدلای شي.
دا د هغو خلکو حال دی، چې هرې بدۍ ته ور وراندې کېږي او د هرې ګناه په سمندر کې ډوبېدو ته تیار وي؛ نو الله تعالی هم ورته د بدۍ کارونه اسانوي او په هغې سره یې په مصیبتونو کې را ګېروي.
**عشق:**
امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: الله تعالی د دوه ډوله خلکو په کیسو کې د عشق د ناروغۍ یادونه کړې ده:
۱ـ د زناکارانو په کیسو کې

۲. د لواطت کوونکو په کیسو کې.

لکه څرنګه، چې د مصر د عزیز ښځې د عشق د ناروغۍ په سبب یوسف علیه السلام ته د ګناه بلنه ورکړه؛ خو یوسف علیه السلام پاک لمنې اخیار کړه او د لوط علیه السلام قوم هم د عشق ناروغي لرله؛ نو ځکه په یوه ډېره ناوړه ګناه کې اخته وو. دې دواړو ډلو یعنې زناکارانو او لوطیانو په ښکاره خو عشق کړی و؛ خو له انجام نه یې بې خبره وو. عشق داسې یوه لاعلاجه او زهرجنه ناروغي ده، چې ډاکټران یې هم له علاج کولو نه ستړي دي او د چا په زړه کې، چې یو ځل د عشق اور بل شي، بیا یې مړ کول ډېر ګران کار دی.

**مجازي عشق او د هغې اسباب:**

کوم خلک، چې په مجازي عشق اخته وي، هغوی خپلې ګناه ته له سره ګناه نه وایي، په داسې حال کې، چې دا یوه ډېره ستره بې حیایي او یو پر بل ظلم کول هم دي، ځکه هغه داسې، چې عاشق او معشوق دواړه یو پر بل په ظلم کولو کې یو د بل مرسته کوي.

امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: یو انسان د نشه یي توکو استعمال هم وروسته تر هغې کوي، چې په مجازي عشق اخته شي. کله چې یو انسان له یوه چا سره ډېره زیاته ناروا مینه وکړي؛ نو پر وړاندې یې هر ډول نشې را جمع کېږي، لکه د خواهشاتو نشه، د شرابو نشه او د زنا نشه بیا د دې ټولو نشو پولې ماتوي او د زنا خوند داسې یو خوند دی، چې له امله یې سړی هر وخت په پرلپسې مصیبتونو او غمونو کې اخته وي.

**دریم فصل**

## د بې حیایۍ روحاني زیانونه

روحاني ناروغۍ هغه ناروغۍ دي چې الله تعالی ترې خپل بنده ګان وېرولي او له همدې امله یې شهوت ته معلومې پولې ټاکلي دي ترڅو د بنده په ایمان کې اخلاص پیدا شي او د وېرې او هیلې ترمنځ خپل ژوند تېر کړي.

د روح حقیقت یوازې الله تعالی ته معلوم دی، که د یوه بنده اړیکې له الله تعالی سره پیاوړې وي؛ نو په خپل زړه کې یو نور مومي او د زړه خوښي احساسوي او جنت ته تر تللو پورې له سکون نه ډک ژوند تېروي.

**د ګنهګار انسان مثال:**

او که د بنده اړیکې له الله تعالی سره پیاوړې نه وي؛ نو بیا، چې څومره د بې حیایۍ کارونه ترسره کړي، سکون نشي ترلاسه کولای، د داسې کس مثال الله تعالی داسې بیان کړی دی:

((فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ.)) (الاعراف: ۱۷۶)

ژباړه: نو د هغه حالت د سپي پشان شو، چې که ته پرې حمله وکړې، هم ژبه راځوړندوي او که پرې یې بږدې، هم ژبه راځوړندوي.

داسې کس له هرې ښېګڼې او خیر نه محرومېږي او داسې کس له کافرانو نه وروسته د ځمکې پرمخ تر ټولو بد انسان دی.

امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: بني ادم له ځمکې نه پیدا شوی دی او روح یې په اسمانونو کې دی او الله تعالی د روح او بدن ترمنځ یوه اړیکه پیدا کړې ده؛ نو کله چې بدن ته لوږه او بل څه پیدا شي؛ نو په دې سره روح ته داډ ترلاسه کېږي او بیا د اسمان پر لور د پورته کېدو

شوق ورسره پیدا کېږي. او کله چې بدن خړوب شي او په سوکالۍ کې وساتل شي؛ نو د انسان بدن په خاوره کې پاتې کېږي او روح یې قید کېږي او بدن، چې څومره له ګناهونو نه لرې وي، په هماغه اندازه ورسره د اسمان شوق پیدا کېږي او په پای کې داسې کېږي، چې د انسان بدن پر ځمکه او روح یې په اسمان کې وي او پر خپله برستنه ویده وي؛ خو روح یې د عرش په شاوخوا کې ګرځي را ګرځي.

**۵ رزق تنګي:**

الله تعالی فرمایي:

((وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾)) (طه: ۱۲۴)

ژباړه: او څوک چې زما له ((ذکر)) د نصیحت له درس، نه مخ واړوي د هغه له پاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي او د قیامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو.

ابن کثیر رحمه الله د دې ایت په تفسیر کې فرمایي: څوک، چې د الله تعالی له دین څخه مخ واړوي، په ژوند کې یې سکون نه پیدا کېږي، بلکې زړه یې ډېر زیات تنګېږي او بیا داسې کس هسې خوشې او بې هدفه او له شک نه ډک ژوند تېروي.

څوک، چې له هغو شیانو نه ځان وساتي چې الله تعالی پرې خپه کېږي او هغه شیان خپل کړي، چې الله تعالی پرې راضي کېږي؛ نو په دنیا او اخرت کې به بریالی او خوشحاله وي او څوک، چې له ګناهونو نه ډک ژوند تېروي؛ نو په دنیا او اخرت کې به له ناکامۍ او تاوان سره مخ وي.

**څلورم فصل**

## د بې حيايۍ ديني زيانونه

د ګناهونو له امله د انسان دين او ايمان ته هم زيان رسيږي او ډېر مصيبتونه او غمونه هم د همدې ګناهونو له امله پر انسان نازليږي، تر دې، چې پر څمکه د ګرځېدو پرمهال هم پر خپلو پر اوږو د ګناهونو داسې دروندوالی احساسوي، چې حقيقت يې يوازې الله تعالی ته معلوم دی.

**د ګناهونو ژوند خوښول:**

تاسې لږ د هغه چا په اړه فکر وکړئ، چې د ايمانداری او تقوی له عزت نه ډک ژوند د څو بدکارو ښځو ترڅنګ د اوسېدو لپاره پرېږدي، حقيقت دا دی، چې داسې انسان يو شيطان بلل کېدای شي او بس.

د هغه چا پر حال ډېر افسوس دی، چې له يوه مسلمان مور او پلار څخه پيدا او په يوه اسلامي ماحول کې پيدا شوی او لوی شوی وي؛ خو له دې سره سره بيا هم د شهواتو اور ته ورګډيږي او ګناه کول خپل عادت جوړوي.

داسې انسان ته له سره د پاک لمنۍ ژوند غوره کول ډېر ګران کار ښکاري، ځکه اوس د ګناهونو په سمندر کې ډوب شوی، الله تعالی فرمايي:

((أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾ ))(الانعام: ۱۲۲)

ژباړه: ايا هغه څوک، چې مخکې مړ و بيا موږ ورته ژوند وباښه او هغه رڼا مو ورکړه، چې د هغې په وړانګو کې هغه د خلکو په منځ کې د ژوند لاره وهي؛ د هغه چا په څېر کيدای شي، چې په تروږمو کې غورځېدلی وي او په هيڅ شان ورڅخه وتونکی نه وي؟ د کافرانو لپاره په همدې توګه د هغوی کړه وړه ښايسته کړای شوي دي.

بل ځای فرمايي:

((اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۗ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۝.)) (الجاثية: ۲۱)

ژباړه: ايا هغو کسانو، چې هغوی د بدۍ مرتکب شوي دي، دا انګېرلې ده، چې موږ به هغوی او ايمان راوړونکي اونيک عمل کوونکي سره برابر کړو، چې د هغو ژوند او مرګ يوشانته شي؟ ډېره ناوړه فيصله ده، چې دوی يې صادروي.

((وَ اتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ الَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ۝.))(الاعراف: ۱۷۵)

ژباړه: او ای محمده؛ دوی ته د هغه چا حال بيان کړه، چې هغه ته موږ د خپلو ايتونو علم ورکړی و؛ خو هغه د هغو له عملي کولو څخه ووت، په پای کې شيطان ورپسې شو تر دې پورې، چې هغه له لار ورکو څخه شو.

**تر خارويو بد خلک**

((وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيْرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۖ لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا ۖ وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ۖ وَلَهُمْ اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا ۗ اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ۗ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ۝.)) (الاعراف: ۱۷۹)

ژباړه. او داحقيقت دی، چې زياتره پيريان او انسانان داسې دي، چې هغوی مو ددوزخ له پاره پيدا کړي دي، د هغوی زړونه شته خو هغوی ورباندې فکر نه کوي، د هغو سترګې شته خو څه ورباندې نه ويني، د هغوی غوږونه شته خو څه پرې نه اوري. هغوی د څارويو په شان دي، بلکې له هغو نه هم لاپسې تېر، دا هغه خلک دي، چې په غفلت کې لوېدلي دي.

له همدې امله رسول الله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

((اللهم اني اعوذ بک من الحور بعد الکور.))

ژباړه: ای الله! زه له تا نه د دې خبرې پناه غواړم، چې له ښه سړیتوب نه وروسته بد سړی شم. (مسلم)

**د زنا له وجې د ایمان نور ختمېږي:**

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((لا یزني الزاني حین یزني وهو مؤمن ولا یشرب الخمر حین یشربها وهو مؤمن.)) (الجامع لاحکام القران)

ژباړه: زناکار د زنا کولو پر وخت مؤمن نه دی او شرابي د شراب څښلو پر وخت مؤمن نه دی.

د اهل سنت اوجماعت عقیده دا ده، چې د زنا کولو او شراب څښلو پر وخت د مؤمن ایمان له منځه ځي؛ خو له ګناه کولو وروسته یې ایمان بېرته را ګرځي. اوس پوښتنه دا ده، چې ایا را ګرځېدلی ایمان د لومړني (له ګناه څخه مخکې) ایمان په څېر دی که څنګه؟ نه، حقیقت دا دی، چې را ګرځېدلی ایمان د ګناه په اندازه کمزوری شوی وي او که سړی همداسې خپلو ګناهونو ته دوام ورکړي؛ نو وېره شته، چې ایمان یې بېخي له منځه ولاړ شي او د دوزخ ښکار شي او د دوزخ څنډې ته ورسېږي.

**غیرت له منځه تلل:**

مور په خپلو سترګو وینو کوم سړی، چې په ګناهونو کې اخته وي، په خپله کورنۍ کې د بدیو په لیدو هیڅ هم نه وایي او هغوی ترې نه منعه کوي، ځکه هغه پر دې خبره پوهېږي، چې کورنۍ یې د ده له بدو اعمالو نه خبره ده، ځکه نو چوپتیا غوره کوي او د هغوی پر بدیو

سترګې پټوي.
منه کول خو لا څه کوې، چې پخپله هم کور ته ډېرې بدۍ را ننباسي، لکه خپله کورنۍ داسې محفلونو ته وړي چېرته، چې د ښځو او سړو اختلاط (یوځای والی) وي او له ځانه سره یې د سمندر غاړو ته بیايي چېرته، چې بې حیايي خپل اوج ته رسېدلې وي او یا دا، چې سینما ته یې بیايي او په دې سره دا ګومان کوي، چې ګوندې ډېر هوښیار او پرمختللي خلک دي.
د داسې خلکو په زړونو کې له سره د غیرت په نوم کوم شی نه وي، داسې خلک حق ته باطل او باطل ته حق ته وايي او په پای کې تر څارویو نه هم بدتره کېږي. په داسې خلکو کې بیا هغه غیرت چېرته پاتې کېږي، چې په لاندې حدیث کې یې یادونه شوې.
یو ځل سعد بن عباده رضي الله عنه وویل: که زه له خپلې ښځې سره کوم پردی سړی ووینم؛ نو وبه یې وژنم. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره واورېده؛ نو ویې فرمایل:
((قسم په الله؛ زه تر تا او الله تعالی تر ما ډېر غیرتي دی.)) (بخاري)
له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

(( ان الله یغار، وغیرة الله ان یأتي الله المؤمن ما حرم الله.))

ژباړه: بې له شکه، چې الله تعالی غیرت کوي او غیرت (غوسه کېدل) یې دا دي، چې مؤمن کله د حرامو کارونو په کولو وويني.)) (بخاري)
نن سبا ډېر ګناهونه د غیرت د نشتوالي له امله ترسره کېږي او هغه داسې، چې سړی د خپل کور دروازه د هر چا پر مخ پرانېزي، که څه هم، چې پردی سړی ولې نه وي او دې کار ته څکه اجازه ورکوي، چې ګوندې پر خپله کورنۍ یې باور وي؛ خو حقیقت دا دی، چې دا باور

نه، بلکې د غیرت نشتوالی دی، چې له امله یې هغه ته دا خطرناک عمل هم کومه ګناه نه ښکاري.

امام ابن القیم رحمه الله فرمايي: څومره، چې یو انسان په ګناهونو کې اخته کېږي، په هماغه اندازه یې د زړه غیرت هم له منځه ځي او داسې حد ته رسېږي، چې بیا بدی ته د بدی په سترګه نه ګوري او کله چې دې ځای ته ورسېږي؛ نو د هلاکت دروازې ته داخلېږي.

**حیاء ختمېدل**

د ګنهکار سړي حیاء هم ورو ورو ختمېږي او دا هم ښکاره خبره ده، چې حیاء کله ختمه شي؛ نو سړی بربادېږي، ځکه همدا حیاء ده، چې سړی له بدیو نه ژغوري.

له ابن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

((خلکو، چې د نبوت له خبرو نه کومه لومړنۍ خبره اورېدلې، هغه دا ده، چې کله چې حیاء نه وي؛ نو څه، چې دې زړه غواړي، هغه کوه.)) (بخاري)

علامه نووي رحمه الله فرمايي: حیاء داسې یو خوی دی، چې سړی له بدیو نه منعه کوي او د الله تعالی د حقوقو له پایمالولو نه یې را ګرځوي. (شرح المسلم د نووي)

کله چې په یوه سړي کې حیاء پیدا شي؛ نو د خیر ټول اسباب پکې پیدا کېږي، ځکه حیاء داسې یو صفت دی، چې د انسان او د هغه د شهوتونو ترمنځ خنډ کېږي، د حیاء له امله ګناه کول ګرانېږي، په داسې حال کې، چې په ګناه سره حیاء کمزورې کېږي. یو شاعر وايي:

څومره ښېګڼې داسې دي، چې سړی یې یوازې د حیاء د نشتوالي له امله نه ترسره کوي او پرېږدي یې، ګواکې حیاء یوه دواء ده او کله چې حیاء ختمه شي، هېڅ بله دواء په درد نه خوري.

**بد انجام:**

ګنهکاران باید د خپلو ګناهونو له امله د خپل بد مرګ په اړه فکر وکړي، ځکه کېدای شي، چې همدا ګناهونه يې له دين نه د محرومۍ اوبدې خاتمې سبب شي. الله تعالی فرمايي:

((حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ ۝ لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ۝.)) (المؤمنون: ۹۹_۱۰۰)

ژباړه: (داخلک به له خپلو کړو وړونه لاس وانخلي، تر دې پورې، چې کله له دوی نه کوم يوه ته مرګ راشي؛ نو وبه وايي، چې ای زما ربه: ما همغې دنيا ته بېرته ولېږه، چې زه ورنه راغلی يم، هيله من يم، چې زه اوس په شاته پرېښې دنيا کې ښه عمل وکړم. هېڅکله نه، دا خو صرف يوه خبره ده، چې هغه يې بابېزه وايي، اوس د دې ټولو (مړه کېدونکو ترشا د دوهم ژوندانه تر ورځې پورې يوه پرده خنډ ده.)

له دې پرته نور داسې ايتونه هم شته، چې الله تعالی پکې د مرګ پر مهال د هغوی د افسوس کولو بيان کړی دی. نن ورځ انسانان په ګناهونو کې را ګېر دي او کله چې سبا د قيامت پر ورځ خپل انجام ووينې؛ نو داسې به وايي:

((حَتَّىٰ إِذَا جَاءَنَا قَالَ يَا لَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِينُ ۝.)) (الزخرف: ۳۸)

ژباړه: په پای کې، چې کله دغه انسان زموږ حضور ته راشي؛ نو خپل شيطان ته به ووايي ((کاشکې زما او ستا ترمنځ د ختيځ او لويديځ ليرې والی وای، ته خو ډېر بد ملګری شوې.

داسې انسان به د مرګ پر مهال هم همداسې افسوس کوي، انسان د شهوتونو د غلبې له امله ګناه ته مخه کوي او دا معلومه خبره ده، چې

کوم شی، چې په دنیا کې پوخ شي، د مرګ پر مهال ورته حتما را حاضرېږي. له همدې امله څوک، چې خپل ژوند د الله تعالی په اطاعت کې تېر کړي، د مرګ پر مهال به هم د الله تعالی یادونه کوي او که ژوند یې په ګناهونو کې تېر کړی وي؛ نو د مرګ پرمهال به هم د ګناه یادونه کوي (د کوم سړي بدۍ، چې د نېکیو په مقابل کې زیاتې او پر خپلو ګناهونو خوښ هم وي؛ نو دا د انسان د بدې خاتمې نښه ده.)
(احیاء علوم الدین)

له الله جَلَّجَلَالُهُ نه سوال کوو، چې موږ او تاسې له دې مصیبتونو نه وساتي، امین.

**پنځم فصل**

## د بې حيايۍ اخلاقي زيانونه

هوښيار سړی تل کوښښ کوي، چې له ګنهکارانو نه لرې واوسي، په داسې حال کې، چې ګنهکار سړی د بل ګنهکار په ليدو سره سمدستي په ګناه کې اخته کېږي.

د يوه انسان د بداخلاقه کېدو تر ټولو لوی سبب د الله تعالی له دين نه لرې کېدل او په جرئت سره ګناه کول دي. موږ دلته د ځو هغو صفاتو يادونه کوو، چې شهوت پرست خلک پکې اخته دي.

**۱ـ په معاملاتو کې بد اخلاقي او ګنځلې کول:**

دا هغه تر ټولو لومړنی منزل دی، چې له امله يې خلک له ګنهکار انسان نه بېزاره کېږي او هر ديندار او غيرتي سړی غواړي، چې له داسې سپک انسان نه لرې واوسي.

نېکان خلک په ډېرې عاجزۍ او وقار سره جومات ته ځي؛ خو بې حياء انسان د حياء د نشتوالي له امله داسې ور روان وي، ته به وايې کوم جبل ته ور روان دي، نور خلک تر ټولو لومړی جومات ته ځان رسوي؛ خو بې حياء انسان تر ټولو وروسته ورځي او تر ټولو مخکې ترې بېرته را وځي. نور خلک په خوش اخلاقۍ او نرمۍ سره خبرې کوي؛ خو بې حياء انسان بيا له اخلاقۍ نه کار اخلي او بده ژبه کاروي او که له ده سره په معامله کې له يوه چا نه غلطي وشي؛ نو د ښځې او تېريدني پرځای ورته داسې سپکې سپورې وايي، چې په اورېدو سره يې سړي ته حياء ورځي.

الله تعالی فرمايي:

((وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا ﴿٢٨﴾.))

(الکهف: ۲۸)

ژباړه: د یو داسې چا اطاعت مه کوه، چې د هغه زړه موږ له خپل یاد نه غافل کړی دی او هغه د خپل نفس پیروي غوره کړې ده او د هغه کړنلاره په افراط او تفریط باندې ولاړه ده.
بل ځای کې فرمايي:
((أَفَمَن يَمْشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِ أَهْدَىٰ أَمَّن يَمْشِي سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾.))
(الملک: ۲۲)
ژباړه: ښه فکر وکړئ، څوک، چې پرمخې روان وي، هغه د زیاتې سمې لارې میندونکی دی او که هغه، چې جګه غاړه سم په یوه هوار سرک باندې وي؟
سیدقطب رحمه الله د دې ایت په تفسیر کې لیکي: په لومړني حالت کې هغه چا ته اشاره ده، چې د ګناهونو ژوند تېروي او په دوهم حالت کې هغه چاته اشاره شوې، چې د هدایت پر لاره روان وي او ګواکې، چې پر ښېغې لارې روان دی. (في ظلال القران)
الله تعالی په حیواناتو کې هم د شهوت غریزه اېښې؛ خو عقل یې نه دی ورکړی او له همدې امله چېرته او کله چې وغواړي، خپل خواهش پوره کوي.
له بله لوري الله تعالی انسان اکرم یعنې عزتمن پیدا کړی او د هغه پر شهوت یې څه بندیزونه هم لګولي؛ خو انسان بیا هم دا ټول بندیزونه له پامه غورځوي او پخپله خوښه چې هر وخت او په هر ځای کې وغواړي، د حیواناتو په څېر خپل شهوت پوره کوي او دا وېره ورسره نه وي، چې الله تعالی یې ویني او د هغه پر وړاندې له حیواناتو نه هم سپکېږي، ځکه د شهوت ټول حدود یې مات او له پامه وغورځول.
**۲- بې زړه توب:**
بې زړه توب داسې یو ناوړه صفت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم ترې الله تعالی ته پناه وروړله او موږ هم باید ترې پناه

وغواړي، څکه بې زړه توب سرې سپکوي او د زورورو خلکو پر وړاندې
يې سر ټيټولو ته اړ باسي؛ خو حقيقت دا دی، چې د الله تعالی
رښتينې بنده ځان هېڅکله د الله تعالی له دښمنانو څخه نه وېرېږي او د
الله تعالی د دين په بيانولو کې د هيچا د ملامتۍ پروا نه کوي، په
داسې حال کې، چې ګنهکار انسان هر وخت او له هر چا وېرېږي؛ خو له
الله تعالی څخه نه وېرېږي. الله تعالی فرمايي:

((يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَى مِنَ الْقَوْلِ ۚ وَكَانَ اللهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ۝.)) (النساء: ۱۰۸)

ژباړه: دا خلک کولای شي، چې له انسانانو څخه خپل کړه وړه پټ
کړي؛ خو له الله تعالی څخه يې نه شي پټولای، هغه خو په هغه وخت
کې هم له هغو سره وي، چې کله دوی د شپې له مخې په پټه د هغه د
رضا پر خلاف مشورې کوي. د دوی پر ټولو کړو وړو د الله تعالی علم
چاپېره دی.

دا خلک په ښکاره توګه کبيره ګناهونه ترسره کوي؛ نو الله تعالی هم د
هغوی په زړونو کې نفاق پيدا کوي او په دې توګه د هغوی د بدو
اعمالو سزا ورکوي، څکه دا خلک له الله تعالی څخه نه وېرېږي؛ نو الله
تعالی هم هغوی له هر شي څخه ډاروي.

ګنهکار خلک د بې زړه توب هېڅ موقع له لاسه نه ورکوي او له هر
وړوکي او غټ شي نه وېرېږي او د خلکو په سترګو هم ذليل او پرېوتي
وي.

الله تعالی فرمايي:

((سُنَّةَ اللهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللهِ تَبْدِيلًا ۝.))
(الاحزاب: ۶۲)

ژباړه: دا د الله تعالی کړنلاره ده، چې د دغسې خلکو په باب له پخوا نه

را روانه ده او ته به د الله تعالی په کړنلاره کې هیڅ تبدیلي ونه مومې.
۲- امام غزالي رحمه الله فرمايي: د ښو اخلاقو ښې څلور دي:
۱- حکمت
۲- شجاعت
۳- پاک لمني
۴- انصاف کول
او نه دې پرته، چې څومره ښه خویونه دي، هغه د دې څلورو تابع دي. (احیاء علوم الدین)
ایا کوم عقلمن سړی دا خبره کولای شي، چې ګنهکار انسان دې حکیم، زړور، پاک لمنی او عادل وي؟
نه، هېڅکله به دا خبره ونکړي، ځکه چاته، چې حکمت ورکړل شوی وي، هغه ته ډېرې ښېګنې په نصیب کېږي، په داسې حال کې، چې ګنهکار سړی له ښېګڼو نه په ډېر لرې وي.
زړورتوب د حکمت جزء ده؛ نو څوک، چې زړور حکیم نه وي، له اصلاح نه ډېر د فساد سبب کېږي او ګنهکار انسان له دې څلورو وارو اصولو نه تش وي؛ نو ښه اخلاق به په کې له کومه شي؟!

**شپږم فصل**

## د بې حيايي، دنيوي او ټولنيز زيانونه

ګنهكاران هم عجيبه خلک دي، له يوې خوا كبيره ګناهونه كوي او بيا له الله تعالى نه د نعمتونو سوالونه هم كوي، هم په ګناهونو او جسم خرڅونه كې اخته دي او د الله تعالى د رحمت هيله هم لري؛

اى ګنهكارانو! له خپله ځانه پوښتنه وكړئ، چې پر تاسې دا غمونه او فقر له كومه راغى؟ د خير او ښېګڼې دروازې مو ولې پرمخ وتړل شوې؟ ځمكې مو ولې شاړې شوې؟ او ولې مو ورځ تر بلې باغونه او كښتونه له منځه ځي؟؛

غم دا دى، چې ګنهكاران اصلا پر دې خبرو هېڅ فكر نه كوي، په داسې حال كې، چې د دې ټولو سوالونو ځوابونه د رڼې ورځې په څېر روښانه دي او هر ګنهكار پر دې هم پوهېږي، چې د خپلو ګناهونو فصل په خپله رېبي؛ خو بيا هم په غفلت كې پروت دى؛

**له رزق نه محرومېدل:**

هر ګنهكار پر دې خبره پوهېږي، چې په زنا او نورو بې حيائيو كې ككړ خلک له پيله غريب وي او كه څه هم، چې شتمنو خلكو غريبانو ته د پيسو په وركولو سره ګناهونه ډېر ښايسته كړي دي؛ خو حقيت دا دى، چې كه نن نه وي، سبا به ضرور دا خلک په فقر او نادارۍ كې ګېر شي او كه دا خلک له سره فقيران هم نشي او ورځ تر بلې يې شتمني زياته شي، بيا هم الله تعالى ورته عذاب ليكلى دى او د نېكانو خلكو د ډاډ لپاره يې دا ايت نازل كړ ترڅو هغوى پرېشانه نشي، فرمايي:

((أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُونَ ۝.))

(الاحقاف: ۲۰)

ژباړه: تاسې خپله برخه نعمتونه پخپل دنیوي ژوند کې پای ته ورسول او تاسې د هغو خوند واخیست؛ نو کوم تکبر، چې تاسې په ځمکه کې په ناحقه وکړ او کومې نافرمانۍ، چې تاسې وکړې، د هغو په مجازات کې به نن تاسې ته د ذلت عذاب درکړ شي.

او په یوه بل ځای کې فرمايي:

((وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ.))

(الطلاق: ۲،۳)

ژباړه: څوک، چې له الله تعالی نه په وېرېدو کار وکړي، الله تعالی به د هغه لپاره له ستونزونه د وتلو کومه لاره پیدا کړي. او هغه ته به له داسې لارې نه روزي ورکړي، چې هغه لوري ته د هغه ګومان هم نه رسیږي.

له پورته ایت نه دا خبره معلومه شوه، چې لکه څرنګه چې په تقوا سره فقراو نیستي ختمیږي، په ګناه سره په رزق کې کموالی راځي.

له ثوبان رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

((بنده د ګناه کولو له امله له هغه رزق نه محرومیږي، چې ورته لیکل شوی وي.)) (مسند امام احمد)

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((جبرائیل علیه السلام زما زړه ته دا خبره وغورځوله، چې یو انسان تر هغې پورې نه مړ کېږي ترڅو، چې خپل رزق پوره نه کړي؛ نو تقوا خپله کړئ او په ښه شکل له الله تعالی نه غوښتنه وکړئ، ځکه د هغه خزانې د هغه له اجازې پرته نه ترلاسه کېږي.))

(مشکلة الفقر وکیف عالجها الاسلام)

**عذاب:**

الله تعالی فرمايي:

((فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ۝)) (العنکبوت: ۴۰)

ژباړه: په پای کې موږ هر یو د هغه په ګناه سره ونیوه، بیا له هغو نه په چا باندې موږ کاڼي اوروونکی باد ولیږه او ځوک یوې قوي چاودنې ونیول او ځوک مو په ځمکه کې ننویستل او ځوک مو غرق کړل، الله تعالی پر هغوی ظلم کوونکی نه و، مګر هغوی خپله پر خپل ځان ظلم کاوه.

دا د پخوانیو خلکو حال و، چې له فسق او فجور نه ډک ژوند یې تېراوه او په پرلپسې توګه یې د حق تکذیب ته ملا تړلې وه؛ نو پایله یې دا شوه، چې الله تعالی په دنیا کې را ونیول او په اخرت کې به یې عذاب تر دې هم سخت وي.

له همدې امله که نن هم خلک په ګناهونو او نافرمانیو کې اخته شي، الله تعالی به یې د همغوی په څېر را ونیسي او سزا به ورکړي.

ابن القیم رحمه الله فرمايي: پر عادیانو د سخت باد عذاب چا راووست، چې له امله یې هغسې پیاوړي خلک د خرما د تنې په څېر پر ځمکه یخ پخ پراته وو؟!

هغه کوم ذات دی، چې په باد سره یې د هغوی کېنتونه او باغونه یو مخ له منځه یوړل او دا خلک تر قیامته پورې د نورو امتونو لپاره د عبرت نمونه شول؟!

د لوط علیه السلام قوم ولې تر اسمانه پورته کړل شو او له هغه ځایه بېرته ځمکې ته را وغورځول شول؟!

ځواب دا دی، چې د دې ټولو عذابونو سبب له ګناهونو ډک ژوند تېرول او، چې دوی یې له امله برباد شول.

له ام سلمة رضي الله عنها نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

((کله چې په یوه قوم کې ګناه عامه شي؛ نو الله تعالی هم پرې خپل عمومي عذاب را نازلوي او هغوی ټول پکې رانیسي.))

(مسند امام احمد)

له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

((کله چې په کوم ځای کې زنا او سود عام شي، الله تعالی پرې خپل عذاب نازلوي.)) (غایة المرام)

**په وچه او لمده کې فساد خپرېدل:**

الله تعالی فرمایي:

((ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾.)) (الروم: ٤١)

ژباړه: په وچه او لمده کې فساد خپور شوی د خلکو د خپلو لاسونو په عملونو سره ترڅو، چې په هغو باندې د هغو د ځینو عملونو خوند وڅکي، ښایي، چې هغوی را وګرځي.

سید قطب رحمه الله فرمایي: د خلکو د ګناهونو له امله پر ځمکه باندې افتونه نازلېږي او په خلکو کې عجیبې او غریبې ناروغۍ خپرېږي او الله تعالی دا کار ځکه کوي، چې خلک له ګناهونو نه لاس واخلي او خپل ځانونه اصلاح کړي.

له هغو ګناهونو څخه، چې په اسلامي هېوادونو کې د خپرو شوو ګناهونو یوه ښکاره بېلګه دا هم ده، چې د ښځو او سړو اختلاط (ازاده

يوځای کېدنه، پکې عامه شوې او زموږ سړکونه، بازارونه، د سمندر غاړې او حتی کورونه يې ښې بېلګې دي.
د ويډيوګانو په عامېدلو سره د خلکو له زړونو نه ايمان کډه کړې، چې له امله يې اوس زموږ ځوانان هغه پخواني غيرتي ځوانان نه دي پاتې، ځکه ځواني يې پر همدې شيانو بايللې او د شهوت اور يې داسې په ځپو شوی، چې هر شی له ځانه سره سوځوي.
د سينماوو عامېدل يوه بله ستونزه ده، چې ښځې او سړي پکې په ازاد ډول يو د بل تر څنګ کېني، په داسې حال کې، چې هلته تياره هم وي او کله چې په فلم کې کومه فاحشه صحنه را ښکاره شي؛ نو يو بل ته لا نږدې کېږي.

**هلاکوونکې وباء، مرګ او تکليفونه:**

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
«ای مهاجرينو! پنځه شيان داسې دي، چې زه پکې ستاسې د اخته کېدو نه الله تعالی ته پناه وروړم... او له هغو نه يو دا دی:
په کوم قوم کې، چې ښکاره بې حيايي عامه شي؛ نو الله تعالی پکې داسې وباء او لوږه ګډوي، چې د هغوی په مخکېنيو خلکو کې نه وي تېره شوې.»
دا چې زموږ ترمنځ جنسي بې لاري خپره ده، له همدې امله د ايډز په څېر لاعلاجه ناروغۍ هم په ډېرېدو دي، چې سړی تر مرګه رسوي. له ايډز پرته ځينې نورې داسې ناروغۍ هم شته، چې په مختلفو هېوادونو کې د پراخه بې حيايۍ په سبب خپرې شوي او خلکو يې مخکې مثال هم نه وليدلی.
موږ هم په خپلو سترګو وينو، چې د داسې فاسقو او فاجرو خلکو عمرونه ډېر لږ وي او ژر تر ژره مړه کېږي. له بريده رضي الله عنه نه

روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
((کله چې په کوم قوم کې بې حيايي عامه شي، الله تعالی پرې مرګ مسلط کوي.)) (سنن الکبری د بيهقي)

**د کورني نظام ختمبدل:**

کله چې سړی له سړو او ښځه له ښځو نه په ازاد ډول خپل شهوت پوره کوي؛ نو د واده رواج له منځه ځي او په بشري نسل کې کمی راځي.
همدارنګه کله چې سړی له ښځې نه په ناروا توګه خپل خواهش پوره کوي؛ نو په دې سره هم نسل کمېږي، ځکه داسې خلک عموما داسې دواګانې استعمالوي، چې حمل يې له منځه يوسي او بچی يې ژوندی پاتې نشي، ګوندې بيا به يې خرچه او ساتنه د همدوی په غاړه وي؛
په داسې کولو سره که له يوې خوا نسل کمېږي؛ نو ترڅنګ يې داسې ناروغۍ هم خپرېږي، چې سړی د مرګ کومې ته رسوي او د رزق د تنګېدو سبب هم ګرځي تر دې، چې که د ښارويو د له منځه تللو وېره نه وای، يو څاڅکی باران به نه وای ورېدلای.
له دې پرته د ګناه نور داسې مصيبتونه هم شته، چې انسانان ورسره د خپلو ګناهونو له امله مخ دي، لکه د زلزلو ډېروالی، چې په يوه شېبه کې لکونه خلک وژني.

**د جرمونو ډېروالی:**

ډاکټر فضل الهي وايي: د جرمونو د ډېروالي سبب هم بې حيايي او ګناهونه دي، ځکه کله چې له زنا نه ماشوم پيدا شي؛ نو داسې ماشوم د مور له مينې او شفقت نه محروم وي، ځکه د ماشوم لپاره د مور مينه ډېره ضروري ده؛ نو څومره، چې دا ماشوم لويېږي، په هماغه اندازه د ځان سپک ګڼلو په ناروغۍ اخته کېږي او د ټولنې له وګړو نه کرکه کوي او په زړه کې يې له هغوی نه د انتقام اخيستلو اور لمبې وهي. له همدې امله کله چې لوی شي، د خلکو عزت او ابرو ته لاس ور اچوي

او د هغوی له ځان او مال سره لوبې کوي.
دا چې زنا د ټولو ګناهونو جرړه ده او کله چې په یوه ټولنه کې ورته لاره پرانیستل شي؛ نو ځوانان په داسې چاپېریال کې له هر ډول وېرې پرته له ښځو سره په زوره زنا کوي او د دې کار لپاره هرڅه په کار اچوي.
نن سبا نجونې تښتول او بیا ورسره په زوره زنا کول ډېر عام شوي او هره ورځ په ورځپاڼو کې داسې زړه دردوونکي خبرونه لولو. څه موده وړاندې ځینو امریکایي ادارو دا خبر خپور کړی و، چې په (۱۹۷۷) میلادي کال کې به په امریکا کې په هرو اتو دقیقو کې یوه نجلۍ تښتول کېده او بیا به پرې جنسي تېری کېده او په دې توګه په دې کال کې ټولې (۶۳۰۲۲) نجونې له تښتول کېدو وروسته بې ستره شوې وې!
**هیښوونکي خبرونه:**
په (۱۹۶۵) میلادي کال د قاهرې الاهرام ورځپاڼې یو خبر خپور کړ، چې پکې راغلي وو: په برطانیه کې له یوه میلیون نه هم ډېر کسان په همجنس پرستۍ اخته دي. د (۱۹۸۵) میلادي کال په یوه خبر کې یې داسې راغلي وو، چې په شوروي اتحاد کې له یو لک نه زیاتو ښځو په یوې مظاهرې کې ګډون وکړ او له حکومت نه یې د جنسي ازادۍ غوښتنه وکړه!
جورج په خپل کتاب (جنسي انقلاب) کې لیکي: د امریکا راتلونکې په خطر کې ده، ځکه ټول ځوانان یې په شهوت پوره کولو کې اخته دي او تقریبا په هرو اوو کسانو کې شپږ یې د کار کولو وړتیا نه لري، تر دې، چې هغوی د خپلو مسؤلیتونو احساس هم نه کوي او دا له دې امله، چې ګناهونو د هغوی توان ورختم کړی.
په (۱۹۶۴) میلادي کال د شوروي اتحاد (۱۴۰) ډاکټرانو د پارلمان

مخې ته يوه مظاهره وکړه او غوښتنه يې دا وه، چې د جنسي ازادۍ د کابو کولو لپاره بايد يو قانون جوړ شي.

قاضي ليندسي په خپل کتاب (د نوي علم ثمره) کې ليکي: په امريکا کې نجونې له وخت نه مخکې بلوغ ته رسيږي او ډېر زيات جنسي شعور پکې ليدل کېږي.

له دې پورته حوالو پرته نورې داسې ډېرې خبرې هم شته، چې په ليکلو يې سړي ته حياء ورځي؛ خو يوازې له دې امله يې يادونه کوم، چې په غرب کې اوسېدونکي مسلمان ځوانان له الله تعالی نه ووېرېږي او له دې ګناهونو نه لاس واخلي، دا په داسې حال کې، چې که ځينو اسلامي هېوادونو ته نظر واچول شي، تر غربي هېوادونو لا ډېره بې حيايي پکې تر سترګو کېږي.

## اووم فصل

## د بې حيايۍ رواني زيانونه

ګناهونه تر ټولو لوړې ګنهکار انسان بربادوي او تر ټولو لوړې له رواني ناروغيو سره مخ کېږي، ځکه انسان، چې ترڅو پورې د الله تعالی په اطاعت کې بوخت وي او له هغه نه د خپلو نېکو عملونو د ثواب هيله ولري؛ نو د ځمکې پر مخ تر ټولو نيکمرغه انسان دی او که دنيا پرې څومره هم تنګه شي، پروا يې نه کوي او ډاډه وي، ځکه زړه يې له الله تعالی سره تړل شوی وي او د دې ايت مصداق وي، چې:

((مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝.)) (النحل: ٩٧)

ژباړه: هر څوک چې ښه عمل وکړي، که هغه نارينه وي او که ښځه، په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به موږ په دنيا کې سپېڅلی ژوند تېر کړو او اخرت کې به، دغسې خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم ورکړو.

کله چې مؤمن د نېکيو ژوند تېروي؛ نو هغه څه ته نه خپه کېږي، چې نه يې لري او هغه څه ته ډېر نه خوشالېږي، چې ورسره وي. په داسې حال کې، چې ګنهکار انسان له حق نه لرې وي او توکل يې پر اسبابو وي، د خير له هر کار نه لرې تښتي او هرې بدۍ ته په منډه ورځي، تل خپه وي او له زړه نه يې د ايمان خوږوالی ويستل کېږي او دا ځکه چې شپه ورځ د خپلو ګناهونو په نشه کې ډوب وي.

حقيقت دا دی، چې د داسې تنګ او بې خونده ژوند علاج ضروري دی، ځکه د ګناهونو له امله د ګنهکار انسان د ژوند د کاميابۍ حرکت ډېر سست وي او دا له دې امله، چې هغه يوازې په خپلو نفسي غوښتنو پسې وي او نور هېڅ شي ته پام نه کوي.

**ګناه د خرابیو جرړه ده:**
ښکاره خبره ده، چې د رواني ناروغیو او د زړه د کډوډوالي تر ټولو لوی سبب جنسي بې لاري ده، چې اوس مهال يې اور دومره تود شوی، چې له امله يې په دې بې لارۍ کې د اخته کسانو علاج ګران شوی او یوازینۍ لاره يې دا ده، چې الله تعالی ورته پر ښېغه لاره د تلو توفيق ورکړي.

که څوک غواړي، چې له دې وژونکي زهر نه نجات ترلاسه کړي؛ نو پکار ده، چې د ګناهونو له څنګل نه را ووځي، پر خپلو ګناهونو پښېمانه او له مهربان الله تعالی نه ببښنه وغواړي او توبه وباسي؛ نو له دې وروسته بیا کېدای شي، چې الله تعالی يې مصیبت ځپلی ژوند بېرته ور جوړ کړي او که ګنهکار انسان په دې علاج لاس پورې نه کړي؛ نو علاج يې ګران دی او همداسې له بدبختۍ نه ډک ژوند به يې په برخه او پړه به يې پر خپله غاړه وي.

**موږ ولې خپه یو؟**
ګنهکار انسان تل د خپل نفس د درد له امله ځورېږي، هر وخت يې څېره توره وي، چې ښکاره خلک يې له ورايه معلوموي، ژوند يې تنګ وي او تل خپه ښکاري، دا په داسې حال کې، چې ګنهکار انسان د دې ټولو بدبختیو په سبب نه پوهېږي او له دې ستونزو سره د مقابلې پرځای ځان حالاتو ته سپاري او د هغه شل انسان په څېر کېږي، چې له ځایه خوځېدای نشي.

ګنهکار انسان پر خپل ځان باور هم له لاسه ورکوي، چې له امله يې د خپل ځان په اړه هم فیصله نشي کولای؛ نو د نورو خلکو د کارونو د حل کولو په اړه به څه وکړي؟

داسې انسان د دوه زړه توب په ناروغۍ هم اخته کېږي، چې له امله يې بیا نه د دنیا او نه د اخرت کار کولای شي. لکه الله تعالی، چې فرمايي:

((مُّذَبۡذَبِينَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلٗا ۝.))(النساء: ۱۴۳)

ژباړه: د کفر او اسلام ترمنځ حیران او زړه نازړه دي. نه پوره دې خوا ته دي نه پوره ها خوا ته. څوک، چې خدای ګمراه کړی وي، ته هغه ته کومه لاره نشې میندلای.

**رواني ناروغ:**

د ګناه له امله د سړي بدن هم کمزوری کېږي او په ذهني ګډوډۍ هم اخته کېږي او د ژوند د ټولو سهولتونو له لرلو سره سره سکون نشي ترلاسه کولای. ځینې وخت له خپل ژوند نه دومره تنګ شي، چې ځان وژنې ته مخه کوي او دا ستونزه اوس په اروپا کې دومره خپره شوې، چې له حده وتلې ده.

ځینې وخت یې په عقل کې هم ستونزه پېښېږي، چې له امله یې ګنهکار انسان حق ته باطل او باطل ته حق وایي. بیا یې د ژوند هدف هم له منځه ځي او د حیواناتو په څېر شي او له دې ستونزو نه د خلاصېدو یوازینۍ لاره دا ده، چې له ګناهونو نه لاس واخلي او الله تعالی ته متوجه شي. الله تعالی دې موږ او تاسې له ذلت او بې حیایۍ نه وساتي.

اتم فصل

## پر کورنیو د بې حیایۍ اغېزې

که نن سبا د اسلامي امت حالت ته وکتل شي؛ نو موږ ته به معلومه شي، چې په هر ځای کې د ګناهونو خپروونکي او ملاتړ کوونکي د کورنیو هغه مشران دي، چې له اسلامي روزنې نه بې برخي دي او یا د داسې کورنیو اولادونه دي، چې پر عقل یې د غفلت پرده غوړېدلې وي.

په ګناهونو کې د اخته کېدلو او شهوت پرستۍ پایله دا شوه، چې کورنی نظام له منځه ولاړ، له ایمان نه خلاص شول، له اسلامي روزنې نه لرې شول او له غیرت نه یې هم لاس واخیست.

له دې پرته د ګناهونو او بې حیایۍ نور داسې زیانونه هم شته، چې اوس یې په کورنیو کې ریښې غځولې. په کوم کور کې، چې ګناهونه برلاسي وي، داسې کورنۍ خپل عزت، شهرت او درنښت له لاسه ورکوي. پر کورنیو د بې حیائیو اغېزې په لاندې ډول دي:

**څه چې کړې، هغه به رېبې:**

ایا زناکار دا ګومان کوي، چې الله تعالی ورته د خلکو له ابرو سره د لوبو کولو مهلت ورکړی او هېڅکله به یې نه رانیسي؟ ایا دا خبره یې هېره کړې، چې الله تعالی به له عبرت نه ډکه سزا ورکړي؟

امام شافعي رحمه الله په یوه شعر کې فرمايي:

که تاسې پخپله پاک لمني واوسئ، ښځې به مو هم پاک لمني غوره کړي او کوم کار، چې د مسلمانانو له شان سره نه ښايي، ځان ترې وساتئ. زنا یو قرض دی؛ نو که تا (په زنا کولو سره) ترلاسه کړ، پوه شه، چې ستا د کور مېرمنې به یې اداء کوي (یعنې زنا به کوي).

**له عبرت نه ډکه کیسه:**

که یو څوک څومره هم د ښو اخلاقو خاوند وي؛ خو چې اروپايي هېوادونو ته ځي راځي؛ بل انسان ترې جوړېږي، ځکه هلته بې حيايي دومره عامه ده، چې ځان ساتل ترې ګران کار دی او د بې حيايۍ ډېرې دردوونکې کيسې پکې شته دي.

همداسې يوه ريښتينې کيسه ده، چې يو کس خپل دوست ته وويل: دا چې ته له ډېرې مودې راهيسې په بې حياء اروپا کې اوسېدلی يې او هلته دې له ډېرو داسې ښځو سره زنا هم کړې ده، چې کورنۍ يې پرې خبرې هم نه دي؛ نو له ما سره انديښنه ده، چې ستا له کورنۍ سره هم همداسې ونشي. خو پر هغه يې هېڅ اغېزه ونکړه او خپلې ښځې ته يې هم پوره ازادي ورکړه او ورته يې وويل: زه پر تا باور لرم؛ نو له چا سره، چې غواړې، ليدلای او خبرې ورسره کولای شې او چېرته، چې دې زړه غواړي، تللای شې؛ نو هماغه وه، چې په پای کې يې ښځه له يوه پردي سړي سره د بې حيايۍ په حال کې په يوه هوټل کې ونيول شوه!

**اولاد ضايع کول:**

اولاد ضايع کول د بې حيايۍ د کورنۍ اغېزو يوه ښکاره بېلګه ده او کله چې په يوه کورنۍ کې بې حيايي زياته شي؛ نو اولاد ضايع کول هم پکې پيل کېږي.

دلته د يوې داسې کيسې يادونه کوم، چې پخپلو سترګو مې ليدلې.

يو ځل په خپل يوه کار پسې روان وم او له معمول سره سم ګڼه ګونه هم زياته وه. په يوه ځای کې مې وليدل، چې خلک له يوه ګاډي نه ګرد چاپېره راټول دي، لکه کومه پېښه يا جګړه چې شوې وي. هلته د پوليسو ګاډي هم ولاړ وو او ترڅنګ يې يو بل ګاډی هم و، چې دوه هلکان او دوه نجونې ترې راښکته شوې. کيسه داسې وه، چې دې دوو

هلکانو له هغو دوو نجونو سره په یوه کنډر ځای کې د ملاقات خبره کړې وه، چې هېڅوک هم هغه ځای ته نه ورتلل او د ملاقات وخت یې لس بجې ټاکلی و. پولیسو د هغوی څارنه او تعقیب پیل کړ او کله چې هغوی کنډر ته ورسېدل، پولیس پرې ورغلل او څلور واړه یې ونیول او زندان ته یې واستول ترڅو د کورنۍ مشران یې ورشي او د خپلو اولادونو له دې نادودې خبر شي او په راتلونکې کې یې سمه روزنه وکړي.

شیخ فاضل سعد الحجري په خپل کتاب (الاعمال بالخواتیم) کې لیکي: زما یوه ډېر باوري ملګرې مې راته کیسه کوله، چې د جمعې په یوه شپه مې یوه ملګرې ډېر سخت ژړل او په ښکاره یې د ژړا سبب هم معلوم نه و او ما هم ترې د پوښتنې کولو جرئت ونکړ، چې ګوندې غم یې لا پسې زیات نشي. کله چې څو ورځې تېرې شوې؛ نوومې لیدل، چې غم یې ورځ تر بلې زیاتېږي. اخر مې ترې پوښتنه وکړه، چې ولې ژاړې؟ راته یې وویل: زما کیسه ډېره دردوونکې او زړه غمجن کوونکې ده. ما ورته وویل: ته خو یې ماته واوره کنه، کېدای شي څه مرسته درسره وکړای شم؛ نو په ډېره حیاناکه لهجه یې راته وویل: زما یو دوست و، چې ډېر بدکاره و او زه به یې له ځان سره په بدیو کې شریکولم او د خپلې زده کړې وخت به یې له یوې نجلۍ سره په ملاقات کولو کې تېراوه. یوه ورځ یې له یوې نجلۍ سره په یوه کنډواله کې د لیدو خبره وکړه، کله چې هلته ولاړ او له نجلۍ سره یې زنا کول پیل کړل؛ نو یوه کوچنۍ هلک دوی ولیدل؛ خو ما هغه هلک وډار کړ، چې دا خبره باید هیچا ته ونکړي.

په همدې وخت کې زما ملګري په خپل ګاډي کې هغه نجلۍ له ځانه سره د داسې یوې ودانۍ زېرزمینۍ ته یوړله، چې لا پوره جوړه شوې هم نه وه او همهلته پټ شول او خپل ګاډی یې هم همداسې چالان

پرېښود، چې له امله يې د ګاډي ګېس زېرزمينۍ ته داخل شو او نجلۍ يې له امله ځای پرځای مړه شوه او هلک چې کله په منډه له هغه ځايه د راوتو هڅه وکړه؛ نو هغه هم مړ شو. کله چې خلکو ته خبره معلومه شوه؛ نو پوليس يې خبر کړل او هغوی راغلل؛ خو دا داسې وخت و، چې هغوی دواړو له دې نړۍ سترګې پټې کړې وې او خدای خبر، چې کله د الله تعالی پر وړاندې ودرېږي؛ نو هغه ته به څه ځواب ورکوي؟ د هغې نجلۍ کورنۍ به الله تعالی ته څه ځواب ورکړي، چې ولې يې د هغې تربيت نه و کړی او ولې يې واده کړې نه وه؟

له همدې امله پکار ده، چې ميندې او پلرونه دې لور ته پام واړوي او د خپلو اولادونو روزنې او ژر تر ژره د هغوی واده ته ملا وتړي ترڅو د هغوی او مسلمانانو عزتونه خوندي وساتل شي.

**امن له منځه تلل او د چارواکو فاسد کېدل:**

حقيقت دا دی، چې امن او سوکالي د يوه ښه ژوند لپاره ډېر ضروري شيان دي او دا هم حقيقت دی، چې ښه ژوند يوازې ښکانو خلکو ته په برخه کېږي.

پخوانی کور تر ډېره جوړ نشي پاتې کېدای او په شړېدو سره د تېزو بادونو له لاسه ډېر ژر له منځه ځي. په همدې توګه هغه کورنۍ، چې روزنه يې په سمه توګه نه وي شوې او له دين نه لرې وي؛ نو داسې کورنۍ له اروپايي تقليدونو نه نشي بچ کېدای او ډېر ژر له منځه ځي. داسې کورنۍ ډېر ژر د خپلو عملونو مزه څکي، امن او سوکالي پکې نه وي او په وړو وړو خبرو يو له بله لرې کېږي.

**د کورني سوکالۍ له منځه تلل**

- ځينې کورنۍ هغه وخت د خپلو اولادونو روزنې ته پام ور اړوي، چې هغوی لا دمخه فاسد شوي وي او بيا ځان ملامتوي؛ چې موږ ولې د دوی روزنه او پالنه ونه کړه؟ خو دا ملامتي او پښېماني اوس په درد نه

خوري، ځکه کوم مېکروبونه چې يې په کورنۍ کې خپاره شوي، د هغو تولو له منځه وړل څه اسانه خبره نه ده.

سيدقطب رحمه الله فرمايي: په کومه کورنۍ کې، چې د شهوت مېکروبونه خپاره شوي وي، هلته امن او سوکالي نه ترسترګو کېږي، په داسې حال کې، چې کورنۍ امن ډېر ضرور دی، ځکه ماشومان په کورونو کې لويېږي او روزه ترلاسه کوي؛ نو د دې کار لپاره ضروري ده، چې کور له ګناهونو نه پاک وي. (في ظلال القران)

نهم فصل

## پر بدن باندې د بې حیایۍ اغېزې

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ خوا ته مخ را واړاوه او ویې فرمایل:

((ای مهاجرینو! پنځه شیان داسې دي، چې زه پکې ستاسې له اخته کېدو نه الله تعالی ته پناه وړم... (له هغې ډلې نه یو دا دی، چې په قوم کې چې بې حیایي عامه شي، وباء او مصیبتونه هم پکې عام کېږي او داسې ناروغۍ پکې پیدا کېږي، چې د هغوی په مخکېنیو خلکو کې به یې مثال نه وي تېر شوی.)) (ابن ماجه)

داسې ویل کېږي، چې روغتیا د صحتمندو خلکو تاج وي او دا ځکه چې موږ ډېرو ورغتونونو ته ورغلي یو او هلته مو لیدلي، چې الله تعالی موږ ته د هغو ناروغانو په نسبت ډېر ښه صحت راکړی دی او کوم خلک، چې په ګناهونو کې اخته دي؛ نو د الله تعالی شکر اداء کوو، چې موږ یې د هغوی له حالت نه ساتلي یو، ځکه د هغوی ناروغي بېخي بل ډول ده.

د دې پرځای، چې دې ګنهکارو خلکو له دې ناروغیو نه عبرت اخیستلی، لا په خپل فسق او فجور کې اخته شول، چې له امله یې د غمونو غرونه په مخکې ورته ودرېدل او په خطرناکو او لاعلاجه ناروغیو اخته شول. هغوی خپله روغتیا په ناروغۍ او خپله ښکمرغي په بدمرغۍ بدله کړه، خلکو هم هغوی ته په سپکه سترګه وکتل، کوم خلک، چې له هغوی سره په ګناهونو کې شریک وو، هغوی هم ترې مخ واړاوه او په پای کې دا، چې د مرګ هیله یې وکړه، ځکه له ژوند نه بېخي نهیلي شوي دي او پر دې هم پوهېږي، چې په کومو ناروغیو، چې اخته دي، د هغې هېڅ علاج نشته؛ نو باید، چې د مرګ هیله وکړي!

**د جریان، اتشک او سوزاک ناروغۍ:**

ابوالاعلی مودودي رحمه الله فرمايي: د زنا تر ټولو لومړنی زیان دا دی، چې زناکار انسان په ډېرو تکلیف ورکوونکو ناروغیو اخته کېږي او دا ناروغۍ ورو ورو خپرېږي.

زناکار انسان تر ټولو لومړی د جریان په ناروغۍ اخته کېږي او ډاکټران وايي، چې په دې د میتیازو راوتلو په سوري کې یو زخم جوړېږي، چې ډېر لږ خلک یې په درملنه بریالي کېږي.

ډاکټر نطاسي وايي: څوک، چې یو ځل د جریان په ناروغۍ اخته شي، د ژوند تر پایه ترې نشي خلاصېدای.

اتشک او سوزک داسې ناروغۍ دي، چې ټول بدن ورسره زهرجن کېږي. دا ناورغۍ له مختلفو لارو څخه په نورو خلکو کې هم خپرېږي، تردې چې د زناکار اولاد هم پرې اخته کېږي. داسې ویل کېږي، چې په امریکا کې (۹۰٪) خلک په دې ناروغیو اخته دي او د برطانوي ښځوونکو د وینا له مخې د دې هېواد په روغتونونو کې په دې ناورغیو د اخته دوه لکه کسانو علاج شوی.

هر کال په نړۍ کې د جریان په ناروغۍ د اخته اوو لکو کسانو درملنه کېږي او (۶۵۰) روغتونونه د نړۍ په مختلفو برخو کې همدې کسانو ته ځانګړي شوي دي؛ خو له سره دې هم له دې ډلې ۶۰٪ خلک د دې ناروغیو په وجه مري.

د ښځو د ناروغیو ډاکټران وايي: هر کله چې د ښځو عملیات کېږي؛ نو له هغوی څخه تقریبا ۷۵٪ ښځې د جریان په ناروغۍ اخته دي.

په دې ناروغۍ اخته کسان د اولاد زېږولو وړتیا هم له لاسه ورکوي، د متیازو کولو پر وخت له ستونزو سره مخ کېږي، چې له امله یې له خپلې ښځې سره د یوځای کېدو پر وخت هم له مشکل سره مخ وي او په دې سره د ښځې او سړي ترمنځ کرکه پیدا کېږي.

د سوزاک د ناروغۍ له امله د سړي دمتیازو کولو پر ځای باندې دانې راخېژي او تر ورنونو پورې خپرېږي. په همدې توګه پر ښځو هم دا دانې راخېژي او له څلورو ورځو وروسته چوي او له دې پرته نورې ناروغۍ هم شته، چې د بې حیایۍ له امله را پیدا کېږي. (الحجاب)

**د ایډز بم:**

ایډز داسې یوه خطرناکه ناروغي ده، چې د بې حیایۍ په وجه خپرېږي او د الله تعالی له لوري یو لوی عذاب ورته ویلای شو.

دملک فهد د اسلامي طب د مرکز مشر ډاکټر محمد علي البار وايي: د ایډز مېکروب د اوښکې، متیازو او داسې نورو لارو څخه دباندې راوځي او که کومه ښځه په ایډز اخته وي؛ نو خپل تی رودونکي ماشوم ته د شېدو ورکولو پر مهال نوموړی مېکروب خپل ماشوم ته انتقالوي.

په همدې توګه دغه ناروغي د ناروا جنسي اړیکو، ککړې وینې، استعمال شوې پیچکارۍ او د شېدو له لارې هم له یوه نه بل ته انتقالېږي؛ خو باید یادونه وکړو، چې تقریبا ۹۰٪ خلک، چې په ایډز اخته کېږي، سبب یې همدا ناروا جنسي اړیکې دي.

د ایډز ناروغي د امریکا، اروپا، هندوستان او افریقا په شمول د نړۍ په اکثرو برخو کې خپره ده او د لا خپرېدو په حال کې ده، په ځانګړې توګه په کینیا، زمبابوې او ځینو نورو افریقایي هېوادونو کې ۸۰٪ په دې ناوړه ناروغۍ اخته دي.

**د ایډز په اړه یو راپور:**

څه موده مخکې ښاغلي محمود خطیب په المجتمع نومې مجله کې یو راپور لیکلی و، چې پکې راغلي وو: د نړۍ تقریبا دېرش میلیونه خلک د ایډز په ناروغۍ اخته دي، چې له دې ډلې یو میلیون تنه یې له پنځلسو کالو کم عمر لرونکي ماشومان دي.

په موجوده وخت کې تر دې هم ډېر خلک په ایډز اخته دي، چې ۵۰٪ یې ځوانان او ۹۰٪ یې له پرمختللو هېوادونو سره تړاو لري. ډاکټران دا وېره هم څرګندوي، چې د دې پېړۍ تر پایه به په دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر شلوېښتو میلیونو ته ورسېږي، ځکه د دې ناروغۍ درملنه او مخنیوی ستونزمن کار دی.

سږ کال په دې ناروغۍ اخته دوه میلیونه کسان مړه شوي دي او له هغه مهال، چې دا ناروغي پیدا شوې، تر اوسه له اتو نه تر یوولسو میلیونو پورې خلک مړه شوي دي. له دې ډلې نه شپږ لکه او شپېته زره یې ماشومان او ۲۶٪ یې ښځې دي. (المجتمع مجله)

## پنځم باب

### درملنه

په دې باب کې دیارلس فصلونه دي:

اول فصل: رېښتينې توبه

دوهم فصل: دعاء

درېيم فصل: واده

څلورم فصل: روژه

پنځم فصل: نظر ښکته کول

شپږم فصل: سندرې اورېدل

اووم فصل: ناوړه سوچونه

اتم فصل: له نېکانو سره ملګرتیا

نهم فصل: د نفس محاسبه

لسم فصل: د درملنې لوی اسباب

یوولسم فصل: د دوزخ اور

دولسم فصل: د جنت نعمتونه

دیارلسم: ختنه (سنت کول)

## پیلیزه

زناکارانو او په نورو بې حیائیو کې اخته کسانو ته ښايي، چې لږ پر دې خبره فکر وکړي، چې اخر ترڅو به ګناهونه ترسره کوي؟ ځان او کورنۍ ته یې د ګناهونو ګټه څه ده؟ او بالاخره نتیجه به یې څه وي؟

که داسې فکر وکړي؛ نو هیله ده، چې له ګناهونو نه منعه شي، الله تعالی ته رجوع وکړي او نېکمرغه ژوند یې په برخه شي. ارمان، چې زناکار ته د ګناه اسباب په لاس نه وای ورغلي، ارمان، چې پردیو ښځو ته یې نه کتلی او ارمان، چې د هغوی تنګو لباسونو او حرکاتو یې زړه ته لاره نه وای کړې!

ګنهکار ولې پر دې خبره سوچ نه کوي، چې ولې یې د جومات لاره پرېښې او خلک ولې ترې کرکه کوي او د شک په سترګه ورته ګوري؟

زما ګنهکاره وروره! لږ خو پر دې خبره فکر وکړه، چې خلک ولې دربانديې باور نه کوي، ولې خپل امانتونه نه درسپاري او ولې د خپل کور ساتنه درباندې نه کوي؟

ایا پر دې خبره دې فکر کړی، چې د ساه وتلو پر وخت به دې څه حال وي او ایا هغه وخت به دې کړې عیاشي په درد وخوري؟

ای ګنهکاره! اوس هم وخت دی، چې توبه وباسې او الله تعالی ته تسلیم شې، له دې ناوړه ناروغیو نه نجات ترلاسه او د سوکالۍ ژوند پیل کړې.

خدای شاهد دی، چې پر ګنهکارانو مې زړه خوږېږي او هیله کوم، چې الله تعالی یې د قبر له عذابه وساتي او د دوزخ له تاوجنو لمبو پناه ورکړي.

زما ورونو! راځئ، چې سر له همدا اوسه توبه وباسو، ځکه د توبې دروازه هروخت پرانیستې ده او د الله تعالی بښنه هم راته سترګې په لاره ده.

نن دې په مخ کې د بریا کښتۍ ولاړې دي؛ نو پکې سپور شه او د ګناه

له وېرووونکو څېو نه پرې ځان وژغوره او هیله ده، چې الله تعالی هم ستا ملاتړی شي او ګناهونه دې په نېکیو بدل کړي.

که په ریښتیا سره پر دین برابر شې او له ګناهونو نه لاس واخلې؛ نو الله تعالی دې هم له وېرووونکو او خطرناکو ناروغیو وژغوري او شفاء به درکړي، سترګې به دې د حقیقت لیدلو ته پرانیزي او ګناه کول به درته بد ښکاره کړي او په دې ډول به په دنیا او اخرت کې سرلوړی شې.

**اول فصل**

## رېښتینې توبه

توبه؛ الله تعالی ته د درسېدو لومړنی منزل دی؛ نو هر مسلمان ته ښايي، چې له خپلو ګناهونو نه په اخلاص سره توبه وباسي ترڅو سوکاله ژوند ورپه برخه او په نېکانو کې وشمېرل شي.

**د توبې شرطونه:**

د توبې د قبلېدو لپاره علماوو څه شرطونه ښودلي، چې بايد هر مسلمان پرې پوه شي، ځکه ډېر خلک دا ګومان کوي، چې د جمعې پر ورځ چې امام د خطبې پر مهال له الله تعالی نه د بښنې او توبې قبلېدو کوم الفاظ وايي، همغه کفايت کوي او بلې توبې ته اړتيا نشته او په دې توګه کله چې له جومات نه بېرته راووځي، په ګناهونو اخته کېږي؛ نه، هېڅکله داسې نه ده زما ورونو بلکې دا يوائې په دين پورې توکې کول دي او رېښتينې توبه هغه ده، چې امام محمد بن صالح العثيمين رحمه الله يې په لاندې ډول شرطونه ښودلي:

لومړی: توبه بايد يوازې او يوازې د الله تعالی د رضاء لپاره وباسي، خلکو ته د ځان ښودنې لپاره نه او نيت يې بايد دا وي، چې الله تعالی مې ګناهونه راوبښي.

دويم: بايد پر خپلو تېرو شوو ګناهونو پښېمانه شي، ځکه له پښېمانتيا نه معلومېږي، چې د نوموړي توبه رېښتينې ده.

درېيم: په کومه ګناه، چې اخته دی، هغه بايد سمدستي پرېږدي او بيا ور ونه ګرځي، ځکه کوم سړی، چې له ګناهونو نه توبه وباسي او تر هغې وروسته بيا پکې اخته شي؛ نو دا په حقيقت کې ټوکې کوي، بلکې ګناهونه بايد يوازې د الله تعالی له وېرې له وجې پرېږدي او بيا ور و نه ګرځي. بله دا چې که حقوق الله يې ضايع کړي وي؛ نو له الله تعالی نه دې بښنه وغواړي او بېرته دې پرځای کړي او که حقوق العباد

د بنده ګانو حقونه، یې تر پښو لاندې کړي وي؛ نو باید، چې د حق خاوند ته د هغه حق ور وسپاري او که د چا غیبت یې کړی وي او سړی یې ورته معلوم وي؛ نو باید، چې د هغه خواته ورشي او بښنې ترې وغواړي او که سړی ورته معلوم نه وي؛ نو د خلکو په مخ کې دې د هغه ستاینه وکړي او بښنه دې ورته وغواړي.
څلورم: د توبې ویستلو پر وخت باید دا اراده وکړي، چې په راتلونکې کې به بیا ګناه نه کوي.
پنځم: توبه باید له مرګ له راتلو او د لویدیځ له لورې د لمر تر راختلو دمخه وباسي. (شرح ریاض الصالحین)

**له الله تعالی نه د هیلې لرلو ایتونه:**

په قران کریم کې دوه ایتونه داسې دي، چې مؤمنانو ته پکې د توبې ویستلو بلنه ورکړل شوې ده او پکې ویل شوي، چې که بنده توبه وباسي، الله تعالی به یې وبښي او توبه به یې قبوله کړي.

۱- الله تعالی فرمايي:

((وَتُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝)) (النور: ۳۱)

ژباړه: ای مؤمنانو! تاسې ټول په ګډه سره الله ته توبه وباسئ، ښايي، چې بری در په برخه شي.
امام ابن کثیر رحمه الله د دې ایت په تفسیر کې لیکي: الله تعالی، چې د کومو غوره خویونو د خپلولو حکم کړی، هغه په ځان کې پیدا کړه او د جاهلیت د وخت بد کارونه او بد اخلاق پرېږده، څکه د انسان پوره کامیابي په دې کې ده، چې د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړي.

۲- په بل ځای کې فرمايي:

((إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ۝)) (البقرة: ۲۲۲)

ژباړه: د الله هغه خلک خوښېږي، چې له بدۍ نه لاس واخلي او سپېڅلتیا غوره کړي.

**شرک نه بښل کېږي:**

الله تعالی فرمايي:

((إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾.)) (النساء: ۱۱۶)

ژباړه: د الله په وړاندې يوازې د شرک بښنه نشته، له هغه پرته نور ټول څه بښل کېدای شي چاته، چې هغه بښنه کول وغواړي. چا، چې له الله سره څوک شریک وګاڼه، هغه په ګمراهۍ کښې له حق نه ډېر لیرې ولاړ.

او په یوه بل ځای کې فرمايي:

((وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِنَا فَقُلْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ۖ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۖ أَنَّهُ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ سُوءًا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِن بَعْدِهِ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٤﴾.)) (الانعام: ۵۴)

ژباړه: کله چې تاته هغه خلک راشي، چې زموږ پر ایتونو ایمان راوړي؛ نو هغوی ته ووايه 'سلام پر تاسې او ستاسې رب د رحم او مهربانۍ کړنچاره پر خپل ځان لازمه کړې ده. دا د هغه رحم او مهرباني ده، چې که له تاسې نه څوک په ناپوهۍ سره د کومې بدۍ مرتکب شوي وي بیا له هغه وروسته توبه وباسي او خپله رویه اصلاح کړي؛ نو هغه ورته بښنه کوي او له نرمۍ څخه کار اخلي.

**نهيلي کفر دی:**

انسان ته ښايي، چې د الله تعالی له رحمت نه نهيلی نشي، ځکه الله تعالی فرمايي:

((قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ

جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾.)) (الزمر: ۵۳)

ژباړه: (اى پيغمبره !) هغو بندګانو ته مې ووايه كومو كسانو، چې پر خپلو ځانونو تيرى كړى دى، چې د الله له رحمت نه مه نهيلي كېږئ، په يقيني ډول الله ټولې ګناوې ببښي، هغه ببښونكى او مهربان دى.

په دې ايت كې الله تعالى مؤمنان له نهيلۍ نه منعه كړي دي او ډاډ يې وركړى، چې كه د هغوى ګناهونه شومره هم زيات وي او له الله تعالى نه يې ببښنه وغواړي؛ ټول به ورته وببښي.

يو شاعر وايي:

لا تقنطن من عظم الذنوب فرب العباد رحيم رؤف

ژباړه: د ګناهونو د ډېروالي له امله مه نهيلى كېږه؛ ځكه د بنده ګانو رب ډېر ببښونكى او مهربان دى.

**د رسول الله صلى الله عليه وسلم استغفار:**

الله تعالى فرمايي:

((وَاسْتَغْفِرِ اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٦﴾.)) (النساء: ۱۰۶)

ژباړه: له الله نه ببښنه وغواړه، هغه ستر ببښونكى او رحيم دى.

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

((زما دې پر هغه ذات قسم وي، چې زما روح يې په لاس كې دى؛ زه د ورځې له اويا ځلو نه هم ډېر له الله تعالى نه ببښنه غواړم او توبه وباسم.)) (بخاري)

له اغر بن يسار رضي الله عنه نه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

((اى خلكو! له الله تعالى نه ببښنه وغواړئ او توبه وباسئ، ځكه زه د ورځې سل ځله توبه وباسم.)) (مسلم)

په خدای قسم، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډېر لوی شان څښتن دی او هر سړی ورته تعجب کوي، څکه هغه باید ولې ښښنه وغواړي، په داسې حال کې، چې مخکیني او وروستني ټول ګناهونه یې ورته ښښل شوي دي او هغه څوک دی، چې تر ټولو لومړی به د جنت دروازه پرانیزي؛ نو بیا توبې ویستلو ته څه اړتیا لري؟

ځواب یې دا دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګناه له امله نه، بلکې د الله تعالی د لویې او شکر اداء کولو په وجه استغفار وایه او توبه یې ویستله؛ نو دا خبره ترې معلومه شوه، چې مسلمانان خو باید په طریق اولی او د زړه په اخلاص سره له الله تعالی نه ښښنه وغواړي او توبه وباسي.

**الله تعالی د بنده په توبې خوشحالېږي:**

له انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«دا چې الله تعالی د خپل بنده په توبې ویستلو څومره خوشحالېږي؛ نو مثال یې داسې دی لکه په تاسې کې چې کوم یو په سفر ووځي او په دښته کې ترې سورلی ورکه شي، په داسې حال کې، چې خواړه او به یې هم پرې بار وي؛ نو تر ډېرې پلټنې وروسته ستړی شي او د یوې ونې تر سیوري لاندې ویده شي او کله چې را ویښ شي؛ نو ناڅاپه ویني، چې سورلی یې ځواته راغلې؛ نو ورمنډه کړي او له جلب نه یې را ونیسي او له ډېرې خوشحالی نه داسې ووایي: ای الله، ته مې بنده او زه دې رب یم، ګواکې له ډېرې خوشحالی نه یې خوله غلطه شي؛ نو الله تعالی تر دې هم ډېر د بنده په توبې ویستلو خوشحالېږي.» (مسلم)

علامه محمد بن عثیمین رحمه الله فرمایي: له دې حدیث نه معلومه شوه، چې الله تعالی د بنده په توبې ډېر خوشحالېږي، سره له دې، چې الله تعالی زموږ عملونو او توبې ته کومه اړتیا هم نلري، بلکې الله تعالی

د خپل فضل او مهربانۍ له امله زموږ توبه خوښوي او بنده ته د سزا ورکولو پرځای دا غوره کڼي، چې ښښنه ورته وکړي؛ نو ځکه یې توبې ته خوشحالیږي. (شرح ریاض الصالحین)

له همدې امله انسان ته ښايي، چې له الله تعالی نه ښښنه وغواړي او د خپلې هیڅ یوې وړې او غټې ګناه له امله یې له رحمت نه نهیلی نشي، ځکه د هغه رحمت ډېر پراخ دی.

**ګناهونه په نېکیو بدلول:**

الله تعالی فرمایي:

((وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٠﴾.)) (الفرقان: ۶۸-۷۰)

ژباړه: هغه کسان، چې له الله نه پرته کوم بل معبود نه بلي، هغه نفس په ناحقه نه وژني، چې خدای حرام کړی وي، او نه دزنا مرتکب کیږي (خو هر څوک، چې دغه کار وکړي هغه به د خپلې ګناه بدله ومومي. د قیامت په ورځ به هغه ته مکرّر عذاب ورکړل شي او په همغه کې به هغه د تل لپاره ذلیل پروت وي، مګر دا، چې چا (له دغو ګناهونو څخه وروسته) توبه ویستلې وي او ایمان یې راوړی وی او غوره عمل یې کړی وي. د دغسې خلکو بدی به الله تعالی په نیکیو بدلې کړي. الله تعالی ښه ښښونکی او خورا مهربان دی.

ابن کثیر رحمه الله فرمایي: یوازې د توبې په ویستلو سره مخکیني ګناهونه په نېکیو بدلیږي، ځکه توبه ویستونکی پر خپلو ګناهونو پښېمانه دی. (تفسیر القران العظیم)

امام قرطبي رحمه الله فرمایي: کله چې بنده په اخلاص سره الله تعالی

ته توبه وباسي؛ نو د الله تعالی له فضل نه لرې خبره نه ده، چې ګناهونه یې په نېکیو بدل کړي. ‹الجامع لاحکام القران›

دا چې د توبې په وجه ګناهونه په نېکیو بدلېږي، په دې اړه ځینې احادیث هم راغلي دي، چې یادونه یې کوو.

**لیکل شوې ښېګڼه!**

له ابوذر رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

‹‹ته چې چېرته هم وې، له الله تعالی نه حیاء کوه او تر بدۍ وروسته نېکي کوه، ځکه په دې سره نېکي هغه بدي له منځه وړي او له خلکو سره په ورین تندي او ښو اخلاقو مخ کېږه.

‹ترمذي، مسند امام احمد او سنن دارمي روایت کړی›

مولانا مبارکپوري فرمايي: له دې حدیث نه مراد دا دی، چې الله تعالی د مؤمن د زړه د اخلاص او د پرېښتو د لیکلو په وجه دا ګناه ښېي.

‹تحفة الاحوذي›

له ابوذر رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

‹‹زه تر ټولو وروستی جنتي هم پېژنم او هغه کس هم پېژنم، چې تر ټولو وروسته به له دوزخ نه را وویستل شي. د قیامت په ورځ به یو کس راوستل شي او ملايکو ته به وویل شي، چې کوچني ګناهونه یې راوړئ؛ کله چې یې ګناهونه راوړل شي؛ نو ده ته به وویل شي، چې په فلانۍ ورځ دې دا او په فلانۍ ورځ دې هغه ګناه کړې ده؛ نو هغه به ووايي: هو، دا ګناهونه مې کړي دي او هیڅ انکار به نشي کولای، په داسې حال کې، چې تر اوسه به یې لوی ګناهونه نه وي راوړل شوي او بیا به ورته وویل شي: تاته به د هرې بدۍ په مقابل کې یوه نېکي درکړل شي؛ نو هغه کس په ډېرې خوښۍ سره ووايي: ای ربه، ما خو

ځینې داسې لوی ګناهونه هم کړي دي، چې تر اوسه لا نه دي راوړل شوي او ما نه دي لیدلي.» ابوذر رضي الله عنه فرمايي: په دې وخت کې مې ولیدل، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دومره وخندل، چې مبارک غاښونه یې ښکاره شول. (مسلم)

**استغفار لازم دی:**

څومره بدبخته دی هغه کس، چې د الله تعالی له دین، رحمت، بښنې او ورکړې قبلولو نه تښتي او پرځای یې د دوزخ لاره غوره کوي. ګنهکار باید پردې خبره پوه شي، چې ډېر وخت په ګناه کې له پاتې کېدو سره به یې هیڅ عذر ونه منل شي، ځکه ښه پوهېږي، چې د الله تعالی د بښنې دروازه هر وخت پرانیستې ده او له دې سره الله تعالی خپل بنده ګان له نهیلۍ نه هم منعه کړي دي؛ نو نه ښايي، چې ګنهکار ډېر وخت په ګناه کې پاتې شي او د توبې په ویستلو کې ځنډ وکړي او باید دا خبره هم سترګو ته ودروو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له هرې ګناه نه د معصومیت سره سره په ورځ کې سل ځله له الله تعالی نه بښنه غواړي او توبه ورته وباسي؛ نو موږ خو باید د ورځې له زرو ځلو نه هم ډېر استغفار ووایو او توبه ورته وباسو، ځکه زموږ ګناهونه دومره ډېر شوي، چې شمېرل یې ګران دي؛ نو له همدې امله ښايي، چې ژر تر ژره الله تعالی ته رجوع وکړو.

**دويم فصل**

## دعاء

زه هغه چاته مخاطب يم، چې خپل ژوند له الله تعالى نه په بغاوت او د فحشاء په مرکزونو کې تېروي او په دې توګه خپل ځان بربادوي او په لوی لاس ځان ته د نهيلۍ او غم غرونه مخې ته دروي. له داسې انسان سره نه د خپل ځان فکر وي او نه د خپلې کورنۍ، بلکې يواځې ګناهونو ته يې مخه وي. هغه بايد پر دې پوه شي، چې ګناهونه يې ورځ تر بلې په غمونو اخته کوي او تيارو ته يې ورتېل وهي. څومره به ښه وای که د شپې په تياره کې يې الله تعالى ته د ښېښنې او دعاء لاسونه اوچت کړي او په سلګو سلګو يې ورته ژړلي وای او دا دعاء يې کولای:

ای ربه! پر ما ورحمېږه او ښښنه راته وکړه. ای ربه! ستا پر ذات قسم، چې پر تا د جرئت کولو له امله مې ګناه نه دې کړې، بلکې د ايمان د کمزورۍ په وجه رانه ګناه وشوه؛ نو اوس راته ښښنه وکړه.

نو دا فصل مې هغو کسانو ته ځانګړی کړی دی، چې له الله تعالى نه ښښنه غواړي، د شپې پرمهال الله تعالى ته د دعاء لاسونه پورته کوي، اوښکې تويوي او پر خپلو کړو ګناهونو د زړه له تله پښېمانتيا څرګندوي او په رښتيا، چې دا خلک څومره بختور دي.

**د دعاء فضيلت:**

الله تعالى فرمايي:

((وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ.)) (البقرة: ۱۸۶)

ژباړه: او ای پيغمبره! ( ) ځان که له تا نه زما په باب پوښتنه وکړي؛ نو هغوی ته ووايه، چې زه ورته ډېر نژدې يم، بلونکی، چې کله ما وبلي، زه د هغه بلنه اورم او ځواب ورکوم؛ نو هغوې ته ښايي، چې زما

بلنې ته لبيک ووايي او پر ما ايمان راوړي ته دا خبره هغوی ته واوروه، کېدای شي، چې هغوی سمه لاره ومومي.
څومره د نېکمرغۍ خبره ده، په رېښتيا سره، چې د مؤمن زړه ته پرې داړ ترلاسه کېږي.
په بل ځای کې فرمايي:
((فَلَوْ لَآ اِذْ جَآءَهُمْ بَأْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَ لٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ۝.)) (الانعام: ۴۳)
ژباړه: نو کله چې زموږ له لوري پر هغو سختي راغله؛ نو هغوی ولې عاجزي غوره نه کړه؟ خو د هغوی زړونه لا نور هم سخت شول او شيطان هغوی ته داړېنه ورکړه، چې تاسې، چې څه کوئ، ښه کوئ.

**دعاء تر ټولو غوره عبادت دی:**

د دعاء د فضيلت لپاره يوازې همدا ايت هم کفايت کوي، چې الله تعالی فرمايي:
((قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّيْ لَوْ لَا دُعَآؤُكُمْ ۚ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا۝.))
(الفرقان: ۷۷)
ژباړه: ای محمده: خلکو ته ووايه زما رب تاسې ته څه اړتيا لري که تاسې هغه ونه بلئ اوس، چې تاسې د دروغو نسبت کړی دی. ډېر ژر به هغه سزا وموميئ، چې ځان ژغورل به درته محال شي.
له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:
(( افضل العبادة الدعاء.))
ژباړه: دعاء تر ټولو غوره عبادت دی. (الکامل د ابن عدي)
له نعمان بن بشير رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((الدعاء هو العبادة.))

ژباړه: دعاء عبادت دی. (مسند امام احمد)

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

((لیس شیء اکرم علی الله من الدعاء.))

ژباړه: د الله تعالی پروړاندې له عبادت نه بل غوره شی نشته.

له دې پرته نور داسې احادیث هم شته، چې د دعاء فضیلت پکې بیان شوی؛ نو موږ ته ښایي، چې هر وخت له الله تعالی د خپلو حاجتونو د پوره کولو لپاره دعاء وغواړو، ځکه کوم بنده، چې له الله تعالی شه وغواړي؛ نو هغه ته حیاء ورځي، چې تش لاس یې پرېږدي.

**د شپې وروستۍ برخه غنیمت وبوله:**

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

(( الله تعالی د هرې شپې په درېیمه برخه کې د دنیا اسمان ته راکوزیږي او فرمایي: ((زه بادشاه یم، زه بادشاه یم، څوک شته، چې ما را وبولي او زه یې غوښتنه ومنم، څوک شته، چې له ما نه شه وغواړي او زه یې ورکړم، څوک شته، چې له ما نه بښنه وغواړي او زه ورته بښنه وکړم؟)) او تر سهار راختلو پورې همدا اواز کېږي.)) (مسند امام احمد)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي: له دې حدیث نه څو خبرې معلومېږي:

۱ـ د شپې وروستۍ حصه د دعاء او استغفار لپاره ډېره غوره ده، لکه په قران کې، چې راځي: ((والمستغفرین بالاسحار.))

ژباړه: او د سهار راختلو پر مهال بښنه غوښتونکي.

۲- په دې وخت کې دعاء قبلېږي؛ خو له دې سره سره هم د ځينو خلکو دعاء نه قبلېږي؛ نو هغه د هغوی د خپلې نيمګړتيا په وجه ده، چې کېدای شي په خوراک، څښاک او لباس کې يې يوه برخه حرام کړې وي او يا کېدای شي د دعاء په قبلېدو کې د تادي له امله وي او يا هم کېدای شي، چې د کومې ګناه او خپلوی پرېکولو او يا هم کېدای شي، چې الله تعالی يې د کوم مصلحت په خاطر نه قبلوي.
(فتح الباري)

مسلمان ته پکار ده، چې دا موقع غنيمت وبولي، لمونځ پکې وکړي، دعاء پکې وغواړي او له الله تعالی نه پکې د خپلو ګناهونو د بښنې غوښتنه وکړي؛ نو هيله ده، چې الله تعالی يې دعاء قبوله کړي او نېکمرغه شي.

**د دعاء اداب:**

په موږ کې ډېر خلک دعاء کوي؛ خو د ډېرو دعاء نه قبلېږي، په ځانګړې توګه د هغو خلکو، چې په ګناهونو کې اخته وي؛ نو لامل يې دا دی، چې د دعاء د قبلېدو لپاره څه ځانګړي شرايط او اداب دي، چې بايد پاملرنه ورته وشي او دعاء مو قبوله شي.

امام نووي رحمه الله په خپل کتاب (الاذکار) کې د امام غزالي رحمه الله له (احياء العلوم) نومي کتاب نه د دعاء قبلېدو څه شرطونه او اداب را نقل کړي دي، چې موږ يې دلته يادونه کوو:

۱- د دعاء قبلېدو وختونه لکه د عرفې ورځ، د روژې مياشت، د جمعې ورځ او د شپې وروستۍ برخه د تهجد پرمهال.

۲- ځينې ځانګړي حالتونه لکه د سجدې پرمهال، د جنګ پرمهال، د باران ورېدو پرمهال او کله چې د لمانځه لپاره اقامت ويل کېږي.

۳- قبلې ته مخ کول.

۴- په وړه او ورو اواز دعاء کول.

۵ـ په دعاء کې تکلف نه کول، بلکې هغه دعاګانې کول، چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابتې وي.

۶ـ د دعاء غوښتلو پر وخت خشوع او خضوع کول.

الله تعالی فرمايي:

((إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا لَنَا خَٰشِعِينَ ۝.)) (الانبياء: ۹۰)

ژباړه: دغو کسانو د نیکۍ په چارو کې منډې تړړې کولې او موږ یې له میلان او وېرې سره بللو، او زموږ په وړاندې غاړه ایښودونکي وو.

بل ځای فرمايي:

((ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ۝.)) (الاعراف: ۵۵)

ژباړه: خپل رب وبلئ په زاړبو زاړبو او په پټه پټه، د ایقیني ده، چې هغه له حده تیری کوونکی نه خوښوي.

۷ـ د دعاء د قبلېدو هیله لرل. سفیان بن عیینه رحمه الله فرمايي: سړی باید د خپلې دعاء د قبلېدو په اړه نهیلی نشي، ځکه ابلیس سره له دې، چې ډېر شریر مخلوق دی؛ خو بیا یې هم الله تعالی هغه دعاء قبوله کړه، چې ویلي یې وو: ماته د قیامت تر ورځې پورې مهلت راکړه او الله تعالی یې دغه غوښتنه ومنله.

۸ـ په دعاء غوښتلو کې دې زارۍ کوي او هر سوال دې درې درې ځله کوي او دا دې نه وايي، چې زما دې ژر قبوله شي.

۹ـ د دعاء په پیل کې دې د الله تعالی حمد او ستاینه او پر رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ووايي او په پای کې دې هم همداسې وکړي.

۱۰ـ توبه دې وباسي، ظلم دې نه کوي او د الله تعالی طرف ته دې متوجه شي. (احیاء علوم الدین)

**د الله تعالی هغه اسم اعظم، چې له امله يې دعاء قبلېږي:**

له اسماء بنت يزيد رضي الله عنها نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«د الله تعالی اسم اعظم په دې دوو ايتونو کې دی:

(۱)((وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾))

ژباړه: او ستاسې خدای همدا يو خدای دی، له هغه رحمان او رحيم نه پرته بل کوم خدای نشته.

(۲)((اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ﴿٢﴾)) (ابن ماجه، کتاب الدعاء)

عبدالله بن بريده رضي الله عنه له خپل پلار څخه روايت کوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له يوه سړي نه واورېدل، چې په دعاء کې ويل:

« اللَّهُمَّ اني اسالک بانک انت الله الاحد الصمد الذي لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفوا احد.))

ژباړه: ای الله، دا چې ته يوازينی رب يې، بې نيازه يې، نه له چا زېږېدلی يې او نه دې څوک زېږولي او ستا هيڅ سيال نشته؛ نو په همدې شيانو درنه سوال کوم، چې دعاء مې قبوله کړه. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «دې سړي په اسم اعظم سره دعاء وغوښته او دا هغه اسم اعظم دی، چې که څه پرې وغوښتل شي، ترلاسه به شي او که دعاء پرې وغوښتل شي، قبوله به شي.» (ابن ماجه)

علامه طيبي رحمه الله فرمايي: له دې حديث نه معلومه شوه، چې د الله تعالی اسم اعظم په همدې دعاء کې دی.

موږ ته هم ښايي، چې هر وخت همدا دعاء تکرار کړو، ځکه دا شومره لويه ورکړه ده، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته د دعاء د قبلېدو کيلي په لاس کې راکړې؟!

**وېره او هیله:**

امام شافعي رحمه الله په خپل یوه شعر کې فرمایي:

له الله تعالی نه ووېرېږه او په هر لوی کار کې هیله ترې ولره، د خپل سرکښ نفس پیروي مه کوه، کنې پښېمانه به شې.

د وېرې او هیلې ترمنځ واوسه او که مسلمان یې، د الله تعالی په ښښنه زېرى ترلاسه کړه.

کله چې مې زړه او لارې تنګې شي؛ نو زه ستا په ښښنې پورې زړه تړم او په دې توکه مې زړه او لارې پرانیزم.

ای د ټولو مخلوقاتو ربه! زه ستا پر لور مایله یم او که زه مجرم یم؛ نو ته خو د احسان او کرم څښتن یې.

پروردګاره! زما ګناه ډېره لویه ده؛ خو کله چې یې ستا له رحمت سره پرتله کوم، ستا رحمت ترې ډېر لوی ښکاري.

ای ربه! که زه دې وبښلم؛ نو یو ظالم او سرکښه سړی دې ښښلی دی او که له ما نه دې انتقام واخیست؛ نو زه به هېڅکله نهیلی نشم، که څه هم، چې ګناهونه مې دوزخ ته ورټېل وهلی یم.

زما اوسنۍ او پخوانۍ ګناوې ډېرې لوېې دي؛ خو ای ښونکیه ربه! ستا ښښه تر دې ټولو لویه او اوچته ده! (دیوان الشافعي)

## دريم فصل

### واده کول

ډېر داسې خلک شته، چې د تقوی او نېکۍ ژوند يې غوره کړی وي او خلک يې هم درناوی کوي او دا ځکه چې دوی له ګناهونو نه ځان ساتي؛ خو له دې سره سره هم دا نېکان غواړي، چې واده وکړي او په حلاله طريقه خپل خواهش پوره کړي ترڅو هم پاک لمني پاتې شي، هم په حرامو کې اخته نشي او هم د الله تعالی پر وړاندې ذليل او رسوا هم نشي او دا ښکاره خبره ده، چې په واده کولو سره سړی له ګناهونو نه بچ کېږي.

له همدې امله په حرامو کې اخته او ګنهکار انسان ته ښايي، چې له دغو نېکو خلکو سره ملګرتيا وکړي؛ خو له دې سره سره بيا هم ځينې ګنهکاران دا کار نه کوي او د هغې مقولې ښه مصداق دي، چې وايي:

((وانت مع ذلک ترجوا النجاة ولکن لم تسلک مسالکها.))

ژباړه: ته له سره د خلاصون په لاره نه درومې او له دې سره بيا هم د خلاصون تمه لرې!

ای ګنهکاره! تاته ښايي پر دې خبره پوه شې، چې الله تعالی د هرې ناروغۍ لپاره دوا نازله کړې او تر تقوا غوره کولو وروسته واده کول؛ له ګناهونو نه د بچ کېدلو تر ټولو اسانه لاره ده، ځکه د يو چا، چې په حلاله توګه خواهش پوره کېږي؛ نو ولې به حرامو ته مخه کوي؟

پر دې خبره هم پوهېږي، چې له واده کولو پرته په بله طريقه د خپل خواهش په پوره کولو سره الله تعالی هم خپه کېږي؛ نو بيا ولې واده نه کوې او يا دا چې حرام کار در ته تر واده کولو ارزانه ښکاري؟

که همداسې وي، په خدای قسم خاتمه دې راته تياره ښکاري؛ نو ښه ده، چې واده وکړې او له ذلت نه ځان وساتې.

**د واده کولو فضیلت:**

الله تعالی فرمايي:

((وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآئِكُمْ ۚ اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۗ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝.)) (النور: ۳۲)

ژباړه: له تاسې نه، چې کوم کسان (سړي يا ښځې) مجرد وي او ستاسې له وينځو مريونو څخه، چې شوک نېکان وي، د هغو نکاح وکړئ، که هغوی بې وزلي وي؛ نو الله تعالی به په خپلې مهربانۍ سره هغوی شتمن کړي، الله تعالی ښه پراختيا راوستونکی او د علم څښتن دی.

په بل ځای کې فرمايي:

((فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۚ.)) (النساء: ۳)

ژباړه: نو کومې (نورې) ښځې، چې ستاسې خوښېږي دهغو له دوو دوو، درېيو درېيو، څلورو څلورو سره نکاح وکړئ.

ځکه الله تعالی ته معلومه ده، چې په انساني فطرت کې د شهوت پياوړې غريزه شته؛ نو له همدې امله يې انسان ته له يوه نه د زياتو ودونو اجازه ورکړه.

**واده د روحي ډاډ سبب دی:**

الله تعالی فرمايي:

((وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ۗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝.)) (الروم: ۲۱)

ژباړه: او د هغه له نښانو څخه (بله) دا ده، چې ستاسې لپاره همدا ستاسې له جنس نه يې ميرمنې پيدا کړې ترڅو، چې تاسې له هغو سره ارام ترلاسه کړئ او ستاسې (ښځې او خاوند) په مينځ کې يې مينه او خواخوږي پيدا کړه. په باوري ډول په دې کې د هغو خلکو لپاره ډېرې نښانې دي، چې غور او فکر کوي.

د هلک او نجلۍ ترمنځ اصلي مینه د واده له امله پیدا کېږي، په داسې حال کې، چې د بازاري او دروغجنې مینې موده یوازې یو څو شېبې وي. د واده په مینه کې رحمت، سکون او خوشحالي وي؛ خو په بې حیایۍ کې بیا دا شیان نه موندل کېږي.

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((ای د ځوانانو ټولګیه! په تاسې کې، چې څوک د واده کولو توان لري؛ نو واده دې وکړي او څوک، چې یې توان نه لري، روژه دې ونیسي، ځکه روژه شهوت ماتوونکې ده.)) (بخاري)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي: په دې حدیث کې ځکه په ځانګړې توګه د ځوانانو یادونه شوې، چې په دوی کې د واده کولو شوق ډېر وي. (فتح الباري)

**په واده کولو سره دین پوره کېږي:**

په واده کولو سره د سړي په بدن کې د ګناه اور سړېږي، له خواهشاتو یې سترګې مړېږي، دین یې پوره کېږي، د الله تعالی لور ته متوجه کېږي او د شیطان له قبضې نه هم بچ پاتې کېږي او په دې توګه ډاډه او له خوښیو ډک ژوند مومي؛ نو له همدې امله ده، چې رسول الله تعالی هم ځوانان واده کولو ته وهڅول.

له انس رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((کله چې انسان واده وکړي، نیم ایمان یې پوره کېږي؛ نو په نیم نور ایمان کې دې له الله تعالی نه ووېرېږي، ځکه ټوله نېکمرغي له صالحې ښځې سره په واده کولو کې نغښتې ده، چې له امله یې د سړي سترګې او شرم ځای له ګناه نه ساتل کېږي او له سړي سره د الله تعالی په اطاعت کې مرسته کوي.))

له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((شلور شيان د نېکمرغۍ نښې دي.... (يوه پکې نېکه ښځه هم ده).))

له دې پرته نور داسې ايتونه او احاديث هم شته، چې واده کولو ته پکې هڅونه شوې.

علماء فرمايي: له چا سره، چې په ګناه کې د اخته کېدو وېره وي، واده کول پرې واجب دي؛ نو څوک، چې په ګناه کې اخته وي، د هغه لپاره به د واده کولو حکم څه وي؟؟؟

**څوک، چې پاک لمنی غوره کړي، الله تعالی ورسره مرسته کوي:**

که يو بنده غواړي، چې پاک لمنی واوسي؛ نو الله تعالی يې لاره ورته ښودلې او هغه دا، چې واده دې وکړي او په حلاله طريقه دې خپل خواهش پوره کړي او په دې توګه به له حرامو نه هم وساتل شي.

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((الله تعالی له درېيو کسانو سره د مرستې وعده کړې ده:

۱ـ څوک، چې د الله تعالی په لاره کې جهاد کوي.

۲ـ هغه مکاتب غلام، چې د خپلې ازادۍ لپاره پيسې راټولوي.

۳ـ هغه کس، چې غواړي په واده کولو سره پاک لمنی پاتې شي.)) (ترمذي)

علامه مبارکپوري رحمه الله فرمايي: الله تعالی له دې پورته درې کسانو سره د مرستې ژمنه کړې او هغه واده کړی، چې غواړي له زنا څخه پاک پاتې شي، الله تعالی د هغه مرسته هم کوي او له ګناه نه يې ساتي او که له بنده سره د الله تعالی مرسته نه وای؛ نو د شهوت اور به سوځولای او په ګناه کې به اخته شوی وای، له همدې امله کوم بنده، چې پاک لمنی غوره کړي، الله تعالی لويه مرتبه ورکوي.

**میندو او پلرونو ته یو نصیحت:**

دکتور عبدالله ناصح علوان رحمه الله فرمايي: نن سبا ډېر خلک له اسلام نه منحرف او گمراه شوي دي او د خپلو لورگانو د واده کولو پر وخت مادي کټې او شيان په نظر کې نيسي، داسې لکه سوداگر، چې د خپلې سوداگرۍ گټه په نظر کې نيسي؛ خو د هلک اخلاق، دينداري او نسب ته هيڅ پاملرنه نه کوي او کوښښ کوي، چې د خپلې لور لپاره زيات نه زيات مهر مقرر کړي، چې دا لوی ظلم دی.

دا داسې خلک دي، چې د قيامت د ورځې حساب او کتاب ترې هېر دی او که داسې نه وای، د خپلې لور په واده کولو کې به يې دومره ځنډ نه کولای.

دې خلکو خپل ځانونه حاکمان او قاضيان گرځولي دي، په داسې حال کې، چې له دين نه لرې او يوازې د دين له نوم سره اشنا دي او له اسلام نه يې فقط يو خيالي دين جوړ کړی دی او بس. (عقبات الزواج)

میندو او پلرونو ته بايد د سعيد بن المسيب رحمه الله د لور د واده کيسه ورپه زړه کړل شي، چې مثال يې نه موندل کېږي. نن هغه میندې او پلرونه چېرته دي، چې هغوی به د خپلو لورگانو لپاره د مال پرځای د قرآن کريم زده کول مهر مقرراوه او په فقر او نيستۍ کې يې ودونه کړي وو؟

ځينې صحابه وو ان په يوه لپه خرما هم نکاح کړې وه، هغوی نن چېرته دي؟ ارمان، چې اوسنيو میندو او پلرونو د هغوی تاريخ کتلای او پند يې ترې اخيستی وای.

ارمان، چې دوی د هغې مال خوښونې په زيانونو پوهېدلای، چې له امله يې د دوی د لورگانو په زړونو کې اور بل دی.

د خدای لپاره، خپلې لورگانې ژر تر ژره نېکو خلکو ته واده کړئ او په واده کې يې له اسانتيا نه کار واخلئ. رسول الله صلی الله عليه وسلم

فرمايي:

((ښځې ولتړوئ، که څه هم، چې د سپينو زرو د يوې ګوتمۍ په بدل کې وي.)) (بخاري)

**کم مهر غوره دی:**

له عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((خير الصداق أيسره.))

ژباړه: غوره مهر هغه دی، چې اسانتيا پکې وي.

او نور داسې احاديث هم شته، چې د کم مهر پر غوره والي دلالت کوي.

له بله لوري ميندو او پلرونو ته هم ښايي، چې د خپلو لورګانو په ودونو کې له اسانۍ کار واخلي او پر دې خبره بايد پوه شي کوم مال، چې يې د خپلې لور په سر اخيستی، هغه يې د لور حق دی؛ نو بايد، چې د هغې په واده کې يې مصرف کړي او ځان ته ترې هيڅ هم پرې نږدي.

**ځوانانو ته نصيحت:**

زه د هغه ځوان پر حال تعجب کوم، چې د مهر د ډېروالي او د واده د مصارفو له امله ژاړي؛ خو کله چې يې د واده ورځ شي، بيا نو له خپل وس نه پورته خرچې او مصرفونه کوي.

ډېر داسې ځوانان مو ليدلي، چې په واړه کور کې اوسېدل نه خوښوي، بلکې غواړي، چې په يوه لويه ماڼۍ کې ژوند وکړي او دا په داسې حال کې، چې د ډوډۍ پيسې هم ورسره نه وي او د کور ښايست او سينګار ته يې هم ډېر خيال وي؛ نو دوی ته همدومره وايم، چې خپل حالت ته دې وګوري او په هماغه اندازه دې خرچه وکړي او له بې ځايه مصارفو او فضول خرچۍ نه دې ځان وساتي، ځکه فضول

خرچې روا نه ده او داسې کس ته په قران کې د شیطان ورور ویل شوی.

ځوانان ولې له دې ګناهونو نه ځان نه ساتي او څوک، چې په ګناهونو کې اخته وي، هغه به بیا واده وکړي؟ خو دومره ده، چې که الله تعالی ته ریښتینې توبه وباسي او په حلاله طریقه د خپل خواهش پوره کولو په لټه کې شي؛ نو ښه خبره ده.

نن سبا ځوانان په هوا کې مانۍ کې جوړوي، په داسې حال کې، چې کورنۍ به یې په یوه زړه خېمه کې اوسېږي، خوب به د وریښمو ويني؛ خو پر بدن به یې شلېدلې جامې وي!

که دې ځوانانو سره دا خبره هم ومنو، چې ښه ده، خپل خوبونه او هیلې پوره کړئ او ډېر مال هم ترلاسه کړئ؛ خو هېڅکله باید د شریعت له اصولو نه خارج نشئ او دا هڅه هم باید ونکړئ، چې له ګناه کولو وروسته د خپلې پاک لمنۍ ثابتولو لپاره پیسې ولګوئ، ځکه په دې سره به هېڅکله د ګناه له ډنډ نه را ونه وځئ او بیا به مو توبه هم نه قبلېږي.

## څلورم فصل

# روژه نیول

له روژې نیولو نه مې هدف یوازې دا نه دی، چې سړی دې ډوډۍ نه خوري او اوبه دې نه څښي، بلکې مقصد مې دا دی، چې هغسې روژه باید ونیول شي، چې الله تعالی حکم کړی او هغه دا، چې له ډوډۍ نه خوړلو او اوبو نه څښلو سره سره باید حرامو شیانو ته هم ونه ګوري، غیبت هم باید ونکړي او نور ټول ګناهونو هم باید پریږدي؛ نو په دې توګه به یې روژه عبادت وګڼل شي او ثواب به یې ترلاسه کړي.

څوک، چې په ښه توګه روژه ونیسي، د شیطان له چلونو او مکرونو نه به وژغورل شي، شهوت به یې مات شي او له ګناهونو نه به وساتل شي، ځکه روژه شهوت مهاروونکې او له شیطاني فکرونو نه بچ کوونکی ډال دی.

**د روژې فضیلت:**

الله تعالی فرمایي:

((يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ۝.)) (البقرة: ۱۸۳)

ژباړه: ای مؤمنانو! پر تاسې روژې فرض کړای شوي دي، لکه چې له تاسې نه د مخکې پیغمبرانو پر پیروانو فرض کړای شوې وې، د دې لپاره، چې په تاسې کې د پرهیز ګارۍ صفت پیدا شي.

د روژې تر ټولو لویه ګټه تقوا ده، چې له امله یې انسان له هر ډول ګناه څخه بچ کېږي.

الله تعالی په بل ځای کې فرمایي:

((وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ۝.)) (البقرة: ۱۸۴)

ژباړه: نو ستاسې له پاره ښه همدا ده، چې روژه ونیسئ

**شهوت ماتول:**

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځوانانو پر یوې ډلې تېرېده؛ نو ويې فرمايل:

((يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج ومن لم يستطع فعليه بالصوم فانه له وجاء.))

ژباړه: ای د ځوانانو ټولکيه؛ په تاسې کې، چې څوک د واده کولو توان لري؛ نو واده دې وکړي او څوک، چې يې توان نه لري؛ نو روژه دې ونيسي، ځکه روژه شهوت ماتوونکې ده.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: په پورته حديث کې دا نه دي ويل شوي، چې هغه دې يوائې وږی او تږی وي، ځکه په دې سره د روژې مقصد نه ترلاسه کېږي، بلکې له دې سره عبادت هم مقصد دی، چې په روژې سره ترلاسه کېږي او د روژې اصلي مقصد شهوت ماتول دي.

(فتح الباري)

ابن القيم رحمه الله فرمايي: د روژې مقصد دا دی، چې نفس له شهوت نه وساتل شي او سړی د تقوی په لاره روان شي، روژه د متقيانو ورزش دی او روژه د الله تعالی د رضاء لپاره د دنيوي خوندونو د پرېښودلو نوم دی. (زاد المعاد)

ګنهکارانو ته ښايي، چې له روژې نه خپله وسله جوړه کړي او له شيطان سره په مقابله کې ترې کار واخلي، ځکه روژه د هر ډول شهوت ماتولو لپاره غوره علاج دی؛ خو په دې شرط، چې يوازې د الله تعالی د رضاء لپاره، له شرعي اصولو سره برابره او رېښتينې روژه وي.

**د روژې مکمله ګټه په څه ډول ترلاسه کېدای شي؟**

لکه څرنګه، چې مخکې مو وويل، څومره، چې روژه صحيح وي؛ په هماغه اندازه به يې تاثير هم زيات وي او څومره، چې نيمګړې وي، همغومره به يې تاثير هم کمزوری وي. اوس پوښتنه دا ده، چې هغه

کوم اسباب دي، چې له امله يې د روژې پوره کټه ترلاسه کېدای شي او سړی پرې الله تعالی ته نږدې، شهوت يې مات او له ګناهونو نه او د الله تعالی له غوسې نه پرې بچ شي؟

نو د دې ګټو د ترلاسه کولو لپاره شپږ اسباب خپلول پکار دي:

۱- غض البصر يعنې له هر هغه شي نه نظر ښکته کول، چې کتل يې حرام دي او سړی پرې د الله تعالی له ذکر نه غافل کېږي.

۲- حفظ اللسان يعنې له دروغ ويلو، غيبت کولو، چغلی او بيځايه او بې حياء خبرو نه ژبه ساتل او پرځای يې خپله ژبه د الله تعالی په ذکر، تلاوت او ښو خبرو کې استعمالول.

۳- خپل غوږونه له حرامو اوريدلو نه ساتل.

۴- خپل د بدن غړي له حرامو کارونو څخه ساتل.

۵- د روژه ماتي پر وخت په مړه ګېډه خوراک نه کول، ځکه د الله تعالی پر وړاندې هيڅ شی هم له مړې ګېډې نه ډېر بد نه دی او دا له دې امله، چې ګېډه کله ډکه شي؛ نو د سړي شهوت هم زياتېږي.

۶- له روژه ماتي وروسته د روژې د قبلېدو هيله او د نه قبلېدو وېره لرل.

(احياء علوم الدين)

## پنځم فصل

### نظر ښکته کول

که څوک غواړي، چې له ګناهونو نه بچ پاتې شي؛ نو هغه ته ښايي، چې د خپل نظر ساتنه وکړي او که غواړي، چې د ښکانو په څېر شي؛ نو ښکې اسباب دې خپل کړي او د هلاکت له ځای نه دې ځان وساتي او څوک، چې د ګمراهۍ او ګناه په لاره روان وي او بيا هم د کاميابۍ هيله کوي؛ نو داسې کس ناپوه او د تباهۍ پر غاړه ولاړ دی. داسې کس تل دا وايي، چې څه، الله تعالی مهربانه دی او بچ کېږم!

زما وروره! که داسې وي؛ نو بيا دعاء او توبه څه معنی لري او ګټه يې څه شوه؟

حقيقت دا دی، چې انسان يوازې په افسوس کولو نه خلاصېږي، بلکې له هغې سره د علاج کولو اړتيا هم شته؛ نو که له بد نظرۍ نه دې ځان وساته، الله تعالی به دې هم له ډېرو نورو ګناهونو نه وساتي.

**د نظر ښکته کولو حکم:**

الله تعالی فرمايي:

((قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَ يَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ؕ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ۝.)) (النور: ۳۰)

ژباړه: ای پيغمبره! مؤمنانو نارينه وو ته ووايه، چې خپل نظر تر کنټرول لاندې وساتي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه وکړي، دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده، هغوی، چې څه کوي، الله تعالی پرې خبرېږي.

ابن کثير رحمه الله فرمايي: الله تعالی حرامو شيانو ته کتل منعه کړي دي؛ نو که کله په غلطۍ کې نظر ورغی، بايد چې ژر ښکته شي. (تفسير القران العظيم)

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: د زړه په دروازو کې تر ټولو لويه دروازه

نظر کول دي؛ نو له همدې امله له هرې فتنې نه نظر ښکته کول ضروري دي.

**نظر ښکته کول د مخ د نورانیت سبب دی:**

ابن کثیر رحمه الله فرمایي: د ((ذلک اذکی لهم)) معنی دا ده، چې نظر ښکته کول د زړه او ایمان د پاکوالي او د تقوی سبب کېږي، لکه علماء کرام، چې فرمایي: ((من حفظ بصره اورثه الله نورا في قلبه.)) ژباړه: څوک، چې د خپل نظر ساتنه کوي، الله تعالی به یې په زړه کې نور پیدا کړي. (تفسیر القران العظیم)

په احادیثو کې هم د نظر ښکته کولو فضیلت راغلی دی، لکه څرنګه، چې له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((الله تعالی د هر بني ادم لپاره د زنا یوه برخه لیکلې ده، چې خامخا به یې کوي، د سترګو زنا کتل دي، د ژبې زنا د هغې په اړه خبرې کول دي، د نفس زنا د هغې خواهش کول دي او په پای کې شرم ځای یا د زنا تصدیق او یا تکذیب کوي.)) (بخاري)

ابن حجر رحمه الله فرمایي: ابن بطال رحمه الله ویلي دي: په دې حدیث کې ځکه حرامو لیدلو او خبرو کولو ته زنا ویل شوې، چې دا دواړه د زنا لور ته حقیقي دعوت کوونکي دي. (فتح الباري)

امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: د سترګو زنا یې له دې امله مخکې ذکر کړه، چې د زنا جرړه ده، تر هغې وروسته سړی خبرې کوي او بیا شرم ځای یا زنا کوي او یا یې نه کوي؛ نو که زنا یې وکړه، همدا د زنا تصدیق دی او که ویې نه کړه؛ نو د زنا تکذیب یې کړی.

(روضة المحبین)

هر هغه شی، چې د سړي احساسات راپاروي او له امله یې په ګناه کې

اخته کېږي، کتل ورته نه دي پکار او په دې توکه پخپله د حلالو لور ته متوجه کېږي او له هغه جال نه به بچ شي، چې داسلام دښمنانو د مسلمانانو د گمراه کولو لپاره غوړولی دی.

د اسلام دښمنان غواړي، چې مسلمانان په جنسي خواهشاتو کې د اخته کېدو په وسیله تباه کړي، هغه که د تصویر له لارې وي او که د تلویزیون له لارې، د ډش له لارې وي او که د کیبل او انټرنیټ له لارې؛ نو مسلمان ته پکار ده، چې له دې شیانو نه ځان وساتي، ځکه له اروپایي چینلونو نه به څه زده کړي؟ په هغو کې خو له بې حیایۍ او فحشاء پرته بل هیڅ هم نشته، چې زده کړه ترې وشي او دا خبره هم د یادولو وړ ده، چې ډېرو علماوو د دې شیانو د حرمت په اړه فتوی ورکړې، الله تعالی دې موږ او تاسې د شیطان له شر نه وساتي.

**د نظر د حفاظت گټې:**

ښکاره خبره ده، چې د شهوت د راکمولو لپاره د نظر حفاظت کول تر ټولو ښه لاره ده، ځکه له حرامو شیانو څخه د نظر په ښکته کولو کې ډېرې گټې دي، یواځینۍ گټه یې دا نه ده، چې سړی پرې له زنا څخه بچ کېږي، بلکې ځینې نورې گټې هم لري، چې امام ابن القیم رحمه الله یې یادونه کړې ده او په لاندې ډول دي:

۱- زړه له افسوس کولو نه خالي وي، ځکه کوم سړی، چې خپل نظر ازاد پرېږدي، همېشه په افسوس کې وي. له همدې امله زړه ته تر ټولو خطرناک شی د نظر ازاد پرېښودل دي، ځکه سترگې د زړه کاشوغې دي او زړه، چې یو ځل په یوه شی ورشي، بیا ترې صبر نشي کولای او چې ترلاسه یې نه کړي؛ نو بیا د تل لپاره افسوس کوي.

۲- د نظر په حفاظت کولو سره په زړه، څېره او ټول بدن کې یو نور پیدا کېږي او په بدنظرۍ سره پر څېره او زړه باندې تیاره خپرېږي.

۳- د نظر په حفاظت کولو سره هوښیارتیا او پوهه نصیب کېږي.

۴- د نظر په حفاظت کولو سره د علم دروازې پرانیستل کېږي او په بد نظرۍ سره بندېږي.
۵- په زړه کې قوت او زړورتیا پیدا کېږي او په بد نظرۍ سره بې زړه توب پیدا کېږي.
۶- په زړه کې خوښي پیدا کېږي، ځکه سړی، چې کله د خپل نفس او شیطان مخالفت وکړي، په زړه کې یې خوښي پیدا کېږي.
۷- د زړه د شهوت له قید نه را خلاصېږي، ځکه اصلي بندي هغه څوک دی، چې د شهوت په لومه کې ګرفتار وي.
۸- د ګناه دروازه بندېږي، ځکه بد نظرې د ګناه بلنه ده، په داسې حال کې، چې الله تعالی له دې ګناه نه منعه کړې ده.
۹- عقل پرې پیاوړی او زیاتېږي او په بد نظرۍ سره عقل کمزوری کېږي.
۱۰- زړه پرې له شهوت او غفلت نه خالي کېږي او په بد نظرۍ سره سړی له الله تعالی او اخرت نه غافل کېږي. (روضة المحبین)

یو شاعر وایي:

زړور سړی هغه نه دی، چې د جنګ له شغلې وهونکي اور نه ځان وساتي، بلکې زړور هغه دی، چې خپلې سترګې له حرامو لیدلو نه منعه کړي.

## شپږم فصل

### سندرې اوربدل

سندرې اورېدل حرام دي، ځکه د سړي شهواني جذبات را پاروي او پر بې لارۍ يې ورسموي.

نن سبا ځومره ډېر ځوانان وينو، چې سندرو پرې جادو کړې او چې په سرک هم روان وي، سندرې به وايي. دوی په لوړ قيمت د سندرو کېستې اخلي او بيا يې په کور کې اوري او خوند ترې اخلي.

ځينې خلک يې په پوره بې پروايۍ سره په موټر کې اوري او دې ته يې هيڅ خيال نه وي، چې که په همدې وخت کې له کومې پېښې سره مخ او مړ شي؛ نو الله تعالی ته څه ځواب ووايي؟!

ځينې خلک د شپې پر مهال د الله تعالی د ذکر پرځای سندرو اورېدلو ته وخت ځانګړی کوي او په همدې حالت کې ويده کېږي. په خدای قسم، چې د دې خلکو پر حال ژړل پکار دي، ځکه دوی نه سړي دي او نه ښځې، بلکې ښه به دا وي، چې نرښځي ورته ووايو!

د دوی پر حال افسوس او بيا هم افسوس، چې د سندرو اورېدلو له امله له ايمان او حياء نه خلاص شول.

**سندرې اوربدل حرام دي:**

ځينې خلک له دې امله سندرو ته جايز وايي، چې ګواکې خپل غمونه پرې لرې کوي او روح ته پرې خوښي ورښيي! نه، په خدای قسم، چې داسې نه ده، په سندرو سره غمونه نه لرې کېږي، بلکې لا زياتېږي او دا هم د شيطان له چلونو نه يو چل دی، الله تعالی فرمايي:

((وَ اسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَ اَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَ رَجِلِكَ وَ شَارِكْهُمْ فِى الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿٦٤﴾.)) (الاسراء: ٦٤)

ژباړه: او هر هغه څوک، چې په خپلې بلنې سره ښويولای شې، ويې

ښويږو، خپل سپاره پلي دې وربانديې راوله، په مالونو او اولادونو کې ورسره برخه وال شه، او هغوی دوعدو په دام کښې ونښلوه، او له دوی سره د شيطان وعدې له يوې غولونې پرته نور هيڅ هم نه دي.

مجاهد رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت کړی، چې فرمايي: له دې نه مراد سندرې، د ټنګ ټکور سامان او بېځايه لوبې دي.

ضحاک رحمه الله هم فرمايي: له دې نه د ټنګ ټکور اواز مراد دی.

(الجامع لاحکام القران)

**بېځايه خبرې اخيستل:**

الله تعالى فرمايي:

((وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ ۝)) (لقمان: ۶)

ژباړه: او له همدې انسانانو نه داسې څوک هم شته، چې بابېزه خبرې پېرې، چې خلک د الله تعالى له لارې په بې علمۍ سره ګمراه کړي او ددغې لارې په بلنې پورې مسخرې وکړي د دغسې خلکو لپاره سخت سپکوونکی عذاب دی.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: په خدای قسم! له دې نه سندرې مراد دي.

الله تعالى په بل ځای کې فرمايي:

((أَفَمِنْ هَٰذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ۝ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ۝ وَأَنْتُمْ سَامِدُونَ ۝ فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا ۝)) (النجم: ۵۹-۶۲)

ژباړه: نو ايا همدا هغه خبرې دي، چې تاسې پرې تعجب ښکاره کوئ؟خاندئ او ژاړئ نه؟او په سندرو غړولو سره د هغو مخه نيسئ؟سرښکته کړئ، د الله په وړاندې او بندګي په ځای راوړئ.

په دې ايت کې هم سندرو ته اشاره شوې او د مشرکينو دا صفت پکې

بيان شوي، چې کله به قران لوستل کېده، دوی به سندرې غږولې.
علامه جزائري رحمه الله فرمايي: له دې ايتونو نه معلومه شوه، چې سندرې اورېدل حرام دي. (الاعلام)

**په نبوي احاديثوکې د سندرو حرمت:**

له ابو مالک اشعري رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
((زما په امت کې به ځينې داسې کسان هم پيدا شي، چې زنا، وربښمو، شرابو او سندرو ته به حلال وايي.)) (بخاري)
له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالی زما پر امت باندې شراب، قمار، سندرې او د وربشو شراب حرام کړي دي او هر نشه کوونکی شی هم حرام دی. (مسند امام احمد)

علامه جزائري رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې د ((كوبة)) لفظ راغلی، چې د سندرو الات ترې مراد دي.
له دې حديث نه دا هم معلومه شوه، چې سندرې هم حرامې دي، ځکه د سندرو الات چې حرام وي؛ نو پخپله سندرې خو په طريق اولی سره حرامې دي او د حرمت يوه وجه يې دا هم ده، چې نن سبا سندرې له تنک تکور نه خالي نه دي او بېځايه او فحش خبرې هم پکې وي.
د سندرو د حرمت يوه بله وجه دا ده، چې نن سبا ښځې هم سندرې وايي او دا خو ښکاره خبره ده، چې سړو ته د ښځو اواز اورېدل حرام دي او په همدې توګه ښځو ته هم روا نه ده، چې د پرديو سړيو اوازونه واوري.
د سندرو حرمت له لسو نه په زياتو احاديثو کې روايت شوی او له همدې امله علماوو هم سندرې حرامې بللي دي.

**د سندرو نومونه:**

۱- لهو ولعب:

الله تعالی فرمايي:

((وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ.)) (لقمان: ۶)

ژباړه: اوله همدې انسانانو نه داسې څوک هم شته، چې بابېزه خبرې پيري، چې خلک د الله تعالی له لیارې په بې علمۍ سره ګمراه کړي او ددغې لارې په بلنې پورې مسخرې وکړي د دغسې خلکو لپاره سخت سپکوونکی عذاب دی.

۲،۳- درواغ او لغوه:

الله تعالی فرمايي:

((وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا.))

(لقمان: ۷۲)

ژباړه: (او د رحمان بندګان هغه دي) چې د دروغو شاهدي نه وايې او که په کوم بابېزه شي باندې ورشي نو د شريفو انسانانو په څېر ورڅخه تېرېږي.

په دې ايت کې د مؤمنانو دې صفت ته اشاره شوې، چې هغوی د درواغو له مجلسونو نه ځان لرې ساتي؛ نو څوک، چې پخپله درواغ (سندرې) وايي، د هغوی حال به څه وي؟!

۴- باطل:

۵- د زنا تعوېذ، ځکه کله، چې ښځې او سړي سندرې اوري، د ګناه لور ته ډېر ژر مايل کېږي.

۶- په زړه کې نفاق پيدا کوونکی. په سندرو سره ځکه په زړه کې نفاق پيدا کېږي، چې سندرې په زړه کې غفلت پيدا کوي، چې له امله يې

زړه په قران کې غور او فکر نه کوي، ځکه قران او سندرې په یوه زړه کې نشي جمع کېدای او دا له دې امله چې قران د ښېګڼو او شیطان د بدیو حکم کوي، په داسې حال کې، چې سندرې د قران د حکم مخالفت کوي او د بدیو لاره غوره کوي.

۷ـ د شیطان قران هم ورته ویل شوی. قتاده رحمه الله فرمايي: کله چې شیطان ځمکې ته رابښکته کړل شو؛ نو ویې ویل: ای زما ربه؛ زه دې لعنتي کړم؛ نو زما عمل څه شی دی؟ ورته وویل شول: سحر (جادو) شیطان ویل: نو زما قران څه شی دی؟ ورته وویل شول: شعرونه، شیطان بیا وویل: نو زما اواز څه شی دی؟ ورته وویل شول: ټنګ ټکور.

۸ـ سندرې ویل د جاهلو انسانانو کار دی.

۹ـ سندرې ویل د فاجرو انسانانو کار دی.

۱۰ـ سندرې د شیطان اواز دی او انسان ګناه ته رابولي. (اغاثة اللهفان)

**د حلالو او حرامو ترمنځ توپیر:**

کله چې شیطان پر دې پوه شي، چې ښه اوس خو سندرې حرامې شوې؛ نو له بلې لارې نه کار اخلي او هغه دا، چې د اسلامي ترانو او نغمو په نوم د خلکو د ګمراه کولو هڅه کوي، لکه نن سبا، چې د همدې شیانو کېښتې په پرېمانه اندازه پیدا کېږي؛ خو په حقیقت کې د دې ترانو او سندرو ترمنځ هیڅ توپیر نه لیدل کېږي او دا ځکه چې د سندرو په طرز ویل کېږي او څه ناڅه د ټنګ ټکور د الاتو اواز هم پکې اورېدل کېږي.

**روا شعرونه:**

دکتور عمر سلیمان فرمايي: له ډېرو روایتونو نه ثابته ده، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو به په سفر او حضر کې د زړورتوب او چابکۍ د ستاینې په اړه شعرونه ویل، لکه د خندق د غزا پرمهال، چې یې دا شعر زمزمه کاوه:

نحن الذين بايعوا محمدا

على الجهاد ما بقينا ابدا

ژباړه: موږ هغه خلک یو، چې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې مو له محمد صلی الله علیه وسلم سره پر جهاد بیعت کړی دی.
او د دوی په ځواب کې به رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایل:

اللهم لا عيش الا عيش الآخرة

فاغفر للأنصار والمهاجرة

ژباړه: ای الله! اصلي ژوند خو د اخرت ژوند دی؛ نو انصارو او مهاجرینو ته ببښنه وکړه. (بخاري)
ستونزه په دې کې ده، چې ځینې خلکو هر ډول اشعارو ته ناروا وویل او ځینې نورو هر ډول اشعارو ته جواز ورکړ، چې له امله یې خلکو شعر ویلو ته کار ووایه او په دې توګه یې قرآن او حدیث پرېښود؛ خو منځنۍ لاره دا ده، چې که سړی په وزګارو وختونو کې د تفریح په خاطر څه داسې شعرونه ووایي، چې تقوا او ښو اخلاقو ته پکې هڅونه شوې وي؛ نو څه خبره به نه وي.

## اووم فصل

### غلط فکرونه او خیالونه

کوم ځوانان، چې په جنسي ناروغیو کې اخته دي؛ نو علماوو یې تر ټولو غوره علاج دا ښوولی، چې په الله تعالی سره له غلطو فکرونو نه پناه وغواړي او هیڅ توجه دې ورته نه کوي، ځکه په غلطو فکرونو سره ډېرې بدۍ منځ ته راځي او هغه داسې، چې کله یو ځوان شپه او ورځ د ښځو په اړه فکر کوي او ذهن یې له همدې خبرو نه ډک وي؛ نو هغه ځوان په خپل لاس خپله ځواني تباه کوي یعنې دا چې له لاس نه په کار اخیستلو سره خپل شهوت سړوي، یا کوم شپني کلب (Night Club) ته ورځي او هلته د خپلو خواهشاتو د پوره کولو په لټه کې کېږي؛ نو د دې ناروغۍ تر ټولو لومړی علاج دا دی، چې الله تعالی ته په ځان سپارنې او پناه وړلو سره له دې شیطاني فکرونو نه ځان وساتي او د دې کار لپاره ډېرې هڅې او تقوا ته اړتیا ده او ترڅنګ یې باید له الله تعالی نه د ثبات دعاء هم وغواړي او په دې توګه به له دوزخ نه بچ او جنت ته به ولاړ شي، ان شاء الله.

**ګناه هغه ده، چې په زړه کې نا ارامي پیدا کړي:**

که څوک غواړي، چې ځان له دې غلطو فکرونو نه خلاص کړي؛ نو تر ټولو لومړی دې خپل زړه ته وګوري، چې څه پکې دي او څه غواړي، ځکه ځینې وخت یو سړی په یوه ناروا کار کې اخته وي؛ خو داسې ګومان کوي، چې ګوندې ښه کار کوي، لکه یو سړی چې له بې حیایۍ او فحشاء ډکې رسالې لولي او عذر یې دا وي، چې زه غواړم د ښځې او مېړه ترمنځ د ګډ ژوند په اړه معلومات ترلاسه کوم!

له همدې امله ښایي، چې د هر شي تر لوستلو دمخه یې د حقیقت په اړه فکر وکړو چې ایا په دې رساله کې راغلې لیکنې راته په دنیا او

اخرت کې کومه کټه را رسولای شي او کنه؟ او د معلوماتو د ډېرولو په پلمه فحش رسالې او مجلې لوستل روا نه دي، بلکې په دې سره په فسق او فجور کې ډېر والی راځي، الله تعالی فرمايي:

((قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا ۝ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا ۝.)) (الشمس: ۹–۱۰)

ژباړه: په ريښتيا سره برى وموندى هغه چا، چې هغه د نفس تزکيه وکړه. او ناکام شو هغه څوک، چې هغه يې لاندې پټ کړ.

اى مسلمانانو! له ځان سره دوکه مه کوئ، جنت همدا زموږ لپاره جوړ شوى او کنه نو دوزخ هم راته تيار دى، ځکه شيطان زموږ دښمن دى او زموږ د بربادولو وعده يې کړې ده.

**د شيطان يرغلونه:**

الله تعالی فرمايي:

((ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم مِّن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَن شَمَائِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ ۝.)) (الاعراف: ۱۷)

ژباړه: له وړاندې وروسته، ښي خوا، کيڼې خوا، هر لورې به يې را ايسار کړم او ته به ددوى زياتره شکرويستونکي ونه مومې.

تر کومه، چې د ځمکې پرمخ ژوند روان وي، زموږ او د شيطان ترمنځ جنګ به هم روان وي.

له نواس بن سمعان رضي الله عنه نه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

((په ورين تندي له خلکو سره مخ کېدل، صدقه ده او کوم شى، چې ستا په زړه کې نا ارامي پيدا کړي او ته دا بده وګڼې، چې خلک پرې خبر شي، هغه ګناه ده.)) (مسلم)

حافظ ابن رجب رحمه الله فرمايي: له دې حديث نه دا خبره معلومه شوه، چې د کوم شي په اړه، چې زړه داډه نه وي او خلک يې هم بد

کښي؛ نو هغه ګناه ده او که څوک غواړي، چې ګناهونه وپېژني؛ نو همدا يې تر ټولو ښه طريقه ده او په دې حديث کې له يادو شويو خلکو نه د الله تعالی رېښتيني بنده ګان مراد دي. (جامع العلوم و الحكم)

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

((خلک، چې کوم شی نېکي وبولي، هغه شی د الله تعالی پر وړاندې هم نېکي بلل کېږي او کوم شی چې ګناه وبولي، د الله تعالی پر وړاندې هم ګناه بلل کېږي. (مسند امام احمد)

امام ابن رجب رحمه الله فرمايي: له دې حديث نه معلومه شوه، چې مسلمان هېڅکله د حق او باطل په اړه په شک کې نه پرېوځي، ځکه مؤمن د زړه په سترګو سره حقويني او له باطل نه کرکه کوي.

(جامع العلوم والحكم)

په يوه بل حديث کې راځي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((هغه څه پرېږده، چې په شک کې دې اچوي او هغه څه خپل کړه، چې په شک کې دې نه اچوي.)) (نسائي)

امام ابن رجب رحمه الله فرمايي: له دې حديث نه معلومه شوه، چې شکي شيان بايد پرېښودل شي، ځکه د حلال شي په اړه مؤمن بنده هېڅکله شک نه کوي او شکي شيان په زړه کې نا ارامي او شک پيدا کوي. (جامع العلوم والحكم)

نو که څوک غواړي، چې کاميابي ترلاسه کړي؛ نو له ټولو هغو شکي شيانو نه دې ځان وساتي، چې له الله تعالی نه پرې لرې کېږي، ځکه کامياب هغه دی، چې زړه يې الله تعالی متوجه وي او د چا زړه، چې له نېغې لارې نه کوږ او زړه يې له شهوت نه ډک شي؛ نو له ناکامۍ سره مخ کېږي.

**غلط خیالونه ختمول:**

امام ابن القیم رحمه الله په خپل کتاب (الفوائد) کې لیکي: شکونه او وسوسې تر ټولو لومړی سړی سوچ کولو ته مجبوروي او تر دې وروسته بیا هر وخت د دې غلطو فکرونو یادونه کوي، بیا د بدۍ اراده کوي او په پای کې په همدې بدۍ کې اخته کېږي او عادت یې جوړېږي، ځکه په انسان کې دومره وړتیا نشته، چې د دې غلطو فکرونو مقابله وکړي؛ خو په ایماني قوت سره یې مقابله ممکنه ده او د بدیو په پرېښودلو سره نېکۍ ته مخه کوي.

**شیطان په څه ډول د مسلمان پر زړه یرغل کوي؟**

شیخ وحید عبدالسلام بالي وايي: شیطان هغه زړه ته په اسانۍ سره داخلېږي، چې له ذکر، یقین، تقوا، ایمان او اخلاص نه تش وي، داسې زړونو ته وسوسې اچوي او ولکه پرې ترلاسه کوي؛ خو کوم زړه، چې په ذکر، یقین، ایمان او تقوی سره اباد وي، شیطان نشي ور ننوتلی.

تر ټولو لوی مصیبت دا دی، چې کله شیطان زړه ته داخل شي، بیا ورسره مقابله کول ګران شي او د دې مثال داسې دی، لکه وږی سپی، چې د یوه سړي پر خوا تېرېږي او له هغه سره غوښه هم پرته وي او هغه سړی سپی شړي؛ خو سپی نه ځي او کله چې غوښه د سپي له مخې نه لرې شي، سپی نهیلی کېږي او په خپله مخه ځي او همدا دشیطان مثال هم دی.

په همدې توګه د کوم سړي زړه، چې له شهوتونو نه ډک وي، ورته پکار ده، چې خپل زړه ترې پاک او په تقوا سره یې اباد کړي او کله چې اعوذبالله وايي، شیطان به ترې تښتي.

له دې نه دا خبره هم معلومه شوه، چې له شیطان نه یوازې په هغه صورت کې پناه ترلاسه کېدای شي، چې په زړه کې تقوا موجوده وي.

(وقاية الانسان من الجن والشيطان)

**شيطاني وسوسې په څه ډول له منځه وړل کېدای شي؟**

که داسې وي، چې د يوه چا زړه له غلطو فکرونو سره مينه لري؛ نو ورته پکار ده، چې د وعظ، نصيحت او بيان له لارې يې علاج وکړي، مرګ ورپه ياد کړي، د قبر له عذاب نه يې وډار کړي او د اخرت د ورځې سختۍ ورپه زړه کړي.

شيخ عمر سليمان رحمه الله فرمايي: يو نافرمان سړی څرنګه کولای شي، چې د الله تعالی لور ته متوجه شي؟ نو ځواب يې دا دی، چې هر وخت بايد د مرګ، قبر، جنت او دوزخ يادونه وکړي او په دې توګه به يې له دنيا سره مينه کمه او اخرت ته به متوجه شي.

**اتم فصل**

## له نېکانو سره ملګرتیا

موږ ډېر خلک وینو، چې کله یوه ګناه کوي او نېکان خلک یې ویني، ترې شرمېږي؛ نو که له الله تعالی نه هم همدومره حیاء وکړي، کامیابي به ترلاسه کړي.

له همدې امله له نېکانو سره ملګرتیا ډېره ضروري ده، ځکه سړی له ګناه نه بچوي او غلطو فکرونو ته هم وخت نه پیدا کوي.

یوه ځوان له شیخ محمد صفوت نور الدین رحمه الله نه پوښتنه وکړه، چې: زه یو ځوان یم او له ګناهونو مې توبه هم ویستې ده؛ خو بیا هم رانه ګناه کېږي او په دې توګه بیا بیا ګناه کوم او بیا بیا توبه وباسم؛ نو څه لارښوونه راته کوئ؟

شیخ رحمه الله ورته وفرمایل: له نېکانو سره ملګرتیا وکړه!

**له نېکانو سره د ناستې په اړه هڅونه:**

الله تعالی فرمایي:

((وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ.)) (لقمان: ۱۵)

ژباړه: دهغه چا د لارې پیروي وکړه، چې هغه زما لوري ته رجوع کړې ده.

بل ځای فرمایي:

((وَ الْمُؤْمِنُونَ وَ الْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَ يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ.)) (التوبة: ۷۱)

ژباړه: مؤمنان نارینه او مؤمنانې ښځې، داټول د یو بل دوستان دي، په ښو چارو امر او له بدیو نه منعه کوي.

بیا فرمایي:

((وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيعًا وَّلَا تَفَرَّقُوا.)) (ال عمران: ۱۰۳)

ژباړه: ټول یو ځای شئ، د الله تعالی رسۍ کلکه ونیسئ او مه تیت پرک کېږئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د نېکانو ملګرتیا ته هڅولي او د بدو خلکو له ملګرتیا نه یې وېرولي يو.

په یوه حدیث کې راځي: د نېک ملګري مثال د عطاري (عطر خرڅوونکي) په څېر دی، که عطر ترې واخلې او یا وانخلې، خوشبويي يې در رسېږي او د بد ملګري مثال د پېښ (اهنګر) په څېر دی، یا به دې جامې وسوځوي او یا به یې د نغري دود در ورسېږي. (بخاري)

ابن حجر رحمه الله فرمايي: په دې حدیث کې له بدو خلکو سره له ناستې نه منعه شوې، ځکه په دې سره سړي ته د دین او دنیا تاوان اوړي. (فتح الباري)

**ملګرتیا باید له کومو خلکو سره وشي؟**

له هر چا سره ملګرتیا او مشوره ښه کار نه دی، بلکې د ښه ملګري يو څو نښې دي، چې یادونه یې کوو:

۱- باید دینداره او پر دین عمل کوونکی وي، د قران او حدیث منونکی او له هر ډول بدعت نه لرې وي.

۲- د ښو اخلاقو څښتن وي.

۳- د سپېڅلې زړه خاوند وي او له بدو خویونو نه لرې وي.

۴- د دنیا د شتمنۍ حریص نه وي.

علامه ماوردي رحمه الله فرمايي: د یوه چا نسبت هغو کارونو ته کېږي، چې د هغه ملګری یې ترسره کوي.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: لوګی دومره پر اور دلالت نه کوي لکه څومره، چې دوست له یوه دوست نه پېژندل کېږي؛ نو سړی باید له بدو ملګرو نه لرې واوسي ترڅو نور خلک یې ملامته نه کړي. (ادب الدنیا والدین)

## نهم فصل

### له نفس سره مقابله

له نفس سره د مقابلې پر وخت معلومېږي، چې ایا ایمان په زړه کې کلک شوی دی او که اوپه زړه کې نور دی او که تیاره؟ په همدې سره د سړي د ایمان ازموینه کېږي او معلومېږي، چې کامیابه دی او که ناکام؟ نو که سړی له خپل نفس سره مقابله وکړي، بریالی کېږي او شیطان له ناکامۍ سره مخ کېږي.

انسان باید خپل نفس د الله تعالی له عذاب او حساب او کتاب نه وډار کړي، له خپل نفس سره هر وخت مقابله وکړي او دې ته یې مجبور کړي، چې د الله تعالی له وېرې وژاړي.

**مراقبه (خارنه):**

تر ټولو لوړی الله تعالی ښه ساتونکی دی او تر الله تعالی وروسته د نفس د ساتنې او سپېڅلتیا لپاره له مراقبې نه بل ښه ساتونکی نشته، ځکه نو هر مسلمان ته ښايي، چې هر وخت د خپل نفس ساتنه وکړي، الله تعالی فرمایي:

((الَّذِىْ يَرٰىكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٢١٨﴾ وَ تَقَلُّبَكَ فِى السّٰجِدِيْنَ ﴿٢١٩﴾.)) (الشعراء: ۲۱۸-۲۱۹)

**ژباړه:** هغه ذات، چې تا په هغه وخت کې ویني، چې ته پاڅېږې او په سجده کوونکو کې ستا ګرځېدو راګرځېدو ته ګوري.

په بل ځای کې فرمایي:

((اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَىْءٌ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِى السَّمَآءِ ﴿٥﴾.)) (ال عمران: ۵)

**ژباړه:** په ځمکه او اسمان کې هیڅ شی له الله تعالی نه پټ نه دی.

او بیا فرمایي:

((اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾.)) (الفجر: ۱۴)

**ژباړه:** حقیقت دا دی، چې ستا رب په څارنځي کې دي.

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يوه ورځ د صحابه کرامو په منځ کې ناست و، چې جبريل عليه السلام راغی... او د نورو پوښتنو په ترځ کې يې دا هم ترې وپوښتل چې، احسان څه ته وايي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

(( الاحسان أن تعبد الله كأنک تراه فان لم تكن تراه فانه يراک.))

ژباړه: احسان دا دی، چې د الله تعالی داسې عبادت وکړې ګواکې هغه، چې وينې او که ته يې نه وينې؛ نو هغه خو دې وينې. (مسلم)

علامه نووي رحمه الله فرمايي: دا حديث د جوامع الکلم احاديثو له ډلې دی، څکه شوک، چې له دې تصور سره لمونځ اداء کوي، چې کوندې الله تعالی يې وينې؛ نو په خپل لمانځه کې خشوع او خضوع پيدا کوي او کوښښ کوي، چې ټول عملونه يې د الله تعالی د رضاء لپاره وي. څينې خلک له دې امله د نېکانو مجلس ته ورځي، چې له ګناه نه بچ شي؛ نو له چا سره هر وخت دا فکر وي، چې الله تعالی مې وينې؛ نو د هغه حال به څه وي؟! (شرح نووي)

حسن بصري رحمه الله فرمايي: د نېکۍ څارنه دا ده، چې سړی خپل عمل ته وګوري، چې ايا دا عمل د الله تعالی د رضاء لپاره دی او که د د نفس د خواهش لپاره؟ د ګناه څارنه او مراقبه په توبې او پښېمانۍ سره کېږي او د مباح شيانو مراقبه د ادابو په مراعت کولو سره او د نعمت مراقبه په شکر ويستلو سره ترسره کېږي.

**په څلورو وختونو کې غفلت کول نه دي پکار:**

وهب بن منبه رحمه الله فرمايي: هوښيار سړي ته ښايي، چې په څلورو وختونو کې غافل نشي:

۱. کله چې له خپل رب سره راز او نياز کوي.

۲. کله چې د خپل نفس محاسبه کوي.

۳. کله چې يې ملګری عيب ورښيي.

۴. کله چې په هر ډول حلالو او حرامو کارونو کې اخته وي.

**د نفس محاسبه:**

الله تعالی فرمایي:

((يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚ وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوٓءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُۥٓ أَمَدًۢا بَعِيدًا ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ۗ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ ۝.))

(ال عمران: ۳۰)

ژباړه: هغه ورځ راتلونکې ده، چې هر نفس د خپلو کړو میوه حاضره ومومي، که یې ښه کړي وي او که بد، په هغه ورځ به انسان دا هیله څرګنده کړي، چې کاشکې د هغه او د بدو اعمالو ترمنځ یې ډېره فاصله وای؛ الله تاسې له خپله ځانه وېروي او هغه د خپلو بندګانو ډېر زیات خیر غوښتونکی دی.

له دې ایت نه معلومه شوه، چې څوک د نفس محاسبه کوي، د قیامت په ورځ به خوښ وي.

بل ځای کې فرمایي:

((يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ۝.)) (الحشر: ۱۷)

ژباړه: ای مؤمنانو، له الله تعالی نه وویرېږئ او هر څوک دې دا وګوري، چې دسبا لپاره یې څه کړي دي، له الله تعالی نه ویرېدونکي اوسئ، الله تعالی په یقیني توګه ستاسې د ټولو هغو عملونو څخه باخبره دی، چې تاسې یې کوئ.

او په یو بل ځای کې فرمایي:

((قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ۝.)) (الشمس: ۹، ۱۰)

ژباړه: په رېښتیا سره بری وموند هغه چا، چې هغه د نفس تزکیه وکړه او ناکام شو هغه څوک، چې هغه یې لاندې پټ کړ.

له دې ایتونو نه معلومه شوه، چې سړی باید د الله تعالی لور ته متوجه وي ترڅو خواهشات یې په دوکه کې ونه غورځوي، الله تعالی فرمایي:
((إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ.)) (الرعد: ۱۱)
ژباړه: حقیقت دا دی، چې الله تعالی د هیڅ قوم حالت نه بدلوي ترڅو پورې، چې هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي.
حسین رضي الله عنه فرمایي: مؤمن د خپل نفس پیره دار دی، هغه د الله تعالی لپاره د خپل نفس محاسبه کوي او څوک، چې په دنیا کې د خپلو نفسونو محاسبه وکړي، په اخرت کې به یې حساب اسانه وي او څوک، چې د خپل نفس محاسبه ونه کړي، په قیامت کې به ورسره سخت حساب کتاب وشي. مؤمن پر قران باور لري او په دنیا کې د بندي په څېر دی او کوښښ کوي، چې د نېکو عملونو په وسیله ځان له دې بند نه را خلاص کړي.
ابن قدامه رحمه الله فرمایي: لکه څرنګه، چې سوداګر له یوه چا سره په کاروبار کې شراکت کوي او د هرې میاشتې او یا هر کال په پای کې ورسره حساب کوي؛ په همدې ډول مؤمن ته هم ښایي، چې د ورځې یو ساعت له خپل نفس سره محاسبې ته ځانګړی کړي، چې څومره فرائض یې اداء کړي او له نفس سره دې د خپلو ټولو غړو محاسبه هم وکړي، ځکه که محاسبه نه وي او یوه یوه ګناه ترې کېدله؛ نو یوه ورځ به داسې راشي، چې ګناهونه به یې ډېر زیات شوي وي.
که د خپل نفس محاسبه دې ونه کړه او له الله تعالی نه دې ونه ډار کړ؛ نو له هر ډول نه به ازاد شي او په شهوت سره به دې ځوروي او په داسې ګناهونو به دې اخته کړي، چې بیا به یې پرېښودل درته ګران وي.
الله تعالی فرمایي:
((وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾.))
(العنکبوت: ٦٩)

ژباړه: کوم کسان، چې زموږ په خاطر مجاهده وکړي، هغوته به موږ خپلې لارې ور وښیو او په باوري ډول الله تعالی د نېکو کارانو ملګری دی.

بیا فرمایي:

((وَ اَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَ نَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ﴿٤٠﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِىَ الْمَاْوٰى ﴿٤١﴾.))

(النازعات: ۴۱،۴۰)

ژباړه: او چا، چې د خپل رب په مخ کې له درېدو نه وېره کړې وه او نفس یې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلي و؛ نو جنت د هغه هستوګنځای دی.

له معاذ بن جبل رضي الله عنه نه روایت دی، چې یو ځل په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې په یوې سورلۍ ناست وم، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((ای معاذه!)) ما وویل: حاضر یم، ای د الله رسوله. بیا چې لږ مخکې ولاړو، ویې فرمایل: ((ای معاذه!)) ما وویل: حاضر یم، ای د الله رسوله. بیا، چې لږ وړاندې ولاړو، ویې فرمایل: ((ای معاذه!)) ما وویل: حاضر یم، ای د الله رسوله؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((ایا پوهېږې، چې الله پر خپلو بنده ګانو باندې کوم حقونه لري؟)) ما وویل: الله او رسول یې ښه پوهېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((پر بنده ګانو د الله تعالی حق دا دی، چې هغوی یې بنده ګي وکړي او هېڅوک ورسره شریک نه کړي.)) بیا، چې لږ وړاندې ولاړو؛ نو ویې فرمایل: ((ای معاذه!)) ما وویل: حاضر یم، ای د الله رسوله.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((ایا پوهېږې، چې بنده ګان پر الله تعالی څه حق لري؟)) ما وویل: الله او رسول یې ښه پوهېږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((پر الله تعالی باندې د بنده ګانو حق دا دی، چې هغو کسانو ته عذاب ورنکړي، چې له هغه سره

یې څوک نه وي شریک کړي.)) (بخاري)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: امام بخاري رحمه الله د دې حدیث لپاره په دې نامه باب ایښی دی، چې: کوم سړی، چې د الله تعالی د اطاعت په نیت مجاهده او کوښښ کوي.

ابن بطال رحمه الله فرمایي: نفس دوه لوی خویونه لري:

۱- په شهواتو کې مشغولېدل.

۲- له نېکیو څخه لرې کېدل.

نو له نفس سره مجاهده هم له دې امله کېږي، چې دا کار د شیطان پر وړاندې کټور تمامېږي او سړی پرې له حرامو کارونو نه لرې پاتې کېږي. د مجاهدې له امله سړی هر وخت ویښ وي او کله چې غافل شي، شیطان یې په ګناهونو کې اخته کوي. (فتح الباري)

لسم فصل

## د بې حیایۍ او ګناهونو علاج

هسې خو له بې حیایۍ او ګناهونو نه د بچ کېدو لپاره ډېر وسایل شته؛ خو موږ دلته د یو څو غټو وسایلو یادونه کوو:

**۱ـ پرده:**

هره ښځه باید د پردې پابندي وکړي، داسې، چې ټول بدن یې ورسره پټ شي او الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم د همداسې پردې حکم کړی دی.

علماوو د پردې لپاره اته شرطونه ذکر کړي دي:

۱- ټول بدن باید پټ کړي.
۲- ډول او سینګار ونلري.
۳- دومره ډبله وي، چې بدن ترې ښکاره نشي.
۴- پراخه وي او تنګه نه وي.
۵- خوشبوداره نه وي.
۶- د سړو د لباس په څېر نه وي.
۷- د کافرانو د ښځو د لباس په څېر نه وي.
۸- دومره قیمتي نه وي، چې فخر او کبر پرې وشي.

(جلباب المراة المسلمة)

**۲ـ زینت (ښکلا) نه ښکاره کول:**

زینت د ښځې د بدن هغې برخې ته وایي، چې الله تعالی یې پردو سړو ته ښکاره کول حرام کړي دي، لکه مخ، پنډۍ او داسې نور.

له همدې امله هر مسلمان ته پکار ده، چې خپله ښځه، خور، لور او مور پردو سړو ته له زینت ښکاره کولو نه منعه کړي.

**۳ـ ښځه نه لمس کول او په لاس سره سټرې مشې ورسره نه کول:**

دکتور محمد اسماعیل رحمه الله فرمایي: اسلام له هر حرام کار نه منعه

کوي؛ نو د ښځې په لمس کولو سره هم ډېرې فتنې رامنځته کېږي او اسلام هم د پردۍ ښځې لمس کوونکي ته د سخت عذاب وېره ورکړې.
له معقل بن يسار رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
«دا چې له تاسې نه د يوه ته پر سر د اوسپنې اره کېښودل شي؛ نو دا ورته تر دې غوره ده، چې کومه پردۍ ښځه لمس کړي.»
**۴ـ له پردۍ ښځې سره نه يوازې کېدل:**
دکتور محمد اسماعيل رحمه الله فرمايي: خلوت (يوازې والی) دې ته وايي، چې يو سړی له کومې پردۍ ښځې سره په يوه ځای کې پاتې شي، داسې يوازې کېدل د فحاشۍ تر ټولو نږدې وسيله ده. له پردۍ ښځې سره يوازې کېدل د ډېرو لويو لويو ګناهونو سبب هم دی، ځکه د ګناه موقع پکې زياته او اسانه وي.
تر ټولو لوی شر دا دی، چې سړی له خپلې په نوم شوې ښځې سره له واده نه مخکې ګوري را ګوري او له دې کار نه د کورنيو مشران هم هغوی نه منعه کوي او پر خپلو کشرانو يې باور وي. ګواکې هغوی لېوه او ګډه په يوه ځای کې يوازې سره پرېښي دي او ځينې وخت د دې يوازې والي له امله هغوی دواړه په لويه بې حيايۍ کې هم اخته کېږي.
له ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:
«سړی بايد يوازې له محرمې ښځې (هغه چې نکاح يې ورسره نه کېږي) سره کېني.»
**۵ـ ښځې ته له محرم نه پرته سفر نه کول:**
له ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((هېڅوک باید له کومې پردۍ ښځې سره په یوازې والي کې پاتې نشي او نه دې کومه ښځه له محرم پرته سفر کوي.))
په همدې وخت کې یو سړی پورته شو او ویې ویل: ای د الله رسوله، زما نوم د فلانۍ غزا لپاره لیکل شوی دی او ښځه مې حج ته روانه ده؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ((ولاړ شه او له خپلې ښځې په ګډه سره حج وکړه.)) (بخاري)

**٦ـ ښځو ته د عطرو په لګولو سره له کوره نه وتل:**

له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((هره سترګه زنا کوي او کومې ښځې، چې عطر په ځان پورې کړي وي او پر سړو تېره شي، هغه زناکاره ده.)) (ترمذي)
علامه مبارکپوري رحمه الله فرمایي: نوموړې ښځه ځکه زناکاره ده، چې په خپل دې کار سره یې د سړو شهوت را وپاراوه او هغوی یې خپل لوري ته متوجه کړل؛ نو کوم سړي چې ورو کتل، د سترګو زنا یې وکړه او د دې زنا سبب همدا ښځه ده. (تحفة الاحوذي)

**٧ـ ښځه باید خپل غږ پورته نکړي:**

د ښځې په اواز کې یو داسې کشش دی، چې مرضي سړی ګناه ته وربولي او د همدې اواز له امله بیا سړی په عشق کې اخته کېږي.
له همدې امله ښځه باید له سړو د خبرو کولو پرمهال خپل غږ د پر نرم نکړي او همدا وجه ده، چې که په لمانځه کې امام سهوه شي؛ نو ښځه به د سبحان الله ویلو پرځای لاسونه یو پر بل وهي، ځکه سبحان الله ویل د سړو لپاره دي.
په حج کې هم ښځو ته د تلبیې ویلو پر مهال د غږ ټیټولو امر شوی او په همدې توګه د اذان کولو او سړو ته د جمعې ورکولو اجازه هم نه ده ورکړل شوې او موږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیبیانو اقتدا

پکاره ده، هلته، چې الله تعالی ورته فرمایي:

((يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ؕ وَ كَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا۝)) (الاحزاب: ۳۰)

ژباړه: ای د پیغمبر میرمنو! له تاسې نه، چې څوک د ښرکندې فحشا د حرکت مرتکبه شي، هغې ته به دوه چنده سزا ورکړه شي، د الله تعالی لپاره دا ډېر اسانه کار دي.

**۸ـ د ښځو او سړو اختلاط (ګډوالي) ختمول:**

د ښځو او سړو د اختلاط څلور صورتونه دي:

۱ـ د ښځو او سړو اختلاط حرام دی او یو ډول یې دا هم دی، چې د وروڼو او خویندو له لویېدو سره سره هم د هغوی بستره یوه وي، په داسې حال کې، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی د بسترو د بېلولو حکم کړی دی.

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((کله چې مو د اوو کالو شول؛ نو د لمانځه حکم ورته وکړئ او که په لس کلنۍ کې هم لمونځ نه کاوه؛ نو ویې وهئ او د ویده کېدو بسترې یې سره بېلې کړئ.)) (ابوداود)

۲ـ په خپل کور کې نارینه نوکران او خادمان ګومارل، چې د کور ښځې ورسره په ازاده توګه لیدی راليدی شي.

۳ـ په کورکې ښځینه خادمانې ګمارل، په داسې حال کې، چې په کور کې ټول نارینه وي.

۴ـ د خاوند په نه موجودیت کې د هغه له خپلوانو او دوستانو سره لیدل.

۵ـ په تعلیمي ادارو کې د نجونو او هلکانو ګډ سره کیناستل او زده کړه

کول.

۶ـ په کارځای، روغتون، ودونو او نورو مراسمو کې د سړو او ښځو یوځای ښکته پورته کېدل.

۷ـ په کوم ځای کې د سړي او ښځې سره لیدل، که څه هم، چې د لنډې مودې لپاره وي، لکه د مریض پوښتنه کول او داسې نور.
(عودة الحجاب)

**کورونو ته له ننوتلو مخکې اجازه غوښتل:**

الله تعالی خپل بنده ګان پردیو کورونو ته له اجازې غوښتلو پرته له ننوتلو منعه کړي دي، الله تعالی فرمایي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ۝ فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤْذَنَ لَكُمْ ۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا ۖ هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ۝.))
(النور: ۲۸،۲۷)

ژباړه: ای مؤمنانو! له خپلو کورونو څخه پرته نورو کورونو ته تر هغه پورې مه ننوځئ ترڅو، چې اجازه ترلاسه نه کړئ او پر کورنۍ باندې سلام وانه چوئ، دا کړنلاره ستاسې لپاره ډېره ښه ده، ښايي، چې تاسې به دې ته پاملرنه وکړئ؛ نو که هلته مو څوک ونه مېندل؛ نو مه ننوځئ ترڅو، چې تاسې ته اجازه ونشي او که تاسې ته وویل شي، چې بېرته وګرځئ؛ نو بېرته لاړ شئ، دا ستاسې لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده او تاسې، چې څه کوئ، الله تعالی ورباندې ښه پوهېږي.

علامه سید قطب رحمه الله فرمايي: الله تعالی له دې امله کورونو ته بې اجازې ننوتل منعه کړي دي ترڅو پر کومه پردۍ ښځه نظر پرېنوځي، فتنه ترې پیدا نشي او سړی په عشق کې اخته نشي او همدا لومړنی نظر د ګناه سبب نشي. (في ظلال القرآن)

## يوولسم فصل

## د دوزخ اور

که څوک غواړي، چې له ګناهونو نه بچ شي؛ نو تر ټولو غوره علاج يې دا دی، چې د دوزخ د اور او سختو عذابونو په اړه فکر وکړي.

ای د الله تعالی بنده ګانو؛ د دوزخ اور ډېر سخت او ژوند يې نه ژوند دی او نه مرګ، بلکې داسې دی، چې په يادولو سره يې ماشوم هم سپين ږيری کېږي؛ نو څوک، چې ورتوځي، د هغه د حالت په اړه څه فکر کوې؟!

ای انسانه؛ خپل نفس دې د دوزخ له اوره ووېروه او په دې سره سمې لارې ته برابر کړه، ځکه د هغه خوند ګټه به څه وي، چې ژر له منځه ځي؛ خو سزا يې نه ختمېدونکې وي؟!

**د دوزخ د سختيو يادونه:**

امام غزالي رحمه الله فرمايي: ای له خپله ځانه غافله انسانه؛ د دنيا فکر پرېږده او د هغه ځای په اړه فکر وکړه، چې همېشنی ژوند به پکې تېروې او هغه ځای ته رسېدل څه اسانه خبره نه ده، ځکه هر انسان به د دوزخ پر اور باندې تېرېږي.

الله تعالی فرمايي:

((وَ اِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ۝ ثُمَّ نُنَجِّى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّ نَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ۝.)) (مريم: ٧١-٧٢)

ژباړه: له تاسې نه هېڅوک داسې نشته، چې دوزخ ته ورتلونکی نه وي، دا خو يوه فيصله شوې خبره ده، چې دهغې هرو مرو ترسره کول ستا د رب په ذمه دي. بيابه موږ هغه کسان وژغورو، چې (په دنيا کې) پرهيزګاران وو او ظالمان به په همغه کې پر ګونډو غورځېدلي پرېږدو.

## د دوزخ ژوروالی او ګرموالی:

ابوهریره رضي الله عنه فرمايي: موږ يو ځل له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست وو، چې يو اواز مو واورېد، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((ايا پوهېږئ، چې دا د څه شي اواز و؟))

موږ وويل: الله او رسول يې ښه پوهېږي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((دا د يوه ډبره ده، چې اويا کاله مخکې دوزخ ته ورغوځول شوې وه او اوس د هغې تل ته ورسېده.)) (مسلم)

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د دې ايت: ((فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِىْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ.))

ژباړه: له هغه اور نه ووېرېږئ، چې د هغه خس خاشاک به انسانان او کاڼي وي.

په تفسير کې فرمايي: دا به د تبريط (دا يو ډول ډبرې دي، چې ژر اور اخلي) ډبرې وي، چې الله تعالی د ځمکې او اسمان د پيدايښت پر مهال د کافرانو لپاره پيدا کړي دي.

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((ستاسې اور، دوزخ د اور اويايمه برخه ده.))

صحابه کرامو وويل: ای د الله رسوله! د دنيا اور بس نه و؟

ويې فرمايل: ((د دوزخ اور د دنيا له اور نه اويا درجې ډېر ګرم دی او هره درجه به يې د دنيا د اور په شان ګرمه وي.)) (بخاري)

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«دوزخ الله تعالی ته شکایت وکړ، چې زما یوې برخې زما بله برخه وخوړله؛ نو الله تعالی ورته د دوه اسوېلو د ویستلو اجازه ورکړه، یو په ژمي کې او بل په اوړي کې؛ نو له همدې امله تاسې یخني او ګرمي احساسوئ.» (بخاري)

**د دوزخیانو خوراک او څښاک:**

علامه سلیمان الاشقر رحمه الله فرمایي: د دوزخیانو خواړه به ازغي لرونکي بوټي او څښاک به یې وینې او زوې وي، الله تعالی فرمایي:

«﴿لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ۝ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ ۝﴾.» (الغاشیة: ۶-۷)

ژباړه: د اغزنو وچو خادونه پرته به هیڅ ډول خواړه د هغو لپاره نه وي، چې نه به پرې چاغېږي او نه به یې لوږه پرې ایسته کېږي.

ضریع: اغزنو وچو خادو ته وايي او په حجاز کې پیدا کېږي.

قتاده رحمه الله فرمایي: ضریع تر ټولو زیان رسوونکی خوراک دی، چې دوزخیانو ته به ورکړل کېږي؛ خو نه به ترې خوند اخلي او نه به ورته څه ګټه رسوي، بلکې دا به یو ډول عذاب وي. (الیوم الاخر)

**د زقوم ازغنه ونه:**

الله تعالی فرمایي:

«﴿إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ ۝ طَعَامُ الْأَثِيمِ ۝ كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ ۝ كَغَلْيِ الْحَمِيمِ ۝ خُذُوهُ فَاعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَاءِ الْجَحِيمِ ۝﴾.» (الدخان: ۴۳-۴۷)

ژباړه: د زقوم ونه به د ګنهکار خوراک وي، د تېلو د خیرې غوندې، په ګېډه کې به داسې وایشېږي، لکه خوټېدلې اوبه، چې ځوښ وهي، (وبه ویل شي) دی ونیسئ او په رسوایۍ سره یې د دوزخ منځ ته راکاږئ.

بل ځای فرمایي:

«﴿إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ۝ طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ ۝ فَإِنَّهُمْ

لَاٰكِلُوْنَ مِنْهَا فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ۝ ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ ۝ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ ۝.)) (الصافات: ۶۳-۶۷)

ژباړه: هغه يوه ونه ده، چې د دوزخ له تل نه را وځي. د هغې غوټۍ داسې دي لکه دشيطانانو سرونه، دوزخيان به هغه وخوري اوله هماغې نه به خپلې ګېډې ډکې کړي، بيا به د هغې دپاسه د ځنبلو لپاره هغو ته خوټېدلې اوبه ورکړای شي. او له هغه وروسته به د هغو ورستنېدل هماغه د دوزخ د اور خوا ته وي.

علامه عمر سليمان الاشقر رحمه الله فرمايي: له دې مبارکو ايتونو نه معلومه شوه، چې زقوم يوه ډېره غټه ونه ده، چې بېخونه به يې د دوزخ په تل کې وي او مېوه به يې ډېره بد شکله وي.

دوزخيان چې کله د لوږې احساس وکړي؛ نو له دې پرته به بله چاره نه لري، چې له همدې ونې نه خوراک وکړي او په هر ډول چې کېږي، بايد تېر يې کړي؛ خو کله يې چې له ستوني تېر شي، په ګېډه کې به يې اور بل شي او له همدې امله به د اوبو غوښتنه وکړي؛ نو د اوبو پرځای به د دوزخيانو وينې او زوې ورکړل شي، چې دوی به يې د تږې اوښ په څېر په يوه ساه په سر را واړوي او کله يې چې ګېډې ته ورسېږي، د ډېر ګرموالي له امله به يې کولمې ورسره لاندې پرېوځي، الله تعالی فرمايي:

((وَسُقُوْا مَاۤءً حَمِيْمًا فَقَطَّعَ اَمْعَاۤءَهُمْ ۝.)) (محمد: ۱۵)

ژباړه: او په هغو باندې به داسې ګرمې اوبه ځنبلی شي، چې دهغو کولمې به غوټې غوټې کړي.

دا ده د قيامت پر ورځ د دوزخيانو مېلمستيا، له الله تعالی نه غواړو، چې موږ ته ترې پناه راکړي.

## دولسم فصل

### د جنت نعمتونه

که ګنهکارانو ته دا خبره معلومه شي، چې د سترګو او شرم ځای په حفاظت سره د جنت نعمتونه ترلاسه کېږي؛ نو حتما به يې حفاظت وکړي.

د جنت نعمتونه د دنيا له نعمتونو سره نشي پرتله کېدای، ځکه هغه د داسې صفاتو لرونکی دی، چې نه سترګو ليدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د کوم بنده زړه د هغې تصور کولای شي. د جنت شهوت د دنيا د شهوت په څېر ناولی نه دی، ځکه د دنيوي شهوت له پوره کولو وروسته سړی غمجن او په وېره کې وي.

جنت بې سارې نعمت او تلپاتې نعمت دی:

له سهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه نه روايت دی، چې يو ځل د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مجلس کې ناست وم، چې د جنت يادونه يې وکړه او په پای کې يې وفرمايل:

((فيها ما لا عين رأت، ولا اذن سمعت، ولا خطر علی قلب بشر.))

ژباړه: په جنت کې داسې نعمتونه او خوندونه دي، چې سترګو لا نه دي ليدلي، غوږونو يې په اړه څه نه دي اورېدلي او د هيڅ بنده زړه يې تصور نشي کولای. له دې وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ايت تلاوت کړ:

((تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ۞ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۞.))

(السجدة: ۱۶-۱۷)

ژباړه: اړخونه يې له بستروشخه بېل وي، خپل رب ته له وېرې او هيلې سره خپله غوښتنه وړاندې کوي. او څه روزي، چې موږ هغو ته ورکړې

ده، له هغې نه لګښت کوي؛ نو د سترګو یخېدو کوم وسائل، چې د هغو د عملونو په مکافات کې د هغو لپاره پټ کړای شوي دي، هیڅ نفس پرې خبر نه دی.

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((ان في الجنة لشجرة يسير الراكب في ظلها مائة سنة.))

ژباړه: په جنت کې داسې یوه ونه هم شته، چې که یو سپور یې تر سیوري لاندې سل کاله مزل هم وکړي، بیا یې هم سیوری نه خلاصیږي. (مسلم)

**دنیا د اخرت پر وړاندې د یوې ذرې په اندازه هم ارزښت نه لري:**

امام ابن حجر رحمه الله فرمایي: معلومه خبره ده، چې د دنیا ټول نعمتونه او خوندونه د جنت د نعمتونو پر وړاندې د یوې ذرې په اندازه هم ارزښت نه لري او نه ورسره برابرېدای شي او چا ته، چې په جنت کې د یوې امسا په اندازه ځای ترلاسه شي؛ نو ګواکې، چې ټوله دنیا ورکړل شوې ده او چا ته، چې په جنت کې اعلی مقام ترلاسه شي، د هغې نو بیا بېل خوند دی. (فتح الباري)

امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: د هغه کور د ښکلا او لویوالي اندازه به څرنګه وشي، چې الله تعالی په خپل لاس خپلو دوستانو ته جوړ کړی او د هغې ونې یې په خپل لاس کېنولي دي؟

هغه کور، چې له خپل رحمت، کرامت او رضاء نه یې ډک کړی دی، د هغې نعمتونو ته یې لویه کامیابي ویلې او په هغې کې هر ډول خیر موجود او له هر ډول شر او بدۍ نه پاک دی. (حادي الارواح)

**د جنتیانو خوراک څښاک:**

الله تعالی فرمایي:

((وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ۝ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ۝.)) (الواقعة: ۲۰-۲۱)

ژباړه: او د هغو مخې ته به راز راز خوندورې میوې وړاندې کوي؛ چې کومې یې خوښې وي غوره یې کړي او د مرغانو غوښې به ورته وړاندې کوي، چې د کوم مارغه یې خوښه وي، استعمال یې کړي.

بیا فرمایي:

((يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ ۖ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ ۖ وَأَنتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ۝.)) (الزخرف: ۷۱)

ژباړه: د هغو په مخکې به د سرو زرو ګیلاسونه او جیکونه ګرځول کیږي، او هر زړه خو ښوونکی او سترګې خوږوونکی شی به هلته موجود وي. دوی ته به وویل شي تاسې به اوس دلته د تل لپاره اوسیږئ.

او په یو بل ځای کې فرمایي:

((كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ ۝.)) (الحاقة: ۲۴)

ژباړه: (دغه راز خلکو ته به وویل شي، په خوند سره خورئ څښئ د خپلو هغو کړنو مکافات، چې تاسې په تېرو شوو ورځو کې کړي دي.

**کافور لرونکي شراب:**

الله تعالی فرمایي:

((إِنَّ الْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ۝ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ۝.)) (الانسان: ۵-۶)

ژباړه: ښه خلک، به (په جنت کې) د شرابو داسې جامونه څښي، چې په هغو کې به د کافور اوبه ګډې شوې وي. دا به یوه بهېدونکې چینه وي چې د الله تعالی بندګان به یې اوبه څښي او کوم لوري ته یې، چې زړه

وي، په اسانۍ سره به د هغې لختی باسي او بهوي به یې.
بل ځای فرمایي:
((وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴿١٧﴾ عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ﴿١٨﴾.))
(الانسان: ۱۷ـ۱۸)
ژباړه: په هغو به هلته د شرابو داسې جامونه وڅښل شي، چې سونډ به پکې ګډ شوي وي. دا به د جنت یوه چینه وی، چې سلسبیل ورته ویل کېږي.
بیا فرمایي:
((وَمِزَاجُهُ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾.)) (المطففین: ۲۷،۲۸)
ژباړه: او په دې شرابو کې به تسنیم ګډوي. دا یوه چینه ده، چې د هغې له اوبو سره مقرب خلک شراب څښي.

**د جنتیانو حال:**

له جابر رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((بېشکه جنتیان به خوري او څښي؛ خو نه به لاړې تو کوي، نه به ورته د بولو حاجت پیدا کېږي او نه به خپله پوزه له ګندګۍ نه پاکوي.))
صحابه کرامو وویل: نو دا خوراک او څښاک به چېرته ځي؟
ویې فرمایل: ((ارګمی او اسوېلی به کوي او اسوېلی به یې د مشکو په شان خوشبویه وي، هغوی ته به د سبحان الله او الحمدلله ویلو الهام کېږي، لکه څرنګه چې ورته په دنیا کې د تنفس کولو الهام شوی دی او په دې سره به یې خوراک او څښاک هضمېږي.)) (مسلم)
له انس رضي الله عنه نه روایت دی، چې یو چا له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د حوض کوثر په اړه پوښتنه وکړه؛ نو ویې وفرمایل:
((دا یو داسې نهر دی، چې الله تعالی راته په جنت کې راکړی دی، او به

يې له شيدو نه ډېرې سپينې او له شهدو نه ډېرې خوږې دي او په هغې کې مرغۍ هم شته، چې غاړې به يې لکه د اوښ د غاړې په شان وي.»
(ترمذي)

**د ټولو ادنى جنتي مقام:**

له مغيره بن شعبه رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«موسى عليه السلام له الله تعالى نه پوښتنه وکړه، چې د ادنى جنتي مقام به څه وي؟ الله تعالى وفرمايل: ‹کله چې ټول جنتيان جنت ته داخل شي؛ نو يو سړی به راوړل شي او ورته به وويل شي، چې ته هم جنت ته ننوځه، هغه به ووايي: ای زما ربه! زه څنګه ورننوځم په داسې حال کې، چې هر چا خپل خپل ځای نيولی دی؟›

نو الله تعالى به ورته وفرمايي: ‹ايا پر دې خبره راضي کېږې، چې د دنيا په اندازه بادشاهي درکړم؟› هغه به ووايي: هو، راضي کېږم؛ نو وبه ويل شي: ستا لپاره د دنيا د لس چندې بادشاهۍ په اندازه جنت درکول کېږي او څه، چې دې زړه غواړي، هغه به هم درکړل شي او سترګې به دې پرې يخې شي.› نو هغه سړی به ووايي: ای الله! زه راضي يم.»
(مسلم)

**غټې سترګې لرونکې حورې:**

الله تعالى فرمايي:

«وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾.»
(الواقعة: ۲۲-۲۴)

ژباړه: او د هغو لپاره به د ښايسته سترګو خاوندانې حورې وي، داسې ښکلې لکه پټې ساتل شوې ملغلرې، دا هر څه به د هغو عملونو د مکافات په ډول هغو ته ورکړل شي، چې هغوی په دنيا کې کول.

بل ځای فرمايي:

((إِنَّا أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَاءً ۝ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ۝ عُرُبًا أَتْرَابًا ۝ لِّأَصْحَابِ الْيَمِينِ ۝.))
(الواقعة: ۳۵-۳۸)

ژباړه: د هغو مېرمنې به موږ په ځانګړي ډول بيا له سره پيدا کړو او هغوی به پېغلې وګرځوو، د خپلو مېړونو عاشقانې او په عمر کې همزولې، دا هر څه د ښي لاسونو د خاوندانو لپاره دي.

بيا فرمايي:

((حُورٌ مَّقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ ۝ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ۝.)) (الرحمن: ۷۲-۷۴)

ژباړه: په خېمو کې دېره شوې حورې، تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ وګڼئ؟ له دغو جنتيانو څخه مخکې به هېڅکله کوم انسان يا پيری هغوی نه وي مسه کړې.

((وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ۝.)) (النبا)

ژباړه: او نوې پېغلې همځولې نجونې.

((وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ.)) (ال عمران: ۱۵)

ژباړه: سپېڅلې مېرمنې به يې ملکرې وي.

ابن کثير رحمه الله فرمايي: دا ښځې به له خپلو ملګرو نه پرته نورو سرو ته له ميلان ، بد اخلاقۍ، ګندګۍ او حيض او نفاس نه پاکې وي.
(تفسير القران العظيم)

**د دنيا ښکلې ښځې هېڅ هم نه دي:**

له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((که د جنت يوه ښځه دنيا ته را ښکاره شي؛ نو د ځمکې او اسمان ترمنځ به روښنايي خپره شي او له خوشبوی نه به ډک شي او د جنتي ښځې څادر له ټولې دنيا نه او له هغه څه نه، چې په کې دي، غوره

دی.)) (بخاري)

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((جنت ته، چې تر ټولو لومړی کومه ډله داخلیږي، د هغوی مخونه به د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان ځلیږي او کوم چې له هغوی نه وروسته ورننوځي، مخونه به یې په اسمان کې د ډیرځلیدونکو ستورو په شان وي او د هر جنتي لپاره به دوه بیبیانې وي او د هغوی د سینې هډوکي به تر غوښو هاخوا هم ښکاریږي او په جنت کې به هیڅ سړی هم بې ښځې نه وي.)) (مسلم)

امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: په جنت کې به له دوو ښځو نه ډیرې هم سړي ته ورکول کیږي، لکه د عبدالله بن قیس رضي الله عنه په روایت کې راځي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((د مؤمن لپاره به په جنت کې د ملغلرو یوه خیمه وي، چې اوږوالی به یې اووه میله وي او په هغې کې به د جنتي سړي ښځې اوري را اوري؛ خو یوه او بله به د پردې له وجې نشي لیدلی.)) (حادي الارواح)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي: له دې حدیث نه معلومه شوه، چې د هر جنتي سړي لپاره به په جنت کې دوه بیبیانې خامخا وي.

له انس رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((حور عین (غټ سترګې حورې) به په جنت کې داسې سندرې وایي:

نحن الحور الحسان

خبئنا لازواج کرام

ژباړه: موږ ښایسته حورې یو او د عزتمندو خاوندانو لپاره غوره شوي یو.))

ابن القيم رحمه الله فرمايي: د جنت حورې به پېغلې او يو د بل همزولې وي، د هغوی د بدن د غړو اوبه به داسې ښکاري ته به وايې، چې لمر د هغوی پرمخ باندې وړانګې شيندي، کله چې وخاندي، له غاښونو نه به يې يو نور را وځي، کله چې له خپل عاشق سره خبرې کوي؛ نو څه دې خيال دی، چې څنګه خبرې به ورسره کوي؟ او کله چې يې له خپلې سينې سره جوخت کړي؛ نو څه وايې، چې سرې به څه ډول خوند ترې اخلي؟!!

ـ تمت بالخير ـ


مسنون او مستند
دورځني ژوند اذکار او دعاګانې
لیکوال:
قاري سطیع الله (هدایت وردګ)
عقیده د څلورو امامانو
د تاریخ اتلان
د علم او حکمت ویناوې
زړه
خپرندویه ټولنه
روغانیوال
اسحاق زی مارکیټ، لاندینی پوړ
جلال اباد ښار افغانستان
۰۷۷۶۷۶۴۳۷۰
۰۷۹۴۰۰۴۰۲۹